# د میدان فرهنګي حوزه

Ketabton.com

محمد ایمل ابراهیم خېل

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل پوهنتون

ژبو او ادبیاتو پوهنځی

پښتو څانګه

# د میدان فرهنګي حوزه

(د ماسترۍ تېزس)

لیکوال:

**محمدایمل ابراهیم خېل**

**۱۳۹۴ کال**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: د میدان فرهنګي حوزه

لیکــوال: محمد ایمل ابراهیم خېل

خپرندی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنګي څانګه

وېبپاڼه: www.melitahrik.com

ډیزاینګر: ضیاء ساپی

پښتی ډیزاین: فیاض حمید

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۷۲)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مطالبو فهرست

**سرليك** **مخگڼه**

سريزه............................................................................................................................................١
د موضوع اهميت او ارزښت..........................................................................................................٦
د موضوع مخينه...........................................................................................................................٨
د څېړنې مېتود...........................................................................................................................١١
**لومړی**- د ميدان وردگو ولايت جغرافياوي موقعيت ..............................................................١٣
کانونه ..........................................................................................................................................١۴
د ميدان وردگو ولايت کی د فرهنگی هڅو تاريخی شاليد (پس منظر)..........................................١٥
د ميدان وردگو ولايت اداري شاليد ته لنډه کتنه..........................................................................١٦
په بېلا بېلو دورو کې د دې ولايت واليان.......................................................................................١٨
دويم- تاريخی ځايونه.....................................................................................................................١٩
د الغتا لرغونې نښې.......................................................................................................................١٩
دريم – دودونه او رواجونه...........................................................................................................٢٣
څلورم- ادبي ، فرهنگي او علمي ټولنې.......................................................................................٣١
پنځم .ليکنيزې ، غږيزې او انځوريزې رسنۍ.............................................................................٣٧
الف: چاپي يا ليکنيزې رسنۍ .....................................................................................................٣٧
ب: غږيزې رسنۍ: .........................................................................................................٤٣

(c) ketabton.com: The Digital Library

ج: تصويري رسنې ........................................................................................... ۴۶

شپږم- د مشاعرې تاريخي پس منظر ته لنډه کتنه................................................................ ۴۷

پښتو ادب او مشاعرې:.............................................................................................. ۴۹

د پښتو مراکز او مشاعرې:.......................................................................................... ۵۷

منې ګل د لومړنۍ مشاعرې راپورتاژ ............................................................................ ۶۸

اووم- ادبي ، فرهنګي او علمي چاپ شوي اثار.................................................................. ۷۴

اتم- د ميدان سيمې ادبي او فرهنګي فعالين...................................................................... ۹۱

مناقشه.................................................................................................................. ۱۵۹

پايله.................................................................................................................... ۱۶۱

پای پايله.............................................................................................................. ۱۶۴

وړانديزونه............................................................................................................ ۱۶۷

ماخذونه ............................................................................................................. ۱۷۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سر خبرې

هر پوهنیز چوکاټ او اکاډمیکه موسسه ځان ته ځانګړې ځانګړنې او مقررات لري ، زده کوونکي او محصل ته بویه ، چې دا لایحه او مقرارت په پام کې ونیسي او د همغې پر بنسټ پر مخ ولاړ شي ، خو په ټولیزه توګه بیا یوه نړیواله قاعده لري ، چې کابو په ټولو هېوادونو کې یو ډول ده ، البته کېدای شي چې د کار په روشونو کې یې بدلون وي ، خو په ټولیزه توګه نړیوال مېتودونه په ټولو علمي او اکاډمیکو موسسو کې یو شی دي.

هر کله چې محصل له پوهنتون څخه فارغ شي ، د مونوګراف په نوم یوه رساله لیکي ، چې له معمول سره سم زیاته تحقیقي بڼه نه لري ، له هغه وروسته که یو څوک غواړي په اړونده څانګه کې زیات معلومات ترلاسه کړي ، متخصص شي ، نو باید د ماسترۍ تر نوم لاندې پروګرام کې برخه واخلي ، تر فراغت وروسته باید یوه تحقیقي رساله ، چې تېزس ورته ویل کیږي ، ولیکي.

کله چې موږ د ماسترۍ زده کړو په اخري سمستر کې و ، نو هر محصل هڅه کوله ، ترڅو د څېړنې لپاره یوه موضوع ځان ته غوره کړي. ما هم دغه سوچونه کول ، ترڅو داسې یوه موضوع غوره کړم ، چې هم نوښت ولري ، د ټولنې لپاره اغېزمنه ، په زړه پورې او ګټوره وي ، ترڅو د هغو څېړونکو لپاره چې غواړي په یاده موضوع کې پلټنه وکړي ، یو څرک لګېدلی وي.

کله چې ما غوښتل (د میدان وردګو فرهنګي حوزې) تر عنوان لاندې موضوع ځان ته غوره کړم ، له ګران استاد څېړنپوه زلمي هېوادمل سره مې دغه موضوع شریکه کړه ، هغه سمدلاسه راته وویل: "خپله غوښتنلیک زر تر زره د ماسترۍ بورډ ته وسپاره ، چې ډېره ښه او نوې موضوع دې غوره کړې ده".

د غوښتنلیک له سپارلو څو ورځې وروسته د ژبو او ابیاتو پوهنځي مشر پوهندوی عبدالکبیر نظامي راته وویل ، چې ستا موضوع تایید شوې ، خو په لږ بدلون سره چې ته یوازې د میدان پر فرهنګي حوزه کار وکړه او د وردګو حوزه ستا اړونده نه ده. بیا یې راغبرګه کړه ، چې کولی شې خپل کار پیل کړې.

په دغه وخت کې مې له لارښود استاد پوهنوال محمدرفیق رفیق سره هم سلا وکړه ، په ډېر ورین تندي یې زما غوښتنه ومنله او د موضوع په هکله یې څه ناڅه لومړني معلومات راکړل ، چې له کوم ځای څخه یې شروع وکړم. نو د موضوع په اړه مې خپل کار له هغو لیکوالو څخه پیل کړ ، کوم چې له هېواده بهر اوسېږي ، خو دغه کار زما لپاره ډېر ستونزمن و ، ځکه چې ځیني وخت له داسې اشخاصو سره هم مخامخ شویی یم ، چې د خپل ورور پته او د تیلیفون شمېره یې هم نه درلودله ، خو بیا هم هرکله که یو څوک وغواړي ، نو ډېر ناممکن هم شوني کولی شي ، خو چې څه له صبر څخه کار واخلي او خپل هوډ له لاسه ور نه کړي ، بیا د ژوند له ستونزو سره مبارزه کولی شي او هم خپل هدف لاس ته راوړلی شي.

په هر صورت ما هم خپل کار له ملګرو سره له اړیکو نیولو او له ډېرو منډو ترړو ، له زیاتو دروازو ټکولو څخه وروسته مې کار پیل کړ ،چې دادی تر دغه ځای پورې مې ورساوه. ښایي زما دغه څېړنه نیمګړتیاوې ولري ، خو ویلی شم چې زما دغه ګام به د نورو لپاره د رڼا یو څرک شي ، هغوی به په کې مشعلونه او ډېوې بلې کړي او خپله ټولنه په ځانګړې توګه میدان مېشت به له تورتم حالت څخه د روښانتیا په لور وهڅوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندې تردې چې خپلو خبرو ته د پای ټکی کېږدم ، اړینه بولم ، له هغو ټولو درنو استادانو او ملګرو څخه د زړه له کومې مننه وکړم ، چې د دې اثر په ليکلو کې يې په يو ډول نه يو ډول ماته د مرستې لاس را اوږد کړی او زه يې د خپلو نيکو اخلاقو منندوی کړی يم.

په سر کې له خپل درانه لارښود استاد پوهنوال مُحَمَّدرفيق رفيق څخه مننه کوم ، چې د دې پروژې پانه ، پانه او کرښه کرښه يې لوستې او هره برخه کې يې راته ښې علمي او څېړنيزې لارښوونې کړې دي. سره له دې چې ما به د کار په جريان کې ډېرې پوښتنې کولې او ټېلفونونه مې ورته کول ، خو ده به په خندا او نرمۍ سره لارښوونې راته کولې ، چې زه يې د احسان او منني لپاره الفاظ نه لرم.

- له څېړنوال سيدمحی الدين هاشمي څخه مننه کوم ، چې وخت ناوخت يې راسره د کتابونو د راکولو مرسته کړې او هر وخت به يې را ته زما د مطلوبو ليکوالو په اړه معلومات او پتې راکولې.
- د څېړوندوی مُحَمَّداصف احمدزي کور دې ودان وي ، چې له ما سره يې د دغه تېزس د ايډېټ او تصحيح په برخه کې له حده زياته مرسته کړې ده.
- له څېړوندوی سيدنظيم سيدي څخه يوه نړۍ مننه کوم ، چې خپله ښه سلاح او مشوره يې له ما سره شريکه کړه.
- د ميدان وردګو ولايت مقام له پخواني ولسوال ښاغلي ادم خان سيرت څخه يوه نړۍ مننه کوم ، چې له ما سره يې د موادو په هکله نه هېرودونکې مرستې کړې.
- له شاعر او ليکوال همت الله امين زي څخه مننه کوم ، چې له ما سره يې د ليکوالو او شاعرانو په برخه کې د مرستې لاس راغځولی دی.

په پای کې له استاد شرف الدين عظيمي ، فيض الله تراب ، ډاکټر ايمل موحد ، ډګروال مُحَمَّدحکيم ، مُحَمَّدذاکر ذکي ، لينا شريفي ، وحيدې ښکلې او له ټولو هغو درنو استادانو او يارانو څخه غرونه غرونه مننه ، چې په يوه بڼه نه يوه بڼه يې له ما سره د دې څېړنيز کار په بشپړتيا کې مرسته کړې او زه يې يوازې نه يم پرېښی ، د ټولو دې کور ودان وي او سوکاله ژوند دې ولري.

په پای کې بايد دا يادونه هم وکړم ، چې ما د امکان تر بريده کوښښ کړی چې د ميدان فرهنګي حوزې ليکوالان او شاعران معرفي کړم ، خو له زياتو هڅو سره سره بيا هم که له ما څخه د ځينو هغو يادونه پاتې شوې وي ، له ټولو بښنه غواړم او له لوستونکو هيله لرم ، که د کوم ليکوال يا شاعر په اړه معلومات ورسره وي ، له ما سره دې يې شريک کړي او په دې برخه کې دې له ما څخه خپلې معنوي مرستې ونه سپموي ، څو په راتلونکې کې ورته پام وکړم.

په درنښت

مُحَمَّد ايمل ابراهيم خېل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لنډيز

په میدان ښار کې د اوسني تاوده او چټک ادبي یون پیل په افغانستان کې د اوسنیو مثبتو سیاسي بدلونونو ور اخوا د طالبانو د واکمنۍ پر مهال شوی دی ،خو په اوسنیو انتقالي او انتخابي دورو کې يې د پام وړ وده او پرمختګ کړی دی.

په افغانستان کې د اوسني اسلامي انتقالي دولت له راتګ وړاندې د طالبانو د واکمنۍ پرمهال د پېښور ، کابل ، ننګرهار ، لویې پکتیا ، کندهار او نورو پښتنو سیمو له لیکوالو او فرهنګیانو سره د میدان ښار د یو شمېر ادبي او فرهنګي مخورو اړیکي ، راشه درشه او سلا مشورې ، د دې لامل شوي ، څو د دغې سیمې نوي او ځوان لوستي نسل ته فرهنګي او ادبي توکي او اثار او همداراز په دې برخه کې قوي روحیه او علاقه ولېږدېږي.

د منې ګل مشاعره چې د لومړي ځل لپاره په ۱۳۷۸ هجري لمریز کې د میدان وردګو ولایت د چک په ولسوالۍ کې د یو شمېر هېوادپالو ځوانانو په نوښت د هغه د بنسټ ډېره ایښودل شوې ده ، هر کال د دې ولایت په مختلفو سیمو کې جوړېږي. د منې ګل مشاعره چې نوم يې د منو د بڼونو او د سیمې له ښکلا سره نه بېلېدونکی تړاو لري چې د دې ولایت د سمسورې سیمې او ښکلاوو څرګندونه کوي ، شاعران ، ادیبان ، لیکوالان او پوهان بیا د قلم په ژبه د دې ښایستونو بڼ ته نوی رنګ ورکوي.

د منې ګل مشاعره د وخت په تېرېدو سره ورو ورو د ولسوالۍ له کچې څخه د ولایت مرکز ته د فرهنګپال شخصیت ښاغلی عبدالجبار نعمی د واکمنۍ په مهال او له هغه وروسته د ولایت له سطحې څخه د هېواد او سیمې کچې ته خپل حضور لوړ کړ ، چې د هېواد له ګوټ ګوټ څخه د سږ کال مشاعرې ته د زرګونو لیکوالانو ، شاعرانو ، ادیبانو ، پوهانو ، حکومتي چارواکو ، محصلینو ، زده کوونکو ، قومي مشرانو ، بزګرانو او عامو وګړو سربېره د نړیوالې ټولنې ځینو استازو راتګ د دې ادعا د غوره ثبوت د پخلي تر ټولو ښه نښه ده. د منې ګل مشاعرې اوسمهال یوه روښانه بین الافغاني بڼه خپله کړې ده ، چې د دغه ستر کلتوري بري له کبله د منې ګل ټولو لارویانو ، د میدان وردګو د ولایت اوسېدونکو ، د ولایت حکومتي چارواکو او ټول افغان ولس ته د زړه له کومې مبارکي وایو.

په میدان ښار کې د مشاعرو جوړېدل ، د ولایت مقام له خوا د یو شمېر کتابونو چاپول ، د خالد بن ولید ادبي ټولنې رامنځته کېدل ، د ډاکټر عبدالوکیل د فرهنګي ټولنې جوړېدل ، عامه ګالري ، د مطبعې او عامه کتابتون جوړېدل ، د دولتي راډیو د خپرونو پیل ، همدا شان د میدان وردګو ولایت مقام د هغه مهال د اطلاعاتو او کلتور ریاست له خوا د ویښ په نوم د یوې ټولنیزې ، ادبي او علمي مجلې خپرېدل او هم د ولایت د مقام ریاست له خوا د میدان وردګو مېشتو شاعرانو او لیکوالو راغونډونه او هڅونه ، هغه څه دي چې په یاده سیمه کې د اسلامي انتقالي دولت له پیل سره سم ، رامنځته شوي او ترسره شوي دي.

له دې مهاله راوروسته په اوسنیو انتقالي او انتخابي دورو کې چې نږدې یوه لسیزه موده راچاپېروي ، په نومورې سیمه کې په تدریجي توګه د چاپي ، غږیزو او تصویري رسنیو ، ادبي- فرهنګي- علمي ټولنو او غونډو ، چاپي اثارو او همداراز ادبي-فرهنګي ، سیاسي ، مشاعرو جوړېدل ، اشخاصو او فعالیتونو ډېرښت ، ښه والی او وده موندلې ده او د پرمختګ په حال کې وړاندې ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا مهال په یاده سیمه کې د میدان پر سیمه ییز ټلویزیون او د تجلا پر شخصي ټلویزیون سربېره ، چې خپروني یې په ولایت کې رڼې لیدل کېږي ، د افغانستان د ملي ټلویزیون ، شمشاد ، آریانا او کابل نیوز ټلویزیونونو سیمه ییزې دستګاوې هم فعالیت کوي. همدا شان د میدان وردګو د دولتي راډیو په ګډون ، د تجلا غږ ، ځوان غږ ، ډیوې او سولې پیغام ، پرون او د میوند غږ په نوم شخصي راډیوګانې هم په ورځنۍ توګه په زړه پورې خپروني لري.

په دغې سیمه کې په لیکنۍ او چاپي برخه کې هم د میدان وردګو د دولتي مجلې بدلون ، د پوهنې ریاست ښوونیزې مجلې ، عهد خپلواکې مجلې ، د شورا ورځپاڼې او له پنځه ویشتو څخه د زیاتو اونیزو او مهالنیو جریدو یادونه کولای شو.

دا چې اوسمهال په دې سیمه کې کومه چاپي مطبعه موجوده نه ده ، نو د چاپي اثارو او مجلو چاپ د کابل ښار په خصوصي مطبعو کې پر مخ وړل کېږي.

همدا شان اوس دغې سیمې د ټولنو په جوړېدو کې هم د پام وړ پرمختګ کړی دی ، چې د میدان ځوانانو ادبي ټولنه ، د وکیل نورعلم خان د فرهنګیانو خپلواکه فرهنګي ټولنه ، د علم کاروان کلتوري ټولنه ، د خالد بن ولید خپلواکه فرهنګي ټولنه ، د افغان سید جمال الدین علمي مرکز په جلرېز ولسوالۍ کې او یو شمېر نورې یې د مهمو ټولنو په توګه یادولی شو.

همداراز په دې سیمه کې اوس له لوی مرکزي کتابتون سربېره ، چې د لس زرو ټوکو په شاوخوا کې د بېلابېلو کتابونو لرونکی دی ، د میدان ښار اړوندو ښوونځیو ترڅنګ د ولسوالیو په ښوونځیو او ادبي ټولنو کې هم په لسګونو کتابتونونه شته ، چې شتون یې ډېری ځوانان د کتاب لوستنې او مطالعې ته هڅولي دي.

د یادونې وړ ده ، چې په دې وروستیو کې په میدان ښار کې پر نورو ادبي ، فرهنګي او ژورنالستیکو لاسته راوړنو سربېره د تاریخي اثارو یو موزیم هم جوړ شوی ، چې په لسګونو اثار په کې د خلکو په همکارۍ ځای پر ځای شوي دي او هره ورځ په لسګونو کسان ورڅخه په پوره لېوالتیا لیدنه کوي. نوموړی موزیم د اسلامي توکو ، لرغونو توکو ، د سیمې د پخوانیو کارول شوو توکو او لاسي صنایعو د څلورو جلا جلا برخو لرونکی او د لرغونو زمانو په تاریخي او کلتوري میراث پورې تړاو لري. همدارنګه یوه عامه ګالري هم شتون لري ، چې د مولوي عبدالرب په نوم شهرت لري ، په لسګونو ډول ، ډول قلمي او انځوریز اثار د دغه ولایت له اړوندو سیمو څخه راټول شوي او په کې خوندي شوي دي.

د میدان وردګو فرهنګپال خلک همداراز د سینما او تیاتر په برخه کې هم له چا کم نه دي ، دغه سیمه زیات شمېر ممثلین لري ، اوس په کې دوه تیاترونه چې یو یې دولتي او بل یې په نادولتي توګه فعالیت کوي ، شتون لري.

په دې وروستیو کې چې د افغانستان د ۲۹ ولایتونو د ممثلینو ګډ فیسټیوال جوړ شوی و ، میدان وردګو په کې پنځم مقام ترلاسه کړ.

په دغې سیمه کې د علم او پوهې په برخه کې هم ډېر څه شوي دي ، د میدان وردګو پر دولتي دارالمعلمین سربېره ، چې په عصري وسایلو او نوې ټکنالوژۍ سمبال دی ، یو شخصي پوهنتون هم جوړ شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي ، چې په لس ګونو محصلین په کې په زده کړو بوخت دي او د تکړه مسلکي استادانو له خوا يې تدريسي چارې پرمخ وړل کېږي. د یادونې وړ ده ، چې د دې ولایت له پاره به په راتلونکی کال (۱۳۹۳لمریز) یو دولتي پوهنتون هم په کار پیل وکړي.

په دې سربېره په ټولیزه توګه په دغې سیمه کې اوسمهال د بېلابېلو ژبو او معلوماتي ټکنالوژۍ او نورو مسلکي کورسونو او مرکزونو ترڅنګ د عبدالله عزام په نوم دارالعلوم ، د حضرت ابوبکر الصدیق دارالعلوم ، د داکټر عبدالوکیل کرنې عالي انسټیټوټ ،د چک د برېښنا انسټیټوټ ، اداري او سوداګرۍ انسټیټوټ ، شپږ تخنیکي لېسې ، ۱۶ لويې رسمي ديني مدرسې ، پنځه دارالحفاظونه ، ۱۰۳ عالي لېسې ، ۹۷متوسطه ښوونځي ، ۱۴۱ لومړني ښوونځي شتون لري ، چې په سلګونو زره زده کوونکي په کې په زده کړو بوخت دي.

په دغې سیمه کې اوس د شاعرانو او لیکوالو شمېر په حیرانوونکې توګه زیات شوی او د لا ډېرېدو په حال کې دی. د دغو لیکوالو له خوا په اړونده سیمه کې په لسګونو بېلابېل ادبي ، فرهنګي او ټولنیز اثار لیکل شوي ، چې یو شمېر يې د نورو له خوا او ډېر شمېر يې د لیکوالو په شخصي مالي لګښت چاپ شوي دي.

د دغو لیکوالو له خوا په زړه پورې او ګټورې ادبي او فرهنګي ناستې او مشاعرې جوړېږي. د یادولو ده ، چې په دې وروستیو کې د میدان وردګو د مېشتو لیکوالو او فرهنګیانو له خوا وخت ناوخته پر ازادو مشاعرو سربېره د پښتو د ادبي او فرهنګي ډګر د پراختیا په موخه په یاد سیمه کې هر کال د منې ګل په نوم یوه ستره مشاعره جوړېږي ، چې له هېواد سربېره د پښتونخوا سیمو شاعران او لیکوال هم په کې ګډون کوي او د منې ګل په اړه په کې خپلې ترتیب کړې مقالې ، شعرونه او لیکنې حاضرینو ته وړاندې کوي. همدا رنګه هر کال یو زیات شمېر کتابونه په هم دغه ویاړ د چاپ په ګاڼه سمبالېږي چې دا خورا لوی فرهنګي خدمت دی.

د پایلې په توګه باید ووایو ، چې پورتنۍ یادې شوې برخې هغه څه دي ، چې موږ يې د دغې سیمې د ادبي او فرهنګي حالت د څېړنې په برخه کې اړین ګڼو او د دې کتاب د بحث او څېړنې عمده موضوع ده ، چې په راتلونکو برخو کې به په تفصیل سره وړاندې خبرې وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مطالبو فهرست


| سرليك | مخگڼه |
| --- | --- |
| د سر خبرې | ا |
| لنډيز | ج |
| سريزه | ۱ |
| د موضوع اهميت او ارزښت | ۶ |
| د موضوع مخينه | ۸ |
| د څېړنې مېتود | ۱۱ |
| **لومړی**- د ميدان وردگو ولايت جغرافياوي موقعيت | ۱۳ |
| کانونه | ۱۴ |
| د ميدان وردگو ولايت کی د فرهنگی هڅو تاريخی شاليد (پس منظر) | ۱۴ |
| د ميدان وردگو ولايت اداري شاليد ته لنډه کتنه | ۱۵ |
| په بېلا بېلو دورو کې د دې ولايت واليان | ۱۷ |
| دويم- تاريخی ځايونه | ۱۸ |
| د الغتا لرغونې نښې | ۱۸ |
| دريم — دودونه او رواجونه | ۲۲ |
| څلورم- ادبي ، فرهنگي او علمي ټولنې | ۲۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځم .ليکنيزې ، غږيزې او انځوريزې رسنۍ..................................................................۳۵

الف: چاپي يا ليکنيزې رسنۍ .........................................................................۳۵

ب: غږيزې رسنۍ: .............................................................................۴۰

ج: تصويري رسنۍ ...................................................................................۴۲

شپږم- د مشاعرې تاريخي پس منظر ته لنډه کتنه..................................................................۴۳

پښتو ادب او مشاعرې:...........................................................................................۴۵

د پښتو مراکز او مشاعرې:.........................................................................................۵۲

منې ګل د لومړنۍ مشاعرې راپورتاژ .........................................................................۶۱

اووم- ادبي ، فرهنګي او علمي چاپ شوي اثار.......................................................................۶۷

اتم- د ميدان سيمې ادبي او فرهنګي فعالين.......................................................................۸۳

مناقشه..................................................................................................................۱۴۴

پايله.......................................................................................................................۱۴۵

پای پايله...................................................................................................................۱۴۸

وړانديزونه.................................................................................................................. ۱۵۰

ماخذونه ..................................................................................................................۱۵۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

د یوې ټولنې ژبه، ادب او فرهنګ د خپلې ټولنیزې دندې او چارې پر اساس ټرونې (اتفاقي) پدیدې بلل کیږي، چې د انساني ټولنې له ټولنیز بهیر سره سم او هممهاله بشپړتیا مومي او همدارازیې پرمختګ، په شاتوب او ځرنګوالی هم د ټولنې اړوندیږي.

په همدې توګه کلتور، فرهنګ، شعر، ادب او هنر هم د یوې ټولنې د ټولنیزې او ژبنۍ برخو په لوړتیا او پراختیا کې مهم او مرکزي رول لري. کلتور او ژبه هم د یوې اړینې انساني پدیدې په توګه د یوې ټولنې د فرهنګ د پایښت ستنه ده.

په عین حال کې د همدې فرهنګ، ادب او ژبې پیاوړتیا او پرمختیا د یوې ټولنې د وګړو او اشخاصو د کار، زیار او فعالیتونو په پایله کې منځ ته راځي. نو ویلی شو چې د ټولنې د فرهنګي وګړو او اشخاصو د کار، زیار او کړنو پېژندنه، راټولونه، ارزونه او ثبت هغه څه دي، چې د یوې ټولنې په پېژندنه، فرهنګي او تاریخي خواوو په څېړنه کې له موږ سره مرسته کوي. د هرې ټولنې ادبي، فرهنګي، سیاسي، علمي شخصیتونه او څېرې حقوق لري، چې د همغې ټولنې د ادب او فرهنګ په راتلونکو جریانونو کې یې نوم او کاري خاطرې ژوندۍ واوسي او ټولنې ور څخه خبرې شي.

همدې اړتیا او موخې ته په پام سره مو وپتېیله، چې د میدان د فرهنګپالې او ادبپالې سیمې پر پخواني او اوسني ادبي- فرهنګي حالت یو ځانګړی تحقیقي اثر وکښل شي، څو د دغې سیمې جغرافیاوي موقعیت ،کلتور، دود او دستور، ادبي او هنري پدیدو، فرهنګي جریانونو، مشاعرو او اثارو په هکله د معلوماتو د لاسته راوړنې په برخه کې رڼا واچول شي، ځکه په دې برخه کې تر اوسه لومړنی ګام هم نه دی اخیستل شوی.

د دغې موضوع د څېړنې په موخه مو د میدان سیمه د دوو لاملونو پر اساس غوره کړه؛ لومړی دا چې هر هغه چا چې په دغې سیمه کې یې د ادب او فرهنګ اوسنی او پخوانی حالت له نږدې څخه څارلی وي، نو ویلی شي، چې په نړۍ کې به داسې ډېرې لږ جغرافیوي محدودې او ټولنې وي، چې په داسې لږه موده کې یې دومره ډېرې علمي، فرهنګي، ادبي او ژورنالستیکي لاسته راوړنې لرلې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم دلیل دا دی، چې په دغې سیمه کې زیاتره فرهنګي او ادبي کار د تخلیق په برخه کې شوی او که په څېړنیزه برخه کې څه شوي هم دي، ډېر لږ او متفرقه بڼه لري.

نو په همدې اساس د خپل لارښود استاد پوهنوال محمدرفیق رفیق له لارښوونې سره سم مې وغوښتل د یادې سیمې د پخواني او روان فرهنګي بهیر د عمومي حالت، جغرافیوي جوړښت، دود دستور، تاریخي سیمو، مشاعرو، رسنیو، ټولنو، اثارو او اشخاصو په اړه په څو جلا برخو کې تر خپله وسه اړین معلومات راغونډ او لوستونکو ته وړاندې کړم.

په میدان ښار کې د اوسني تاوده او چټک ادبي یون پیل په افغانستان کې د اوسنیو مثبتو سیاسي بدلونونو ور اخوا د طالبانو د واکمنۍ پر مهال شوی دی،خو په اوسنیو انتقالي او انتخابي دورو کې یې د پام وړ وده او پرمختګ کړی دی.

په افغانستان کې د اوسني اسلامي انتقالي دولت له راتګ وړاندې د طالبانو د واکمنۍ پرمهال د پېښور، کابل، ننګرهار، لویې پکتیا، کندهار او نورو پښتنو سیمو له لیکوالو او فرهنګیانو سره د میدان ښار د یو شمېر ادبي او فرهنګي مخورو اړیکې، راشه درشه او سلا مشورې، د دې لامل شوي، څو د دغې سیمې نوي او ځوان لوستي نسل ته فرهنګي او ادبي توکي او اثار او همداراز په دې برخه کې قوي روحیه او علاقه ولېږدېږي.

په میدان ښار کې د مشاعرو جوړېدل، د ولایت مقام له خوا د یو شمېر کتابونو چاپول، د خالد بن ولید ادبي ټولنې رامنځته کېدل، د ډاکټر عبدالوکیل د فرهنګي ټولنې جوړېدل، عامه ګالري، د مطبعې او عامه کتابتون جوړېدل، د دولتي راډیو د خپرونو پیل، همدا شان د میدان وردګو ولایت مقام د هغه مهال د اطلاعاتو او کلتور ریاست له خوا د ویښ په نوم د یوې ټولنیزې، ادبي او علمي مجلې خپرېدل او هم د ولایت د مقام ریاست له خوا د میدان وردګو مېشتو شاعرانو او لیکوالو راغونډونه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

هځونه، هغه څه دي چې په یاده سیمه کې د اسلامي انتقالي دولت له پیل سره سم، رامنځته شوي او ترسره شوي دي.

له دې مهاله راوروسته په اوسنیو انتقالي او انتخابي دورو کې چې نږدې یوه لسیزه موده راچاپیروي، په نوموړې سیمه کې په تدریجي توګه د چاپي، غږیزو او تصویري رسنیو، ادبي- فرهنګي- علمي ټولنو او غونډو، چاپي اثارو او همداراز ادبي-فرهنګي، سیاسي، مشاعرو جوړېدل، اشخاصو او فعالیتونو ډېرښت، ښه والی او وده موندلې ده او د پرمختګ په حال کې وړاندې ځي.

دا مهال په یاده سیمه کې د میدان پر سیمه ییز ټلویزیون او د تجلا پر شخصي ټلویزیون سربېره، چې خپرونې یې په ټول ولایت کې رڼې لیدل کېږي، د افغانستان د ملي ټلویزیون، شمشاد، آریانا او کابل نیوز ټلویزیونونو سیمه ییزې دستګاوې هم فعالیت کوي. همدا شان د میدان وردګو د دولتي راډیو په ګډون، د تجلا غږ، ځوان غږ، ډیوې او سولې پیغام، پرون او د میوند غږ په نوم شخصي راډیوګانې هم په ورځنۍ توګه په زړه پورې خپرونې لري.

په دغې سیمه کې په لیکنۍ او چاپي برخه کې هم د میدان وردګو د دولتي مجلې بدلون، د پوهنې ریاست ښوونیزې مجلې، عهد خپلواکې مجلې، د شورا ورځپاڼې او له پنځه ویشتو څخه د زیاتو اونیزو او مهالنیو جریدو یادونه کولای شو.

دا چې اوسمهال په دې سیمه کې کومه چاپي مطبعه موجود نه ده، نو د چاپي اثارو او مجلو چاپ د کابل ښار په خصوصي مطبعو کې پر مخ وړل کیږي.

همدا شان اوس دغې سیمې د ټولنو په جوړېدو کې هم د پام وړ پرمختګ کړی دی، چې د میدان ځوانانو ادبي ټولنه، د وکیل نورعلم خان د فرهنګیانو خپلواکه فرهنګي ټولنه، د علم کاروان کلتوري ټولنه، د خالد بن ولید خپلواکه فرهنګي ټولنه، د افغان سید جمال الدین علمي مرکز په جلرېز ولسوالی کې او یو شمېر نورې یې د مهمو ټولنو په توګه یادولی شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همداراز په دې سیمه کې اوس له لوی مرکزي کتابتون سربېره، چې د لس زرو ټوکو په شاوخوا کې د بېلابېلو کتابونو لرونکی دی، د میدان ښار اړوندو ښوونځیو ترڅنګ د ولسوالیو په ښوونځیو او ادبي ټولنو کې هم په ل رز سګونو کتابتونونه شته، چې شتون یې ډېری ځوانان د کتاب لوستنې او مطالعې ته هڅولي دي.

د یادونې وړ ده، چې په دې وروستیو کې په میدان ښار کې پر نورو ادبي، فرهنګي او ژورنالستیکو لاسته راوړنو سربېره د تاریخي اثارو یو موزیم هم جوړ شوی، چې په لسګونو اثار په کې د خلکو په همکارۍ ځای پر ځای شوي دي او هره ورځ په لسګونو کسان ورڅخه په پوره لېوالتیا لیدنه کوي. نوموړی موزیم د اسلامي توکو، لرغونو توکو، د سیمې د پخوانیو کارول شوو توکو او لاسي صنایعو د څلورو جلا جلا برخو لرونکی او د لرغونو زمانو په تاریخي او کلتوري میراث پورې تړاو لري. همدارنګه یوه عامه ګالري هم شتون لري، چې د مولوي عبدالرب په نوم شهرت لري، په لسګونو ډول، ډول قلمي او انځوریز اثار د دغه ولایت له اړوندو سیمو څخه راټول شوي او په کې خوندي شوي دي.

د میدان وردګو فرهنګپال خلك همداراز د سینما او تیاتر په برخه کې هم له چا کم نه دي، دغه سیمه زیات شمېر ممثلین لري، اوس په کې دوه تیاترونه چې یو یې دولتي او بل یې په نادولتي توګه فعالیت کوي، شتون لري.

په دې وروستیو کې چې د افغانستان د ۲۹ ولایتونو د ممثلینو ګډ فیسټیوال جوړ شوی و، میدان وردګو په کې پنځم مقام ترلاسه کړ.

په دغې سیمه کې د علم او پوهې په برخه کې هم ډېر څه شوي دي، د میدان وردګو پر دولتي دارالمعلمین سربېره، چې په عصري وسایلو او نوې ټکنالوژۍ سمبال دی، دوه نور شخصي پوهنتونونه هم جوړ شوي دي، چې په زرګونو محصلین په کې په زده کړو بوخت دي او د تکړه مسلکي استادانو له خوا یې تدریسي چارې پرمخ وړل کیږي. د یادونې وړ ده، چې د دې ولایت له پاره سږکال (۱۳۹۲لمریز) یو دولتي پوهنتون هم په کار پیل وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې سربېره په ټولیزه توګه په دغې سیمه کې اوسمهال د بېلابېلو ژبو او معلوماتي ټکنالوژۍ او نورو مسلکي کورسونو او مرکزونو ترڅنګ د عبدالله عزام په نوم درالعلوم، د حضرت ابوبکر الصدیق دارالعلوم، د عبدالوکیل کرنې عالي انسټیټوټ،د چک د برېښنا انسټیټوټ، اداري او سوداګرۍ انسټیټوټ، شپږ تخنیکي لېسې، ۱۶ لوېې رسمي دیني مدرسې، پنځه دارالحفاظونه، ۱۰۳ عالي لېسې، ۹۷متوسطه ښوونځي، ۱۴۱ لومړني ښوونځي شتون لري، چې په سلګونو زره زده کوونکي په کې په زده کړو بوخت دي.

په دغې سیمه کې اوس د شاعرانو او لیکوالو شمېر په حیرانوونکې توګه زیات شوی او د لا ډېرېدو په حال کې دی. د دغو لیکوالو له خوا په اړونده سیمه کې په لسګونو بېلابېل ادبي، فرهنګي او ټولنیز اثار لیکل شوي، چې یو شمېر یې د نورو له خوا او ډېر شمېر یې د لیکوالو په شخصي مالي لګښت چاپ شوي دي.

د دغو لیکوالو له خوا په زړه پورې او ګټورې ادبي او فرهنګي ناستې او مشاعرې جوړېږي. د یادولو ده، چې په دې وروستیو کې د میدان وردګو د مېشتو لیکوالو او فرهنګیانو له خوا وخت ناوخته پر ازادو مشاعرو سربېره د پښتو د ادبي او فرهنګي ډګر د پراختیا په موخه په یاد سیمه کې هر کال د منې ګل په نوم یوه ستره مشاعره جوړېږي، چې له هېواد سربېره د پښتونخوا سیمو شاعران او لیکوال هم په کې ګډون کوي او د منې ګل په اړه په کې خپلې ترتیب کړې مقالې، شعرونه او لیکنې حاضرینو ته وړاندې کوي. همدا رنګه هر کال یو زیات شمېر کتابونه په هم دغه ویاړ د چاپ په ګاڼه سمبالېږي چې دا خورا لوی فرهنګي خدمت دی.

د پایلې په توګه باید ووایو، چې پورتنی یادې شوې برخې هغه څه دي، چې موږ یې د دغې سیمې د ادبي او فرهنګي حالت د څېړنې په برخه کې اړین ګڼو او د دې کتاب د بحث او څېړنې عمده موضوع ده، چې په راتلونکو برخو کې به په تفصیل سره ورباندې خبرې وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د موضوع اهمیت او ارزښت

په لیکنه کې زما اساسی هدف د تیزس لیکنه او ماسټرۍ د پروګرام د پای لیکنه ده، چې ټولیې او مسلک خاوندانو ته د یوه داسې اثر پر ځای پریښودل دي چې را تلونکی نسلونه ورڅخه څه نا څه ګټه پورته کړی او بله هدف دادي چې داسې موضوع انتخاب کړم چې نوې وي او چا لږ کار ور باندي کړی وي، ځکه داسې موضوعګانې تل د توجو محراق وي، خو ستونزه یې په دې کې وي چې د کار مواد یې ډیر تیت او پرک وه او د لیکلو بېلا بېلو میتودونو ته اړتیا لیدل کیږي حتي له کتابخانې میتود چې باید نه وی کار ولی شوی ویلی چې دا موضوع په ساحوی میتود پورې اړوندیږی خو د ځینو ستونزو له امله ور څخه ښایسته ډیر کار اخستل شوی دي.

دا لیکنه چې د میدان ښار فرهنګی حوزه نومیږي ددې د غې سیمی جغرافیاوای موقیعت تاریخې سیمې ، دودونه او رواجونه ، کلتور، ادبي، فرهنګـي او علمـي ټولنې، لیکنیزې، غږیزې او انځوریزې رسنۍ، د منې ګل مشاعره او دهغې مثبتي اغیزی په دغه سیمې باندې، ادبي، فرهنګي او علمي چاپ شوي اثار او د میدان سیمې ادبي او فرهنګي فعالین موضوعګانو په هکله معلومات را غونډ شوی دي.

دا لیکنه یوه فرهنګی لیکنه ده او هدف په کې دادې چې ددغې سیمی په هکله لوستونکو ته لومړنی معلومات ورکړل شي .

دمیدان فرهنګی حوزه د یوه ځانګړی سیمی فرهنګی پیژندنه او په دغه سیمی کې ادبی او کلتوری هڅو څخه جاج اخستل دی کوم چې په دغه سیمی کې جریان لری او مخ پر وده روان دي او زمانی له کړنو څخه د تیریدو په حال کې دی او غواړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه نړیوال معیار ته ځان ور سوی کوم چې پرمختللو ټولنو د ځان لپاره موخه ټاکلی دی.

زما دا لیکنه به د یوې آزادې او بازاري لیکنې سره ځکه لږ فرق ولري او هغه له دې امله چې د موادو په ارائه کې د ډیرو اکادمیک او پوهنانو تر نظر لاندې لیکل شوی او د پوهنتون له څو علمې کمیټو او شوراګانو وروسته منل کیږي او د فاع یې لا بیا بل تصدیق دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د موضوع مخينه

د وياړ ځای دي چې نن ورځ د هيواد د ملي پښتو ژبې ودې او دافغان اصيل کلتور غوړېدو ته په مختلفو بڼو کار کيږي. که لـه يـوې خـوا دافغانسـتان کلتـوري ډګـر هـره مياشت د لسګونو تخليقي اثارو ادبي څېړنو او ډول ډول کلتوري هڅو شاهد دي، چې زموږ په ټولنه کې د خپريدو په ګانه سمباليږی، لـه بلـې خـوا د هيـواد کلتـوري ټولنـو، ادبي غونډو، ولسي مشاعرو، فرهنګي مېلو او ادبي بنډارونو بهير ورځ تر بلـي د ملـت د وياړونو په ادبي سيند ورګډوي د خپل هدف په لور ځغلنده ګامونه اوچـت کـړی دي او دغه لړی په ښه شان روانه ده.

ددې حقيقت څرګندونه اړينه ګنم چې، که په دې څو وروستيو کلونو کـې د منـې ګل د کلنيو محفلونو ، غونډو او ادبی بنډارونو په ژوره توګه وڅيړل شي، نو په زغـرده ويلای شو چې دغه کلتوری او ادبی بريالیتوب چې نـن ورځ ددغـې سيمی پـه برخـه شوې يوازنی عوامل يې د منې ګل مشـاعر کيـدای شـی. ددې مشـاعر پـه برکـت دي، چې ډير زيات هغه کتابونه چې ادبی، فرهنګـی، اقتصـادی، اجتمـاعی او نـور ارزښـتونه لری د چاپ په ګانه سمبال شوی او دغه لړۍ په ښه شان روانه ده.

پورتنی څو خبرې ځکه ما دلته يادونه وکړه چې لـه ددغـې مشـاعرې دې مخـه پـه دغه سيمه کې ادبی بهير ډېر ځنډنی او ډير لږ پام ورته شوې وه او په هيڅ حساب وه.

دموضوع په اړه څرنګه چې په کار دي، هغسې څېړنې نسبتا کمـې تـر سـره شـوې دي، هغه کار چې شوې ټول په پوهنتونونو کې د محصلينو له خوا د مونوګراف په بڼـه ليکل شوې دي . ټول هغه ليکوال او شاعران په هکله ليکل شوې چې اوس ژونـد دې دي او په ټولنې کې شتون لری معنا دا چې نورو ځايونو په هيواد کې دننه او بهر ته نـه دی کوچيدلی او اوس زياتر په رسنيو کې په دندو بوخت دي.

په هر صورت د کومو اثارو او ليکنو اجمالي يادونه، چې په دې ځای کې وړانـدې کيږي او زما تر نظره تېر شوي دي، دموضوع مخينه جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱-وردګ (قوم، سیمه او کلتور) ددغه اثر لیکوال څېړنیار محمد حامد حلیمي دی، چې په ۱۳۷۸لمریز کال د وردګو کلتوري یون ټولنې له خوا په ۱۰۶مخونو کې له چاپه راوتلی دی. چې د یو معتبر اثر په توګه هر څوک کولی شي ترېنه ګټه واخلي.

دغه اثر په د وردګو د قبیلې او د سیمې د تاریخي او جغرافیوی حالت د پیژندنې په اړه یو ارزښتناك اثر دي. دغه اثر له همدې له امله یو ځانګړی ارزښت لري، چې ښاغلي حلیمی نورو لیکوالو ته لاره پرانیستله، لومړی ګام یې اوچت کړ، چې مخکې نه وه پورته شوی.

له پورتنی یاد شوی کتاب څخه چې زما له نظر تیر شوی دی نور داسې مستقیل اثار چې مشخص پر دغې سیمې لیکل شوې وی ما ته نه دی معلوم، خو ځینې موضوعګانې د مقالو، سمینارونه، او کورنیو دندو په ټوګه محصلینو ته ورکړل شوې دی چې په خواره واره شکل موجود دي. هغه هم د یوه اولسوالی، یوه سیمی او یا د یو مشخص لیکلوال او شاعر په هکله ورکړل شوې او هیڅ داسې بل اثر زما له نظر نه دي تیر شوې چې ددغې سیمی په هکله هر اړ خیز ادبی، کلتوری، جغرافیوی او اجتماعی معلومات ولری.

ما په خپله دغې لیکنه کې په ټولنیزه توګه ددغې سیمی په ادبی، فرهنګی او اجتماعی برخو او په عمومي توګه ووایم په ددې فرهنګی حوزی په ټولو خواوو ددې رسالې له حوصلې سره سم رڼا اچولې ده .

ما چې تر اوسه ددغې سیمی په اړه کوم اثار معالعه کړي، په هغو کې مونږ نه شو کولی د سیمی په هر اړخیزه توګه ومومو، نو ځکه ددغې پروژې کار ما ته را وسپارل شو، څو په پایله کې دداسې اثر په کښلو بریالی شم، چې له څېړونکو او مینه والو سره تر ډېره بریده د میدان ښار فرهنګی حوزی په پیژندنه کې مرسته وکړای شي.

زما کار تر ډېره بریده تر نورو په میتود او محتوا کې توپیر لري. ما په دې کې په مستقم توګه له ادبی اوفرهنګی ټولنو او شخصیتونو سره اړیکې ټینګی کړی او په هر اړخیزه توګه رڼا اچولې ده. همدارنګه مې د تیر وخت په سیاسي او فرهنګي اشخاصو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم له موضوع سره په اړیکه کې څېړلې دي، همدارنګه زما د کار توپیر له پخوانیو شوو کارونو سره پر میتود سربېره دا هم دی چې دغه فهرست چې دا اثر د هغه پر بنسټ کښل شوی، په بل اثر کې نه دی تر سترګو شوی.هیله من یم چې ددې څېړنې په پایله کې داسې یو اثر رامنځته شي چې څه نا څه په نسبتي ډول د میدان ښار فرهنګي حوزی په اړه هر اړخیز او داستفادې وړ معلومات وړاندې کړای شي.په عمومي توګه زما موخه او هدف هم همدا دی چې د میدان ښار فرهنګ حوزی په اړه نسبتا جامع او منسجم معلومات په دې اثر کې سره را ټول کړم، نو ځکه له خپل توان سره سم ددغه کار تر سره کولو ته ملا وتړله، دا چې زه په دې کار کې تر کومه بریده بریالی یم، دا قضاوت به ما ته له ستونزو خالي نه وي، خو یواځې دومره ویلی شم چې ما خپله نهایي هلې ځلې کړي او غوښتې مې دي چې ددغې سیمی په فرهنګی حالاتو په اړه یو څه وکارم.د یادونې وړ ده چې دا به ددې سیمی په اړه وروستنی څیړنه نه وي بلکې ددغې سیمی په بېلابېلو اړخونو د نورو څېړنو اړتیا هم محسوسه ده.

ددې اثر خوبي او توپیر له نورو اثارو سره په دې کې دي، چې د هري برخې یې لپاره تر اوسی او توان پورې معلومات را غونډ شوې دي.بله ښیګنه دا دي چې هغو کسان په هکله معلومات را ټول شوې، کوم چې اوس په سیمی کې نه اوسیږی په هیواد کې نه او بهر هیوادونه ته کوچیدلی دي او اوس په دغې سیمی پورې نه اړوندیږی .

په پاې کې له ټولو درنو لوستوونکو هیله کوم، چې دې موضوع د بشپړل ولی لپاره خپل نظرونه له موږ سره شریک کړی، تر څو په راتلونکی کې ورته پاملرنه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د څېړنې مېتود

**که څه** هم د میدان فرهنګی حوزه زما دغه کـار نـوې دي خـو لـه وړانـدې څـو کالو څخه ځینو محصلینو په پوهنتونونو کې د مونوګرافونـه لیکلـی دی خـو زمـا نظـر چې کوم تیر شوی یوه هم په معیار ډول نه دي لیکل شوی او هـر چـا د خپـل تـوان او پوهې په معیار په دې برخه کې لیکلي اثار ددې مسلك مینه ته وړاندې کړیدي .

موږ دلته د ټولنې تاریخي سیر او پرمختګ په بشپړه توګـه نـه څیـړو خـو غـواړو دا ووایو چې نوې علومو په لړۍ کې دا یوویشتمی پېړۍ ابتکار دی، ولې فرهنګی حوزه د ادبپوهنې د یوې څانګې په توګه لرغونی تاریخ لري. او دا لیکنې عموم د یوې سیمی د ادبی او فرهنګی ټولنو ، ادبی اوکلتوری اثارو او هغو وګړو او څیرو ته ځانګړی شـوی کوم چې کلتور ، ادب او ټولنې لپاره په یو ډول د خدمت جوګه شـوی او ټـولنې سـره یې همغږی ښودلی دي.

ما په دې لیکنه کې له ساحوی میتود څخه کار اخیستی دی معنا د فرهنګی حـوزی په اړه مې له ډیرو کسانو سره په مستقم ډول لیدلي او کتلـي دي، او د دې موضـوع پـه اړه مې بیلا بیل نظریات او څرګندونې را ټولې کړي دي او د بیلا بیلو نظریاتو پـه مـنځ کې مې زما په نظر معقول او اوسنی ادبپوهنې سره برابر نظر را اخیستئ دي.

دلته ما کوښښ کړي دی چې د نـورو موضـوعګانو ترڅنـګ د ادبـی او فرهنګـی څیرو په برخه کې له دغو اشخاصو سره چې ژوندې دی په نیغه توګه اړیکـه ونیسـم او هغه څه ولیکم چې په برخه د دوې له خولی را ووځی، خو دلته بیا ستونزه دا وی چـې ځینو کسانو پته نه او هیواد څخه بهر اوسیدل او یو شمیر نور په دننه هیواد کې وزګړتیا له امله د دې وخت نه درلود چې د خپل ادبی ژوند اثارو په هکله را سره مرکه وکـړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو بیا ما هغو اثارو ته مخه کړی کوم چې د دغو کسانو هکله معلومات په کې شتون درلود.

مخکې مې وویل چې ما تر ډیره حده د ساحوی رویش څخه ګټه پورته کړې ده، خو دا چې ننی عصر د کمپوټر او ټکنالوژۍ عصر دی ما د انټرنټي معلوماتو څخه هم استفاده کړې او تر یوه حده مې د انټرنټ له پښتو ویبپاڼه او هغو شخصی ویبلاګونه څخه معلومات را اخیستی دي .

ما د دغې رسالې په لیکنه کې د ساحوی رویش ترڅنګ د کتابتونې رویش څخه هم ګټه پورته کړی ده. چې د څیړنې میتودلوژی مطبق دا کړ میتود دي.

په درناوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی- د میدان وردګو ولایت د جغرافیایي موقعیت پېژندنه

د میدان وردګو ولایت د افغانستان د مرکزي او دریېمه درجه ولایتونو لـه ډلـې څخه دی، چې د کابل ښار لوېدیځ پلو په ۳۵کیلومتره واټن کې پروت دی. ختیځ خـوا ته یی د لوګر ولایت، شمال خوا ته یی یوه اندازه د پروان ولایـت، شـمال لوېـدیځ تـه یې د بامیانو ولایت او لوېدیځ ته یې غزني ولایت پروت دی. اقلـیم یـې پـه اوړي کـې نسبتا ګرم او ژمی یې د واورې وربېدو تر کچې سوړ وي.

میدان وردګو ولایت له دوه پلوه ډېر ستراتیژیک موقعیت لري:

الف: د کابل- کندهار او کابل- بامیان پـه لویـه اکمـالاتي او تجـارتي لاره پـروت دی.

ب: د کابل لویه او تر ټولو مهمه دروازه ده.

د میدان وردګو ولایت د طـول البلـد پـه ۶۸ درجـو ۵۰ دقیقـو ۲۶ ثـانیو او شـمالي عرض البلد په ۳۴ درجو ۲۲ دقیقو او ۳۴ ثانیو موقعیت لري.

د دې ولایت ټول مسـاحت ۱۰۹۱۲کیلـومتر مربع دی، د بحـر لـه سـطحې څخـه د ۲۵۰۰ مترو په شاوخوا کې لوړوالی لري. ټول نفوس یې ۸۸۶۴۶۵ تنه دی، چـې ۲۶۸۳۳ تنه نارینه او ۲۵۹۴۱۹ تنه ښځینه دي. دا ولایت نهه ولسوالۍ لـري چـې عبـارت دي لـه: مرکز میدان ښار، نرخ، جلریز، چک، سیداباد، جلګه، جغتو، مرکز بهسود او حصـه اول بهسود.

کرنیزه ځمکه یې ۴۳۹۲۱۰۴ هکتاره ده، چـې لـه دې جملـې څخـه ۳۲۶۹۱ هکتـاره ابي، ۱۱۱۲۰هکتـاره للمـي او ۱۱۰۴هکتـاره دولتـي امـلاک دي، پـه منځنـي ډول د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولايت د ابي ځمکې ۱۰۹۸۰هکتاره باغونو نيولې ده. دا يو غرنى دى او کرنې څه اندازه ځمکې يى د غرونو په لمنو کى پرتي دي چې د کاريزو په واسطه خړوبېږي، د اوبو نورې سرچينې يې سيندونه، چينې او ژورې څاګانې دي. د کرنيزو محصولاتو لـه ډلې څخه کولى شو د ابي او للمي غنمو، کچالو، شلغمو، ګازرې، وربشو، وريجو، رشقې، کلول، باقلي، مشنګ، نسک، لوبيا، نخود او جوارو يادونه وکړو. د مېوو له ډلې څخه يې منې، زردالو، توت، شفتالو، ګيلاس، سنځلې، غوزان، مصور، مى او نور د يادولو وړ دي. بې مېوې ونې يې عبارت دي له چينار، سپى‌بدار، خرولـه، غيش ولـه، عرعرنيله، غرنى بادام، پيجه چينار، عکاسى، پشه خانه او نور.

ژوي:ـ هغه اهلى او وحشي ژوى چې په دى ولايت کې شته دادي: غوا، پسه، وزه، خر، چرګ، سپى، پيشو، فيل مرغ، هيلۍ، څاړى، کوتره، شامتورى، شيخدو، زرک، مړز ماهي، سوى ،لېوه، ګيدړه، شغال، شکوڼ، غره چرګ، پړانګ او داسې نور.

کسبونه:- خلك يى په کرنې، مالدارۍ، تجارت، دولتى کارونو او ځينى نورو کارونو او کسبونو لکه: خټګري، معماري، ترکاڼي، پښۍ، خامك ګنډل، مرۍ اوبدلو بوخت دي.

## کانونه :

په ميدان وردګو ولايت کې ۳۲کانونه شته، چې عبارت دي لـه: د حاجي ګـك د اوسپينى کان يو برخه، په نرخ ولسوالى کې د بادام د سرخ بيدك کروميټ، د چغرى کروميټ، د ده پاك کروميټ، د جوقل د مرمرو کان، د اندړو د فيروزې کاڼي ظواهر، د بادام د زمرد کاڼي ظواهر، په سيداباد ولسوالى کې تيتمور کروميټ، د قول سليمان د مرمرو کان، د خروټو د مرمرو کان، شاه کابل د سوځېدلو ياقوتو کان، د ساختماني ډبرو کانونه په مرکز کې، لويې ابدري کروميټ، منګليو کروميټ، هفت اسياب کروميټ، د نوريو کروميټ، د تنګي چلپيکام کروميټ، د کامران خېلو د مرمرو کان، د لويې ابدرې د مرمرو کان، د منګليو د مرمرو کان، د و ړې ابدرې د مرمرو کان، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین ورسک د مرمرو کان، دشت ټوپ د مرمرو کان، د کامران خېلو د تلک کان، په لومړي بهسود کې دوست قل کرومیټ، دوست قول کرومیټ، د یورد بالا د مرمرو کان، د شاه مقصود معدني ظواهر، مرکز بهسود کې د سموچ او سرخ اباد د رخامو کانونه، په جلرېز ولسوالی کې د تکاني دابرکو کان، جلکه ولسوالی کی د فولادي پایین او د فولاد بالا د ګچو، کهنه خمار سلیسټ د ډبرو کانونه تراوسه سروې شوي دي.

## میدان وردګو ولایت کی د فرهنګی هځو تاریخی شالید (پس منظر)

د میدان وردګو ولایت په هکله مورخینو ډېر څه نه دي لیکلی او که یې لیکلي، نو هغه هم کافي نه دي.

ترآریایي دوری را وروسته د میدان وردګو ولایت اړونده سیمه د بېلا بېلو مورخینو له خوا په مختلفو نومونو یاد شوي، چې په دې دوره کې یې د خلکو ځانګړو، کړنو، مشخصې ویاړنې د ځان کړی دی.

په ویدي او اوستایي متونو کې د یورګیتا یادونه شوې، کومه چې اوس د میدان وردګو ولایت په حدودو کې راځي، د همدغه اثر په حواله د هخامنشیانو او تر هغه راوروسته د باختري یونان په دوره کې هم د میدان وردګو ولایت شاوخوا سیمې د ستاکیدیا په نوم یادې شوې دي.

په کوشاني دوره کې د دغه ولایت د کوټه اشرو د سیمې یادونه شوې، چې د کاروانونو د تګ راتګ له پاره ښه تمځای بلل شوی دی، خو په اسلامي دوره کې یې بیا د ورېښمو د لارې په واسطه هندوستان له بلخ سره نښلولی دی.

د حیات افغاني د لیکوال محمد حیات خان په حواله، د میدان ولایت د اوسېدونکو اصلي استوګنځای د سلیمان د غرونو لړی، د برمل د غره شاوخوا لمنې دي چې له هغه ځایه د دوړګو له قبیلې (کرلاڼی) خوره واره شوي او په اوسني میدان کې مېشت شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې هم ویل کیږي، څرنګه چې د اوسني میدان اوسېدونکي له پخوا وختونو کې هم ډېر غیرتي او جنګیالي خلك وو، نو د سلطان محمود غزنوي لـه خـوا د (میـدان) هواره سیمه د استوګنې له پاره د دوی په واك کې ورکړل شوه، ترڅو د اړتیا پر مهال دوی په یوه مرکز کې په اسانی سره پیدا او راټول کړای شي. که چېرې د میدان سیمې زیاترو کلیو نومونو ته پاملرنه وکړو، نو دغه روایت سهي دی، چې اکثـره نومونـه اوس هم د نورو ژبو نومونه ده، لکه: صدمرده، دی پاك، کریمداد، ده هندو او داسې نور...

د حیات افغاني لیکوال د خواجه نعمت الله هروي د مخزن افغـاني پـه حوالـه لیکـي چې:

د هغې سیمې په باب چې اوس د پښتنو په لاس کـی دي، دومـره بایـد وویـل شـي چې لوېدیځ ته یې د هزاره جات غرونه پراته دي او پاتې درېیو خواوو ته یې د غلجیـو سیمه موقعیت لري.

## د میدان وردګو ولایت اداري شالید ته لنډه کتنه:

زموږ د ګران هېواد افغانسـتان اداري جوړښـت د تـاریخ پـه بېلابېلـو پېرونـو کـې د مختلفو لاملونو له امله بدلون موندلی او د هېواد اداري جوړښت خپلې بڼې بـدلې کـړې دي.

د افغانستان له معاصر تاریخ څخه یې که پیل کړو، نـو وینـو چـې زمـوږ هېـواد اتـه ولایتونه او پنځه لس اعلـی حکومتونـه درلـودل، خـو د امیـر شـېرعلي خـان د واکمنـۍ پرمهال د هېواد اداري تشکیلات را لنډ او د پنځو ولایتونو هر یو: کابل، قندهار، افغـاني ترکستان، هرات او فراه و.

د امیر عبدالرحمن د واکمنۍ پرمهال هېواد په شپږو ولایتونو ووېشل شو او د پورتـه یادو شوو ولایتونو ترڅنګ د بدخشان ولایت ورزیات شو.

د امیر امان الله خان د واکمنۍ پر مهال د هېواد د اداري تشکیلاتو په لمن کې پنځو ولایتونو او څلورو اعلی حکومتونو ځای خپل کړ، چې عبارت دي له: کابـل، کنـدهار،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرات، ترکستان، قطغن او بدخشان. اعلی حکومتونه یې عبارت و لـه: د مشـرقي اعلـی حکومـت، د جنـوبي سـمت اعلـی حکومـت، د میمنـې اعلـی حکومـت، د فـراه اعلـی حکومت، چې دا واحدونه په خپل وار په نورو وړو واحدونو وېشل شوي وو.

له ۱۳۰۰ تر ۱۳٤۳هجری لمریـز کالـل پـورې د هېـواد پـه اداري وېـش کـې دومـره بدلون رامنځته نه شو، خو د لومړي ځل له پاره د اساسی قـانون او دیموکراسـی د پلـي کولو له پاره د هېواد په تشکیلاتو کی بنسټیز بدلونونه رامنځ ته شول.

د میدان سیمه د امیر شېرعلي خان له واکمنۍ څخه را په دې خوا په کابـل ولایـت پورې تړاو درلود، خو په ۱۳٤۳هجري لمریز کال کې د خلکو د ستونزو له کبله چې له محـاکمو سـره یـې لـره او د ورځنـي ارتبـاط او اجرایـوی کـارونو لـه پـاره ولایـت او حکومت ته رسېدلی نـه شـول، نـو میـدان د افغانسـتان پـه اداري چوکـاټ کـې د یـوه ځانګړی ولایت په توګه داخل کړی شـو. پـه ۱۳٤٥هجـری لمریـز کالـل کـی لـومړی هېواد په ۲۹ اداري واحدونو یا ولایتونو باندی ووېشل شو او وروسته بیـا دغـه ولایتونـه په لویو ولسوالیو (لومړۍ درجه، دویمه درجه، درېیمه درجه او څلورمه درجه) او علاقه داریو باندی ووېشل شول. په ۱۳٤٤هجری لمریز کال کی د کټواز ولایت په غزني او د ارګون ولایت په پکتیـا پـوری وتـړل شـول او پـه دې توګـه افغانسـتان پـه اووه ویشـتو ولایتونو باندی ووېشل شو او نور واحدونه یې په خپل حال پاتې شول.

په ۱۳٥۳هجري لمریز کال کې د کاپیسا او کونړ ولایتونه په لویـو ولسـوالیو بانـدی تعدیل او د پروان او ننګرهار په ولایتونو پورې وتړل شول، خو په ۱۳٥٦هجـري لمریـز کال کی یو ځل بیا د کونړ لویه ولسوالي د ننګرهار له ولایت څخه بېلـه او د ځـانګړي ولایت په توګه وپېژندل شو.

د هېواد په ملکي وېش کې د وزیرانو شورا له خوا پـه ۱٤/۱۰/۱۳٥۹ نېټـه درې نـور ولایتونه هر یو لوګر، کاپیسا او میدان وردګ د ولایت په کچه منظور شول.

د میدان وردګو ولایت مرکز په لومړي سر کې کوټه عشرو و، خو د سردار محمـد داوود خان په وخت کې یې مرکز له کوټـه عشـرو څخـه د لـږ وخـت لـه پـاره درانیـو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سيمې ته، خو وروسته د مرکزي حکومت په امر سره اوسنۍ سيمې ته ولېږدول شو، چې تراوسه پورې مرکزي حيثيت لري او اوس په کې ښارګوټی او هټۍ د جوړېدو په حال کې دي.

## په بېلا بېلو دورو کې د دې ولايت واليان:

د پخواني پاچا ظاهرشاه له واکمنۍ نه تر اوسه پورې د ميدان وردګو ولايت د واليانو نومونه عبارت دي له:

په شاهي دوره کې: عبدالباقي يوسف زی، محمدابرهيم عباسي، عبدالملك لعل پور وال او عبدالصمد بخشي.

د سردار محمد داوود خان په جمهوري دوره کې: عبدالقادر قاضي او اميرمحمد اميري.

د ترکي او امين په وختونو کې: غلام حسن (۱۳۵۷هـ ش کال)، عزيز الله وکړی (۱۳۵۷–۱۳۵۸هـ ش کال) او محمود غفوري (۱۳۵۸هـ ش کال).

د ببرك کارمل په دوره کې: احمدجان رزم (۱۳۵۹–۱۳۶۰هـ ش کال)، غلام رسول يوسف زی (۱۳۶۰–۱۳۶۴هـ ش کال) او بسم الله عمر (۱۳۶۴–۱۳۶۵هـ ش کال).

د ډاکټر نجيب الله په دوره کې: محمدشريف نوري (۱۳۶۵هـ ش کال)، شېرمحمد ولس يار، حيات الله رازقي، جنرال محمد ظريف امرخېل او فضل الدين مهري.

د مجاهدينو په دوره کې: ډاکټر عزت الله نوري.

د طالبانو د واکمنۍ پر مهال: ملا عبدالرشيد، ملا عبدالصمد خنجري، ملا عبدالحکيم حقاني او ملا شمس الدين.

د ولسمشر حامد کرزي په مشرۍ لنډمهالې ادارې پر مهال: سيف الله احمدزی، حميد الله توخی او رازمحمد دليلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ولسمشر حامد کرزي په مشرۍ د انتخابي حکومت په دوره کې: عبدالجبار نعیمي (۱۳۸۳-۱۳۸۷هـ ش کال)، محمدحلیم فدايي (۱۳۸۷-۱۳۹۱ه- ش کال) او اوسمهال عبدالمجید خوګیانی.

## دويم- تاريخی ځایونه:

په میدان وردګو ولایت کې ۱۸ تاریخي او لرغوني ځایونه شته، چې باید په اساسی ډول وکېندل شي، د قاچاق او غلا مخه يې و نیول شی. دغه ځایونه عبارت دي له:

ګنبد شاه او د چغتايي (مرکز بازید خېل کلی)، د الغتا تاریخی ښارګوټی (نرخ ولسوالی)، د خواجه بلند ولي تپه (نرخ ولسوالی)، ده هندو یا ده مسلم (نرخ ولسوالی)، کشک تکانه غونډۍ (جلرېز ولسوالی)، سرچشمه زیارت (جلرېز ولسوالی)، انګور باغ (چک سیاب)، کاپر یا پاره کلا (دایمیرداد ولسوالی)، لرغونې سیمه (چک)، بودک غونډۍ (دایمیرداد)، چتو غونډۍ (دایمیرداد)، کتب غونډۍ (دایمیرداد)، بودک کلا (دایمیرداد)، سیاب لرغونې سیمه (چک)، باد سیاب غونډۍ (جغتو)، جوی زنګي دره (لومړی بهسود)، سکرک (مرکز بهسود)، ارګ غونډۍ (مرکز بهسود)، چهل ګزی بابا زیارت (نرخ ده مسلم) او د مولوي عبدالرب احدي ملي ګالرۍ چې په ۱۳۸۸کال کې تاسیس شوه او ۱۶ انځوریز اثار په کې ننداري ته ایښودل شوي دي.

له پورته یادو شویو تاریخي ځایونو څخه یوازې د الغتا ښارګوټي په هکله څه ناڅه څېړنې شوې دي، چې دلته په اړه معلومات وړاندې کوم.

### د الغتا لرغونې نښې

د ځمکې د مخ وګړو چې د اسلام له راتګ وړاندې یې د نورو ادیانو پیروي کوله، د معبدونو په ځای ټاکنه کې یې دوه ټکی په پام کې ساتل: یو دا چې معبدونه به د لویو لارو په سر وو او دویم دا چې په داسې یوه لوړه غونډۍ به اباد شوي وو، چې د لمر لومړنۍ وړانګې (چې دوی سپېڅلې وړانګې بللې) په معبد لګېدې. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

زردشتي دين پیروانو هم دا کار کړی او وروسته بودایانو، په تېره کوشانیانو هم تر ډېره دغه ګروهه پاللې ده.

په افغانستان کې د ډېرو داسې عبادتځایونو نښې په ځای پاتې دي، چې پورتنی ادعا ثابتوي.

د وربښمو د سوداګریزې لارې ښاخ له ختیځ څخه تر لوېدیځ او له شمال نه تر سوېل پورې غځېدلې وې. په بغلان کې سور کوتل، په جلال اباد کې هډه، په بلخ کې نوبهار د هغو لرغونو عبادتځایونو له ډلې څخه دي، چې د وربښمو د لارې په اوږدو کې د کاروانونو هر تمځای ته څېرمه ودان شوي وو. هغه لاره چې له ختیځ نه د لوېدیځ په لور غځېدلې وه، له کابل څخه لوېدیځ پلو ته یې د کوټه عشرو په نوم یو ستر تمځای درلود او له بلخ څخه د اراکوزیا په لور تلونکي کاروانونه به په کې دمه کېدل.

د ۱۳۸۴لمریز کال په غبرګولي میاشت کې د همدې تمځای په حدودو کې د یو لوی معبد، دربار او استحکامی کلا نښې راڅرګندې شوې او همداسې استوپه او معبد د لمر لومړنیو وړانګو ته مخامخ وو. که څه هم تردې مهاله لرغون پېژندونکو هلته خپلې څېړنې بشپړې نه دی بللي، خو دا د کار د دوو پړاوونو پایلې دي او څېړونکي وربانديې یوې هوکړې ته رسېدلي دي.

د یوه دربار یا د یوه تاریخي کلي په بڼه له کابل ښار نه ۵۰کیلومتره لوېدیځ لور ته د میدان وردګو ولایت، نرخ ولسوالی د دادیل کلی د الغتا په نوم غونډۍ کې کشف شو. پخوا تر دې چې د لرغون پېژندونکو پام ور واوړي او رسمي کېندنې پیل شي، په اوبایمه لسیزه کې په الغتا کې پرله پسې خپلسرې کېندنې وشوې او زیات لرغوني توکي د سیمه ییزو قاچاق وړونکو په لاس له هغه ځای نه لوټ شول. د ۱۳۸۳لمریز کال په پیل کې د افغانستان د لرغون پېژندنې ادارې د فرانسې د لرغون پېژندونکو د ډلې (ډاپه) په مرسته د سیمې د سروې له پاره یو پلاوی واستاوه، سنداژونه ووهل شول او د رپوټ ورکوونکو د وړاندیزونو له مخې د ۱۳۸۴لمریز کال په غبرګولي کې افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرغون پېژندونکو او کاري ملاتړو يې په رسمي پلټنو پيل وکړ. د ۱۹ ورځو په جريان کې د (۱۲۰)مترو په اوږدوالي د يو استحکامي دېوال خاورې پاکې شوې او د اتو استحکامي برجومو نښې راڅرګندې شوې. د غونډۍ په پاسنۍ برخه کې يوه ګردۍ ودانۍ دا په ډاګه کوي، چې ښايي دا به يا وسله تون و يا نظامی حصار (کلا). د الغتا غونډۍ په منځنۍ برخه کې لمر خاته لوري ته د يوه بودايي معبد نښې او لويه استوپه په سيمه پېژندنه کې له څېړونکو سره بې کچې مرسته کوي. د لوېې استوپې پلنوالی او اوږدوالی شپږ په شپږو مترونو کې اټکل شوی دی. ودانيز هنر ډېر اوچت دی. د پرچال تيرې په کې کارول شوي دي. د ستوپې هره ضلع اته تزيني رواقونه لري او هر رواق کې د (بودا) او (بوداستوا) ولاړې مجسمې تر سترګو کېږي.

د الغتا غونډۍ په دوو برخو کې سپړنې پيل شوې. د مجسمو زياتره تنې چې موندل شوي، سرونه يې له منځه تللي دي. دې ډول مجسمو ته لرغونپوهان بودا سوغات ورکوونکی او بودا استوا وايي چې له خټو جوړ دي، د سرو زرو اوبه ورکړل شوي، رنګ شوي، په ګلونو سينګار دي چې زياته برخه يې د بارانونو، نم او خپلسرو او غير فني کېندنو په ترخ کې له منځه تللې دي.

د الغتا نښې د بودايي پېر تاريخ روښانه کوي. په خپله د ستوپې ډول او تزيين په ډاګه کوي، چې معبد په څلورمه يا پنځمه ميلادي پېړۍ پورې تړاو لري. د افغانستان د لرغون پېژندنې د انسټيټوټ غړی ښاغلی قدريان وايي:

(د توپو ګرافيکو مطالعاتو پر بنسټ د الغتا د غونډۍ چاپېره ۳۰هکتاره ځمکه لرغونې ده).

د امنيتي ستونزو له کبله د دوهم ځل پلټنې ترسره نه شوې، د لرغون پېژندنې انسټيټوټ، ترسره شوې څېړنې د ټول کار پنځه سلنه بللې دي.

که څه هم ځينې لرغونپوهان په دې باور دي، چې الغتا د کوشانيانو د وخت د ودانيو نښې لري، هماغه ډول جامې يې کارولې دي، خو دا باور به هله يقيني شي چې کار پای ته ورسېږي او ټول څېړونکی په يوه نظر سره سلا شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه اثار، چې لـه الغتـا نـه ترلاسـه شـول، شـمېر يـې تـر لسـو توکونـه اوړي. ټـولې مجسمې نه دي، ورې کـوزې چـې لـه هـډوکو ډکـې دي، کودړي(ټيکرونـه)، درې د مجسمو نيم رژېدلي سرونه او داسې نور.

د يوې لويې مجسمې سر چې له زنې تر تنـدي ۷۵سـانتي متـره اوږدوالـی لـري، پـه اثبات رسوي چې په خپله د مجسمې تنه به تـر شـپږو مترونـو لنـډه نـه وه. د يـوې بلـې ختيځې ښځې ۸۵سانتی متره اوږدوالی په ډاګـه کـوي چـې مجسـمه بـه د ۳-۴مترونـو پـه اندازه لويه وه.

هغه درې کودړي او د مجسمو درې سرونه چـې لـه الغتـا څخـه ترلاسـه شـول، لـه څېړونکـو سـره مرسـته کـوي چـې دا سـاحه د ګنـدهارا د حـوزې اړونـده وګڼـي او د ګندهارا د هنر نښې په کې خوندي دي. په ټوله کې د ودانيـزو ځانګړتيـاوو او مميزاتـو له مخې دا لرغونې نښې د هغې له تاريخی غونډۍ او معبد سره ورته دي، چې په ټـول افغانستان کې يې ساری نه درلود. د جوړښت په لحاظ هـم څېړونکـو د الغتـا پـه غرنـي چاپېريال يوازې د معبد او يو دربار نه، بلکې د يوه پراخه ښار اطـلاق کـړی دی، ځکـه هغه دفاعي دېوال چې يو متر او شپېته سانتی سور لري، دغه راز هغه اسـتحکامات چـې د غونډۍ په سر کشف شول او په ټوله کـې لويـه اسـتحکامی کـلا چـې د وسـله تـون اطلاق ورباندې کېږي، څرګندوي چې له نوموړې سيمې يـوازې د مـذهبي مراسـمو او زيارت استفاده نه ده شوې، بلکې يو دربار او نظامی حصار (کلا) و. په هـر ځـای کـې که اوس هم وګورو، چې لوی کلي دی، يو مذهبي ټولنځای په کې ودان شوی او کـه د الغتا په اړه هم وويل شی چې يـو لـوی ښـار دی، بـې ځايـه بـه نـه وي، خـو دا ټـول اټکلونه به هغه وخت په يوه ټکي راټول شي چې پاتې ۹۵سلنه څېړنې بشپړې شي او بيـا د لرغونپوهانو او اکاډميو له خوا يې وروستی علمی راپور په رسمي توګه ومنل شي.

د همداسې ورځې په هيله

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دریيم –دودونه او رواجونه

دا یوه ښکاره خبره ده چې هر پلرینه قوم او قبیله ځان ته دود او دستور لري، داهم څرګنده ده، چې ځیني دودونه د قبیلو په مینځ کې ډېر نږدې ګډ او یا سره ورته دي، لکه څرنګه چې ډېر دودونه او دوستورونه نږدې د ټولو پښتنو د مختلفو قبایلو او پلرینو په منځ کې سره ګډ دي، د میدان ولایت اوسېدونکي خوار ځیږه پښتنانه دي، د نورو پښتنو وروڼو په شان په دوی کې هم د خپلو ډېرو پخوانیو پلرونو او باباګانو خویونه او دودونه موجود دي، چې دا دی د میدان د سیمې د پښتنو ځیني دودونه، چې نږدې د پښتونخوا ټولو پښتنو له دود او دستور سره ګډ او یا سره ورته دي، په لنډه توګه ورته اشاره کېږي.

## جرګه:

له ډېرو پېړیو را په دې خوا د میدان ولایت اوسېدونکي پښتنانه یو دود لري او دکوزو پښتنو په شان ملي جرګې لري، چې تل ملي او پښتني قوانین د همدغې پښتني ملي جرګو له خوا تثبت او ټاکل کېږي. د پښتني ملي جرګو فیصلې او پرېکړې ته ټول پښتنانه په درنه سترګه ګوري او هغه د زړه له کومې مني. ملي جرګې له پښتني دود سره سم غالبا دوه وخته غونډه او جرګه کوي.

لومړی: هغه وخت چې غواړي د هغو ټولو پلرنیو له پاره چې په یوه معین ځای کې سره اوسیږی او له یو بل سره د ژوندانه په مختلفو څانګو کې ګډې ګټې او رابطې لري، عمومي ملي قوانین ټاکي او یا د پردیو په مقابل کې یې ګډ خط مشي تثبیتوي.

دویم: هغه وخت چې د قومونو په منځ کې لویې پېښې وشي او یا له پردیو سره په شخړو او جګړو اخته شي. یا څوک دچا لور خور وتښتوی یا څوک په قتل ورسیږی یا کوم داسې کار یا ستونزه چې خیر او شر یې ټول ولس ته رسیږي، نو بیا پښتني درنه جرګه جوړوي او له اړتیا سره سم یا پښتني ملي قوانین او خط مشي ټاکي او یا د پلرنیو اولس واقع شوې بدي، بدرنګي او شخړې فیصله او له پښتني تېرو شویو لارو سره سمه پرېکړه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتني ملي جرګې پرېکړې او فیصلې د منل شوي قانون حیثیت لري او هېڅوک نه شي کولی له هغه څخه غاړه وغړوي، که چېرې کوم یو ناپوهه سړی د جرګې له فیصلې څخه غاړه و غړوي، په ځینو حالاتو کې ناغه کېږي او په ځینو مواردو کې بېخي له قوم څخه یې وتلی بولي، د ملي پښتني لویو جرګو غړي له مختلفو پلرنیو څخه د قوم منلي سړي وي. ځینې یې په لاندې ډول تشریح کوو:

**مرکه:**

مرکه هم د نورو پښتنو په شان د میدان ولایت د پښتنو اوسېدونکو یو پښتنې دود دی او هر کله چې دوو کهولو، کورنیو یا نورو په منځ کې د هلهماتي، ګوډ، ړنه یا مرګ او یا داسې نورو پېښو، لکه ربړول او یا په کومه بله موضوع او شي باندې سره خوابدي یا اختلاف، چې د شخړې سبب ګرځي، وړاندوینه یې وشي، نو هغه څو تنه د قوم منلي سړي، د نورو پېښو د مخنیوي له پاره د یوې یا دواړو خواوو په سپارښت د مرکې د غړو په حیث وټاکل شي او دواړه ډلې مرکې ته واک ورکوي، مرکه د شخړې مسئله تر څېړنې لاندې نیسي او ګرم، ناګرم معلوموي، په پای کې د ټولو غړو په اتفاق له پښتني تېرو شویو لارو سره سم، پرېکړه کوي، د مرکې پرېکړه د موضوع په اهمیت پورې اړه لري، که پېښه وړه وي، یوازې په یوه نغواتي او یا یوه سپک شانته پور په کېښودلو سره بدې په نېکې بدلېږي او که درنه موضوع وي، نو هغه مرکه، د پېښې د اهمیت په تناسب په پړه باندې دروند پور ږدي.

«د پور د کلیمې لغوی معنا په پښتو کې قرض ته وایي، ولې دا کلمه په جزایي پښتو کې د ټولو لرو او برو پښتنو په مختلفو پلرنیو کې اصطلاحاً د تاوان په معنا منل شوې ده. پور لکه څنګه چې په لومړني بحث کې ورته اشاره وشوه، د پېښو په ډول او خرنګوالي پورې لکه مړی، ګوډ، پوزه رنګړی، مونجی، کنډاس، ټپي، ژوبل او داسې نورو سره اړه لري».

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورتنيو پېښنو کې د پېښې څرنګوالی او د هغو د وقوع د څرنګوالي په اساس او تناسب پور ورکول کېږي. د وړې نجونې او پېغلې هم د پېښې په اساس پور ورکول کېږي.

## ننواتې:

ننواتې لکه څنګه چې په نورو پښتنو کې رواج دی، د ميدان ولايت په ټولو پلرنيو کې هم يو دود دی او هر کله چې د دوو سړيو يا دوو کهولو په منځ کې شخړه يا همدغسې کومه بله پېښه واقع شي، نو بيا ګرم او پړ سړی يا کورنۍ د سپين ږيرو او منلو مشرانو په ګډون له يوه يا دوو پسونو سره د هغه بل سړي کور ته، چې تېری پرې شوی، د ننواتې په ډول ورځي او د خپلې ګرمې ښښنه غواړي، چاته چې ننواتی ورغلی وې، هغه د ننواتي او مشرانو په مخ کې ګرم ښښي او خوابدي يې په خوشحالي بدلېږي.

## د تيږې کېښودل:

د تيږې کېښودل لغوی معنا په پښتنو کې ډبره ايښودل دي، مګر تيږه کېښودل د ميدان ولايت په پښتنو کې د نورو په شان اصطلاحاً کې د تړون معنا لري، کوم وخت چې د دوو کورنيو او يا پلرنيو تر منځ کومه شخړه يا جګړه پېښه شي، نو هغه وخت ددې له پاره چې له تېري څخه يو د بل په مقابل کې لاس واخيستل شي او د پېښې د ډېرې خرپړتيا مخه و نيول شي، د منلو شرايطو منځګړيو له فيصلې سره سم تيږې کېښودل کېږي. دا تيږه د نه تېري کولو تړون حکم لري، وروسته له هغه چې تيږه کېښودل شوه او د دواړو خواو له لوري ومنل شوه. مشران د دايمي روغې اوپرېکړې له پاره ټاکل کېږي او ترهغه وخته پورې چې مشران کومې پرېکړې ته نه وي رسېدلي، يو په بل تېری نه کوي. د تيږې کېښودل د ميدان ولايت د پښتنو په منځ کې دوه ښې لري:

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی: دا چې د تیرې کېښودل په ځینو حالاتو کې د یوې موقتې متارکې حکم لري، ترڅو چې مشران د شخړې د پرېکړې له پاره خبرې، مرکې او جرګې کولو ته وخت ولري.

دویم: دا چې د تیرې کېښودل د پښتنو په منځ کې د تل له پاره داسې تړون لري، چې هېڅ وخت به یوه خوا په بله خوا تېری نه کوي.

## د پلو غوټه کول:

د میدان ولایت د اوسېدونکو پښتنو په منځ کې د ښځو پلو غوټه کول هم یو دود دی او کله چې د چا له خوا په کوم سړي یا کورنۍ باندې تېری وشي، یا کوم کهول او پلرینه څوک ربړوي او ناروا ورسره کوي. نو بې وسه بې زوره بې پیسو ربړېدلی سړی یا د هغه کورنۍ د مشر کور ته ورځي او د هغه مشر د مور، ښځې لور یا ترور پلو غوټه کوي، د چا د ښځو د پلو غوټه کول د هغه کور ته د ننګ وړلو حکم لري. نو همدغه سبب دی، چې د پلو غوټه کولو په احترام چې ټول پښتانه هغه ته په درنه سترګه ګوري، له هغه سره ملګری کوي او ملاتړ یې شي او تېری کوونکی او یا ربړوونکی مجبوروي، چې له ربړولي سړي سره پښتو ته کښېني او حق ومني او که پړه او پور پرې ورغی، پړه او پور ته غاړه ږدي.

پورتني رواجونه چې ذکر شول، د میدان د سیمې د پښتنو په منځ کې د یوه قانون شکل ځان ته غوره کړی او له بل پلوه له پرېکړې څخه یې هېڅوک ځان نه شي ژغورلی، که دې واقعیت ته په غور سره ځیر شو، نو دغه قانون (پښتو پرېکړه) د داسې موضوعاتو له پاره د خلکو په منځ کې وضع شوي، ترڅو خلک له یوې خوا نه له بدیو شخړو، جګړو او ظلم زیاتي څخه لاس په سر شي او د مظلوم حقونه تر پښو لاندې نه شي او له بل اړخ نه له اقتصادي او مالي تاوان نه په امان کې پاتې شي. یعنې کله د کومې شخړې یا جرګې وروسته څوک چاته عارض شي، نو بیا له ډېرو ستونزو سره مخامخ کیږي. څنګه چې تجربو ثابته کړې ده، د رسمي تحقیقاتو لمنه ډېره اوږده ده، ظالم او مظلوم دواړه له ډېرو ستونزو (لکه: اقتصادي،اجتماعي مشکلات ) سره مخامخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي، تر هغه پورې چې دوی لـه سترې محکمـې څخـه فيصـله اخلـي، نـو خامخـا دا موضوع تر خپل وروستي پړاو پوري څو څو کاله هم دوام کوي او دوی په سرګردانۍ ورپسې شپې او ورځې د حکومت په بېلابېلو دفترونو کې تېـروي، نـو ځکـه دا پـورتني مقررات د پښتنو په منځ کې د اقتصادی ستونزو هوارولو او د راتلونکو نسلونو لـه پـاره د يوه قانون په توګه پرېږدي.

## ټولنيز دودونه:

د دې سيمې خلك نارينه او ښځې د بشـرپالنې احسـاس لـري، پـه ضـعيفانو بانـدې رحـم، لـه مظلومـانو سـره مرسـته، د يتيمـانو او خوارانـو لاسـنيوی، د لويـانو او مشـرانو درناوی، په کوچنيانو او کشـرانو بانـدې شـفقت او مهربـاني کـول، د ناروغـانو پوښـتنه کول، په شجاعت، سخاوت او ځوانمردۍ کـې يـو لـه بلـه څخـه مخکـې کېـدل د دې سيمې د خلکو ځانګړي صفات دي. د دې سيمې په هر کلی کې جومات شته چې پـه هغه کې ملا مېشته وي، څو خلك خپل پنځه وخت لمونځ په جماعت سره ادا کړي او په جامع جوماتونو کې يي مولوي شتون لري چې مدرس ملا ورته وايـي او طالبـانو تـه ديني درسونه وايي او دغه ملايان د کور کلي هلکانو او نجونـو تـه د دينـي درسـونو او قران کريم تدريس کوي.

د ميدان د سيمې ځينې ټولنيز دودونه او رواجونه په لاندې ډول درپېژنو:

### د واده دود او دستور:

په ميدان ولايت کـې د واده مراسـم د هلـك او نجلـۍ پـه خوښـې او رضـا پـورې مربوط نه دي، بلکې واک يې د هغوی د پلار او مور په لاس کې دی، هر وخت چـې مور او پلار وغواړي، خپل ځوان او زلمي زوی ته واده وکړي، نو په قوم يا ټبر کـې او يا کوم کوم بل کلي کې د هغه له پاره وړ او لايقه نجلۍ لومړی خوښوي او بيا يـې پـه پټه خوله احوال ورلېږدوي، د نجلۍ پلار يا ورور که هلك ونه پېژني، لـومړی د هلـك

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کړو وړو په هکله له ځینو کسانو پوښتنه کوي، کله یې چې خوښه راغله، نو بیا سره کېني، زیاتره کسان په همدغې لومړۍ ناسته کې د خپلې غوښتنې او خرڅ مصرف یادونه ورته کوي، چې دومره پیسې، سره زر، وریجې، غوښه او نور... به راکوې، که یې موافقه سره راغله، نو بیا د ستن او تار په نامه رومال او خواږه ورکوي. بیا د کوژدې مېلمستیا برابروي چې د سلو کسانو په شاوخوا کې نارینه او ښځینه نږدې خپلوان رابولي.

په دې سیمه کې زوم حق نه لري، چې مخکې له واده څخه د خسر کور ته لاړ شي، که کوم کس خپل زوم ته اجازه ورکړي بیا هم زوم نه شي کولی، چې په رڼا ورځ د کلتوري ممانعتونو په نظر کې نیولو سره د خسر کور ته ورشي، که ورشي، نو د هغه کلي ځوانان ورسره خپل مخالفت په غیر مستقیمه بڼه داسې ښیي، چې که زوم په خپل کلي کې ګیر کړي، یواځې کمیس او پرتوګ ورپرېږدي، نور هرڅه چې ورسره وي، ټول ځینې اخلي، جیبونه یې لټوي، جمپر او واسکټ ترې وباسي او په بد حالت یې بېرته خپل کور ته لیږي.

د کوژدې په جریان کې زوم باید د اخترونو او د هر فصل په راتلو سره د همغه فصل مېوې د خسر کور ته ور وړي او یوه ډوډۍ هم د ناوې د نارینه خپلوانو له پاره چې (پای وازي ورته وایي) برابروي او په پای کې په ټولو کالي، لونګۍ او پټوګان وېشل کیږي، په پای کې مکمل لست د زوم کور ته ورکوي، وروسته تر دې د واده ورځ ټاکل کیږي او تر واده یوه ورځ مخکې د نجلۍ کور ته د واده خرڅ ور وړي، چې د خوړې په نوم یادیږي، واده ماسپښین شروع کیږي، کله چې ټولې ښځې راټولې شي، بیا د بدلو (سندرو) په ویلو سره د ناوې کور ته ځي او ناوې ته افغاني کالي وراغوندي او پر ناوې شال غوړوي. د زوم خور، خاله، عمه د ناوې موټې خلاصوي او بېرته خپل کور ته راګرځي، خو درې څلور ښځې د خېښنو په نامه د ناوې په کور کې پرېږدي، د شپې له مخې نارینه خپله مېله په ډول او سرني او ښځې په چمبې نمانځي، په پای کې د زوم او ناوې د لاسونو په سره کولو سره خپله مېله پای ته رسوي، کله چې نایی د زوم د یوه لاس ورغوي کې په نکریزو ګرده حلقه رسم کړي، نو یې لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مخصوصه ټوټه کې چې د نجلۍ کورنۍ ورته را استولې وي، لاس ورتړي بیا نـایي په ټول مجلس را ګرځي او لاسونه یې ورسره کوي، په پای کـې د زوم لـه پـاره د ښـه ژوند دعا کیږی او هر څوک نایي ته پیسې ورکوي، تردې وروسته مېله سرېږي. سبا د کلی ځوانان د سحر تر لمانځه وروسته له نایي سره کومک کیږي او خپـل رواج شـوی پخلی پخوي، د لسو بجو په شاوخوا کې کله چې نایي خپل کار سـپک کـړي، نـو غـږ کوي چې راځې ځوانانو! چې د زوم وېښتان جوړوم، بیا ځوانان راټول شي، نایي د زوم وېښتان جوړ کړي او خپله لمن وغوړوي، بیا ټول ځوانان ورتـه پیسـې ورکـوي تـر دې وروسته ټول مېلمانه له زوم سره یو ځای د (ورا) پـه نامـه د نـاوې د کـور پلـو حرکـت کوي، د غرمې ډوډۍ د ناوې په کور کې خوري، تر ډوډۍ وروسـته نـاوې تـه شـفتلي رنګه جامې ور اغوستل کیږي، نکاح تړل کیږي، تر دی وروسته نایي یوه یـوه هګـۍ د زوم ورور په اشارې سره له خوړو سره په مېلمنو وېشي چې ګل ورته وایي او په مقابل کې هر کس پنځوس افغانۍ ورکوي، بیا یو کم شمېر مېلمانـه یـوی خاصـې خـونې تـه ځي، دوی ته د ناوې له پاره له پخې شوې مالیدې ورکول کیږی، تر دې وروسـته زوم ته د ناوې په لاس جوړ شوي خامک کالي او څادر وراغوستل کیږي، ناوې به پخوا په سره جوړه کې وه، خو اوس په سپینه جوړه کې په کجاوو یا موټر کې د زوم کـور تـه راوړل کیږي، تر ښکته کولو وروسته د ناوې په پښو کې پسه یا چرګ حلالېږي، دلتـه بیا نایي دروازه نیولې وي او پیسې غواړي، تر دې وروسته بیا ناوې کور ته دننه کېږي، ترڅو یوه غوا او کوټه ور نه کړل شي، بیـا پـه نـاوې بېلابیلـې ټـوټکې تـر سـره کـوي، ماشوم په غېږ کې ورکوي چې اولاداره شي، په تناره، بېلابېلو کوټو یې ګرځـوي، پـه دېوال کې مېخ پرې ټک وهیي، یوه هګۍ یې تر پښې لاندې کوي او بیا یې پـر تخـت دروي او ټولو راغلو ښځو ته یې مخ ورښکاره کـوي، بیـا ټـولې ښـځې د روی دیـدنی (مخ کتلو) په نامه د ناوې یوې خپلې ته پیسې ورکوي او هغه بیا هر چا ورکـړې پیسـې نورو ښځو تـه اعلانـوي او د څـو دقیقـو لـه پـاره زوم ورسـره دروي او بیـا دواړه هلتـه کښېنوي، دلته نو زوم او ناوې دواړو له خوا کوښښ کیږي، چې لومړی کښېني، ترڅـو د بل سیوری پرې ونه لـوېږي. نـور نـو واده خلاصـیږي، پـه درېیمـه ورځ زوم لـه شـلو دېرشو کسانو سره د ناوې کور ته ورځي چې د درېیمې په نامه یادیږي، په اوومـه کـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په همدومره شمېر کې ښځې د ناوې کور ته د هغې د پلار او خپلوانو لـه خـوا اخيسـتل شويو سوغاتونو او ډاليو سره راځي، تر يوې دوو مياشتو وروسته ناوې لـه لـس پنځلسـو ښځو سره د پلار کور ته ځي.

## د مړي د ښخولو دود او دستور:

که خدای(ج) مه کړه د چا کور کې مړی وشي، تر هر څه د مخـه مـړي تـه غسـل ورکول کېږي، که دومره وخت وي چې د خيروخيـرات او طريقـې تابيـا يـې ونيـولی شي، نو يې نيسي، لومړی باتجربه کسان د مړي پلرنۍ هديرې ته د قبر کېنـدلو لـه پـاره استوي او د شاوخوا کليو خلک او خپلـوان راغـواړي. کلـه چـې خلـک راغونـډ شـي، ملايان خلکو ته وعظ او نصيحت کوي، بيا د قران کريم ختم کوي، بيا طريقه کوي او اسقاط په مستحقو کسانو وېشي، ورپسې جنازې او تر جنازې وروسته راغلو مېلمنـو تـه ډوډۍ ورکوي، خو اوس په ځينو ځايو کې ډوډۍ ورکول په لومړۍ ورځ نه شته، خـو په ځينو ځايو کې اوس هم شته، وروسته خلک مړی د خښولو له پاره هديرې تـه وړي او په مسنونه طريقه يې ښخوي. هغه کسان چې په لومړۍ ورځ خيروخيـرات نـه کـوي، پـه دريېمـه ورځ پـه مـړي پسـې خيروخيـرات او طريقـه کـوي او څلـور څلـه د هـرې پنجشنبې په ماښام د جمعي ګي په نامه خيراتونه، يـو خيـرات پـه څلوېښـتۍ کـې او يـو خيرات په کال پوره ګۍ کې ورپسې کوي.

له پورته يادو شويو دود او دستور سربېره ځينې نور دودونه هـم شـته چـې عبـارت دي له: د نوې زېږېـدلي ماشـوم دود او دسـتور، د روژې او اخترونـو دود او دسـتور، د حشر دود او دستور، عام خيراتونه او داسې نور چې زياتره يې د افغانستان د نورو سيمو د خلکو له دودونو سره يا لږ تفاوت لري او يا يو شان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم – ادبي، فرهنګي او علمي ټولنې

په میدان ښار او ورځېرمه سیمو کې په لسګونو موجودې ازادې ادبي او کلتوري ټولنې د دې ولایت د خلکو د کلتوري هڅو او پرمختګ ښېلګې دي، چې موږ یې دلته د میدان د فرهنګي حوزې د موضوع په څېړنه او ځیرنه کې خورا مهمې ګڼو او د دغې سیمې د فرهنګي چټکتیا او بډاییتوب کچه په ښه توګه ترې معلومېدای شي. که څه هم د میدان تشکیلات په دې وروستیو لسیزو کې د درېیمه درجه ولایت کچې ته پورته شوي، خو په لنډه موده کې د ډېرو هر اړخیزو پرمختګونو لیدونکی دی، چې ښه بېلګه یې په ادبي او فرهنګي ډګر کې د دغو ټولنو شتون او رامنځته کېدل ګڼل کېدای شي. اوسمهال دغه ولایت د خپلو ګاونډېو نورو ولایتونو په پرتله په لومړي مقام کې ځای لري او له ګاونډېو سیمو څخه یې د ازادو ادبي او کلتوري ټولنو او خپرونو شمېر څو برابره زیات دی، اوسمهال ددغې سیمې د خپلواکو او ازادو ټولنو او خپرونو شمېر تر پنځوویشتو پورې رسېدلی دی، په داسې حال کې چې د دا ډول ټولنو او خپرونو شمېر په غزني ولایت کې پنځلس او په لوګر کې دغه شمېره تر لسو پورې رسېږي. دلته له دغې یادونې او پرتلنې څخه موخه دا نه ده، چې خدای مه کړه د میدان وردګو ګاونډۍ سیمې د ادبي او فرهنګي چارو له پلوه کمزورې دي، بلکې ویلی شو چې دغه سیمې هم تر بل هر وخت له ښو ادبي او کلتوري هڅو څخه برخمنې او د څرنګوالي له پلوه یې هم د کار ازښت لوړ او د افغاني او پښتني فرهنګ په لوړتیا کې خورا مهم دی. دلته دغه یادونه یوازې د میدان وردګو د ادبي او کلتوري چټکې ودې د جاج اخیستنې په موخه وشوه. د یادولو ده، چې میدان مېشتې رسنۍ او ټولنې د څرنګوالي له پلوه له یوه سره د زیاتې ستاینې وړ نه دي. که څه هم دلته په دې کتاب کې د هرې ټولنې، اثر او خپرونې د ښه کیفیت او کار د ارزونې او ژورې څېړنې هڅه نه ده شوې، خو په عمومي توګه ویلی شو، چې د څرنګوالي په پرتله یې د ډېروالي تله درنه ده.

خالد بن ولید لومړۍ ټولنه، چې په دغې سیمه کې یې د ټولنو د جوړېدو دود او لېوالتیا رامنځ ته کړه، د خالد بن ولید ادبي ټولنه ده، چې له اوس څخه کابو ۲۰ کاله

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندې د يو شمېر ځوانو ليکوالو او کلتوري فعالينو د هڅو په پايله کې رامنځ ته شوې او د کار د څرنګوالي له پلوه هم په لومړي مقام کې ولاړه ازاده ټولنه ده.

له دغې ټولنې لږه موده وروسته په ياده سيمه کې د عهد فرهنګي ټولنه ده، چې د خالدبن وليد له ادبي ټولنې کابو پنځه کاله وروسته تاسيس او رامنځته شوې ده. له دغو لنډو يادونو وروسته دا دی په ميدان ښار کې شته مهمې ټولنې په جلا ډول په لنډه توګه درپېژنو:

## ۱- د خالدبن وليد ادبي او کلتوري ټولنه:

د ميدان د خالد بن وليد ادبي ټولنه د ۱۳۷۵لمريز کال د وري په ۱۲مه د يو شمېر ميدان مېشتو ليکوالو، شاعرانو او فرهنګي مينه والو له خوا د لومړي ځل لپاره په دغې سيمه کې تاسيس او پرانيستل شوه. د دغې ټولنې له جوړېدو سره په ياده سيمه کې د لومړي ځل لپاره د ادبي غونډو او مشاعرو جوړېدل دود او د ميدان د هنر او ادب په ډګر کې ډېر نوي زړي راوټوکېدل. دغې ټولنې په ډېره لږه موده کې وکولی شول، چې د ځوان نسل په روزنه او هڅونه کې د ډېر اغېزمن رول د لرلو وياړ خپل کړي دی. د خالدبن وليد ادبي ټولنه د طالبانو د واکمنۍ (اسلامي امارت) پر مهال تاسيس او رامنځ ته شوه او د ميدان ولايت د اطلاعاتو او کلتور رياست په انګړ کې به يې اونيزې ادبي غونډې او مشاعرې جوړولې او د دولتي چارواکو له خوا هم ورته پوره درناوی او پاملرنه کېده. د طالبانو د واکمنۍ په وروستيو کلونو کې که څه هم چې ځينې وخت به چارواکو له عشقي او غنايي شعرونو څخه سرټکاوه، خو له دې سره سره يې د ميدان مېشتو ليکوالو او شاعرانو لپاره دا زمينه برابره کړې وه، چې د کابل او ننګرهار او نورو ولايتونو په سترو ادبي او فرهنګي غونډو کې ګډون وکړي او د نورو سيمو له شاعرانو او ليکوالو سره وګوري. بايد يادونه وکړو، چې له دغو ټولو سره سره د ميدان د خالد بن وليد ادبي ټولنه، لکه څنګه چې له نامه څخه يې ښکاري، يوه رښتينې نادولتي او بې لورې ازاده ټولنه ده او تر اوسه يې هم کار او زيار د خپلې هېوادنۍ ادبي، فرهنګي مينې، خپلې ژبې او خلکو ته د چوپړ له بريده تېری نه لري. د يادونې وړ ده چې يادې ټولنې پر ستېج ډېرې تمثيلي پارچې هم ننداري ته وړاندې کړې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۲- عهد کلتوري ټولنه:

د عهد کلتوری ټولنه چې په ۱۳۸۲لمریز کال کې د میدان ښار او نږدې سیمو د دیني عالمانو، روڼ اندو، ښوونکو او محصلینو له خوا جوړه شوه او زیاتره ګډون کوونکي په کابل پوهنتون په زده کړه بوخت دي. په اونۍ کې یو ځل غونډه کوي او په دې وروستیو کې یې د «عهد» په نامه د یوې دیني میاشتنۍ مجلې په خپرېدلو هم پیل کړی دی.

عهد ټولنه د دې ولایت په ځینو سیمو کې هم دفترونه جوړ کړي او په نورو ولایتونو کې هم څانګې لري.

## ۳- افغان سید جمال الدین ادبي مرکز:

د افغان سیدجمال الدین په نوم د دغه ادبي مرکز بنسټ په میدان ښار کې په ۱۳۸۶لمریز کال کې ایښودل شوی او د ځوانو غړو شمېر یې ۵۰ تنه ښودل شوی دی. د نوموړي ادبي مرکز د مشرۍ چارې د ځوان او تکړه انجنیر حیات الله له خوا سمبالیږي. د سیدجمال الدین افغان ادبي مرکز هم اونیزې او میاشتنۍ غونډې جوړوي، خو تراوسه یې د کومې ځانګړې چاپي خپرونې له شتون څخه نه یو خبر شوي.

## ۴- د افغان کاروان ځوانانو ټولنه:

د افغان ځوانانو ټولنې بنسټ د ښاغلي ذبیح الله امرخېل تر مشرۍ او مسوولیت لاندې په ۱۳۸۷لمریز کال د میدان ښار په مرکز کې ایښودل شوی دی. د دغې ټولنې د اړوندو ځوانو غړو شمېر تر ۴۵ کسانو پورې ښودل شوی او د ځوان غړ په نوم میاشتنۍ هم خپروي، چې د دې ولایت د ځوان نسل د روزنې او هڅونې په موخه په کې ښکلي ټولنیز، کلتوري او ادبي مطالب چاپیږي.

## ۵- د سلمان فارس لېسې د ځوانانو ټولنه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سلمان فارس لېسې د ځوانانو ټولنه د دې ولایت د مرکزي لېسې د ځوانانو زده کوونکو اړونده ده او په ادبي، کلتوري او ټولنیزو برخو کې فعالیت کوي. د دغې ټولنې بنسټ په ۱۳۸۴لمریز کال د ځوان لیکوال ښاغلي صالح محمد صالحي په مشرۍ ایښودل شوی دی. دغه ټولنه هم د رڼا په نوم ازاده مهالنۍ جریده لري، چې بېلابېل روزنیز، کلتوري او ټولنیز مسایل په کې خپرېږي.

## ۶- جلرېز فرهنګي مرکز:

دغه فرهنګي مرکز د دغه ولایت په جلرېز ولسوالۍ کې موقعیت لري، چې ۱۳۸۵لمریز کال کې د دغې ولسوالۍ د یو شمېر علمي شخصیتونو او فرهنګیانو زده کوونکو او محصلینو له خوا تاسیس شو او د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست سره یې نوم ثبت کړی دی. دغه مرکز علمي او فرهنګي فعالیتونه لري. وخت ناوخت فرهنګي غونډې او ادبي ناستې لري، علمي او فرهنګي مجلسونه دایروي او ځینې مهمې ورځې نمانځي، چې تردې دمه یې د سیمې خلکو له فعالیتونو او علمي هڅو څخه درونډ هرکلی کړی دی.

## ۷- ځلانده فرهنګي مرکز:

ځلانده فرهنګي مرکز په میدان ښار کې موقعیت لري، چې د سیمې یو زیات شمېر ځوانان یې په خپلو ګډو هڅو سره کارونه مخ په وړاندې وړي، مشري یې د ښاغلي نجیب الله حبیبي په غاړه ده.

دغه مرکز په علمي برخه کې ډېر فعالیتونه لري، د ښوونځیو ترمنځ علمي او ذهني مسابقې جوړوي او د سټېج په سر تفریحي او روزنیزې ډارمې وړاندې کوي. تراوسه پورې ولسي او قومي مشرانو له دې مرکز نه بشپړه خوښي څرګنده او پوره ملاتړ یې کړی دی. د دې مرکز بله مهمه موخه په سیمه کې له بېسوادۍ سره مبارزه ده، چې تل هڅه کوي د لوړ عمر کسانو له پاره د سواد زده کړې لنډمهالي او اوږدمهالي کورسونه ترتیب کړي، چې دولتي چارواکي هم تر خپله وسه ورسره مرسته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۸- استقلال فرهنګي ټولنه:

د استقلال د فرهنګيانو ټولنې بنسټ هم په میدان ښار کې په ۱۳۸۰لمریز کال ایښودل شوی او له هغه مهاله راهیسې یې اړوندو غړو، چې شمېر یې تر ۸۰ کسانو پورې رسېږي، په یو ځایي توګه د یادې ټولنې تر نامه لاندې خپل ادبي او فرهنګي خوځښتونه پیل کړي دي.

## ۹- د میدان ځوانانو ټولنه:

د میدان ځوانانو په نوم دغې ادبي ټولنې د میدان ښار په سوېل په نرخ ولسوالۍ کې په ۱۳۸۴لمریز کال ادبي او هنري فعالیتونه پیل کړل. دغه ادبي ټولنه هم په لسګونو غړي لریي، په ادبي او فرهنګي چارو بوخت او د ټولنې په اړوندو غونډو او مشاعرو کې فعال ګډون کوي. میدان ځوانانو ادبي ټولنه هم تراوسه کومه چاپي او ځانګړې خپرونه نه لري.

## ۱۰- وردګو او میدان مدني ټولنه:

یاده فرهنګي ټولنه د میدان ښار په شمال د زیمني په سیمه کې په ۱۳۸۲لمریز کال د یو شمېر ځوانو فرهنګپالو له خوا جوړه او د مشرتوب کارونه یې د ښاغلي سلیمان تنها له خوا پر مخ وړل کېږي. دغه ټولنه کومه ځانګړې چاپي جریده یا مجله نه لري او په اړوندو غونډو کې یې په لسګونو ځوان فعالین راغونډېږي.

## ۱۱- د نرخ د ځوانانو ټولنه:

یاده فرهنګي ټولنه د میدان ښار په لوېدیځ په نرخ ولسوالۍ کې په ۱۳۸۲لمریز کال د یو شمېر ځوانو فرهنګپالو له خوا جوړه او د مشرتوب کارونه یې د ښاغلي ننګیار اشنا له خوا پر مخ وړل کېږي. دغه ټولنه کومه ځانګړې چاپي جریده یا مجله نه لري او په اړوندو غونډو کې یې په لسګونو ځوان فعالین راغونډېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ۱۲- سرچشمه ادبي او فرهنګي ټولنه:

د سرچشمه فرهنګي ټولنه د میدان یوه بله اړونده ازاده ټولنه ده او مسوولیت یې د ځوان فرهنګپال ښاغلي نصیراحمد روښان په غاړه لري. دغې ټولنې په یاده سیمه کې په ۱۳۹۱لمریز کال په ادبي او کلتوري خوځښتونو پیل کړی او غړو شمېر یې تر ۷۵ کسانو پورې ښودل کېږي. د سرچشمه فرهنګي ټولنه د سرچشمه په نوم ازاده چاپي خپرونه لري او په دري ژبه خپرېږي او په خپلو پاڼو کې ښکلي ادبي او ټولنیز مطالب رانغاړي.

## ۱۳- د میدان ښځو فرهنګي او ادبي ټولنه:

د میدان ښار د ښځو فرهنګي ټولنه، لکه چې له نامه څخه یې ښکاري، د ښځو د ادبي او کلتوري فعالیتونو ښکارندویه ده او بنسټ یې د یادې سیمې د لسګونو لیکوالو اورونو اندو مېرمنو له خوا په ۱۳۸۲لمریز کال ایښودل شوی دی. د دغې فرهنګي ټولنې د مسولیت چارې د تکړه لیکوالې اغلې شاعرې نفیسې نصیب له خوا پر مخ وړل کېږي او په اړوندو غونډو کې یې د بهسودو په لسګونو فرهنګپالې او لیکوالې مېرمنې برخه اخلي. دغه ټولنه همداراز د «صدای زن» په نوم ځانګړې چاپي میاشتنۍ هم لري، په دري ژبه خپرېږي، چې د بهسود مېشتو ښځمنو د کورنۍ، ټولنیز او سیاسي شعور د لوړولو په موخه اړین او ګټور مطالب لري.

## ۱۴- د علم کاروان:

دغه ټولنه چې سږ کال یې په فعالیت پیل کړی او د ښوونځي د شاګردانو له پاره د ساینسي مضامینو کورسونه جوړوي او هم په اونۍ کې یوه ادبي ناسته لري او د هغو ځوانانو له پاره چې د ادب په ډګر کې نوی ګام ایښی او غواړي مخکې لاړل شي، یوه ښه لارښوونه کوي. نوموړی مرکز تر اوسه کو مه خپرونه نه لري. مسوول مشر په نوبتي توګه ټاکل کېږي او چارې یې پرمخ بیایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځم- لیکنیزې، غږیزې او انځوریزې رسنۍ

## (۱)چاپي یا لیکنیزې رسنۍ

### عهد مجله:

عهد په میدان ښار کې له ګوربت مجلې وروسته دویمه ازاده علمي، فرهنګي او ټولنیزه مجله ده، چې په یاده سیمه کې تاسیس او د ۱۳۸۲ لمریز کال په زمري میاشت کې یې لومړۍ ګڼه له چاپه راووته. د دغې مجلې د امتیاز خاوند د عهد ټولنه ده او د مسوولیت چارې یې د د غې سیمې د ځوان شاعر او لیکوال ښاغلي انجنیر حیات الله او مرستیالانو هر یو ډاکټر سمیع الله او ډاکټر محمدزاهد له خوا پر مخ وړل کېدې. عهد مجلې د اسلامي او ټولنیزو مطالبو ترڅنګ د ښکلو نویو معلوماتو او مطالبو په خپرولو سره په میدان ښار او نورو پښتني سیمو کې د زیات شمېر لوستونکو ادبي او فرهنګي تنده ماتوله،پنځلس ګڼې یې خپرې شوې، خو له بده مرغه له پنځه کالو را په دې خوا دغه خپرونه د مالي ستونزو له امله وتړل شوه.

### اذان مجله:

اذان په میدان وردګو ولایت کې ازاده علمي، دیني، فرهنګي او ټولنیزه ادبي مجله ده، چې په یاده سیمه کې تاسیس او د ۱۳۸۵لمریز کال په زمري میاشت کې یې لومړۍ ګڼه له چاپه راووته. د دغې مجلې د امتیاز خاوند د افغانستان د ټولنیزې اصلاح او پرمختګ ټولنې (جمعیت اصلاح) ده چې د دې ټولنې د میدان وردګو ولایت د څانګې له لوري چاپیږي. د مسوولیت چارې یې د استاد ګل حمید حمیدي له خوا پر مخ وړل کیږي. اذان مجله کې زیاتره د پوهنتون د استادانو دیني لیکنې خپرېږي، خو سیاسي او ټولنیزې لیکنې هم خپروي، کله کله د شعر او ادب پاڼه هم لري، د تاریخ پاڼې په نوم یوه ځانګړې پاڼه هم په کې شته او د دې ولایت تاریخي سیمې په کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

معرفي کېږي، چې د نوي نسل د معلوماتو د زياتوالی لـه پـاره يـو غـوره ګـام دی. اذان که همداسې پرمختګ وکړي، په سيمه کې به يـې لوسـتونکی نـور هـم زيـات شـي، د ښکلو نوو معلوماتو او مطالبو په خپرولو سره په ميدان ښار او نورو پښـتنو سـيمو کـې د زيات شمېر لوستونکو ادبي او فرهنګي تنده ماته کړې ده. تر پنځلسو زياتې ګڼې چـاپ شوې دې.خو اوس يې نامعلومو دليلو له امله نه چاپ کيږی.

## ميدان ځوانانو مجله:

دغه مجله چې په مياشت کې يـو ځـل چـاپيږي، د ۱۳۸۵لمريـز ديارلسـمه ګڼـه يـې زموږ تر ګوتـو رارسـېدلې ده، پـه زړه پـورې خبـرې، معلومـاتي او پرمختيـايي مطالـب خپروي. د دغې خپرونې د مسوولیت چارې د ليکوال همت الله امين زي له خوا پر مـخ وړل کيږي. دغې مجله د غوره مطالبو او ليکنو په خپرولو سـره زيـات لوسـتونکي پيـدا کړي دي.

## دريځ:

د دريځ په نوم مهالنی په ۱۳۸۵ لمريز کال کې تاسيس او په اتو مخونو کې په زړه پورې سياسي او ټولنيزې ليکنې او مطالب خپروي. دغـه جريـده پـه يـاده سيمه کـې د ليکوال محمداجمل "هوډمن" په مديريت او د عبـدالله "شـېرزي" پـه مرسـتيالی چلېږي. دريځ له ځوان نسل سره مرسته کوي، څو د هغوی سياسـي، ملـي او ټـولنيز شـعور لـوړ کړي او وکولی شي د هېواد ملي ګټو، ټيکاو، سـولې او پرمختـګ تـه وفـادار او لېوالـ پاتې شي او د سياسي غولونو، افراطيت، بې خبرۍ، غفلت او ړانده تقليد له ښکار کېدو څخه د ځان د ژغورلو وړتيا ترلاسه کړي.

## منه مجله:

منه مجله د منې ګل مشاعرې کمېټې له خوا په ۱۳۸۸لمريز کال کې تاسيس شـوې ده، دغه مياشتنۍ يوه علمي، سياسي، ادبي او ټولنيزه خپرونـه ده، چـې مسـول مـدير يـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګل اغا احمدي وردګ دی. د دغې مجلې تراوسه پورې یوازې یوه ګڼه له چاپه راوتلې ده.

## ملي هدف:

ملي هدف چې په اونۍ کې یو ځل د میدان وردګو ولایت د اطلاعاتو او کلتور ریاست د نشراتي ارګان له خوا خپرېږي، په اتو مخونو کې بېلابېل علمي، ټولنیز، ادبي او اخلاقي مطالب ځایوي، خو ادبي برخه یې تر نورو هغو درنه ده. په دغې اونیزه کې د ښکلو تخلیقي ټوټو او شعرونو ترڅنګ ادبي تیوریکي مضامین هم راځي، چې ځوان لوستونکي له اوسنیو نویو ادبي لارو چارو سره اشنا کوي. د دغې خپرونې د مسولیت او مدیریت چارې د میدان د ځوان لیکوال او فرهنګپال ښاغلي اورنګ مختار له خوا سمبالیږي.

## وړانګه مجله:

وړانګه میاشتنۍ د میدان د ځوانانو خپلواکه کلتوري، ادبي او ټولنیزه خپرونه ده، چې د امتیاز خاوند یې استاد عبدالجبار ابراهیم خېل دی. دغه مجله د ښاغلي استاد وحید الله همراه، استاد احمدزي افغان او محمد احسان تر کتنې لاندې په یاده سیمه کې د شپاړسو مخونو په لرلو سره د ښاغلي محمدعثمان په مسوولیت په زړه پورې ادبي، کلتوري او ټولنیز مطالب خپروي.

## پېژوان:

پېژوان د میدان وردګو ولایت د ښځو چارو ریاست مهالنۍ خپرونه ده، په ۱۳۹۱لمریز کال یې لومړۍ ګڼه چاپ شوې ده، چې د تکړه لیکوالې او د ښځو د چارو د اوسنۍ رییسې آغلې وحیدې ښکلې او یو شمېر نورو میدان مېشتو لیکوالو تر کتنې لاندې خپریږي، مسووله یې پیاوړې لیکواله او خېږونکې وحیده ښکلې او مرستیاله یې محموده تقوا ده. دا مجله هم په یاده سیمه کې په څلوېښتو رنګه مخونو کې د میدان

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېشتو ښځمنو د کورني، ټولنيز او سياسي شعور د لوړولو په موخه اړين او ګټور مطالب لري. په ياده مياشتنۍ کې د ښځو د حقونو د ساتنې، پر هغوی د تېري د مخنيوي، په ټولنه کې د ښځمنو د رول او همداراز نورې اخلاقي او روزنيزې ليکنې او مضامين راغونډېږي. د يادونې وړ ده چې د ښځو چارو رياست مخکې کومه نشريه نه درلوده.

## وينښ:

وينښ په اونۍ کې يو ځل د ميدان وردګو ولايت د اطلاعاتو او کلتور رياست د خپرنيز ارګان په توګه خپرېږي، په دغې مجله کې بېلابېل علمي، ټولنيز، ادبي او اخلاقي مطالب ځايېږي، خو ادبي برخه يې تر نورو هغو درنه ده په دې خپرونه کې د ښکلو تخليقي ټوټو او شعرونو ترڅنګ ادبي تيوريکي مضامين هم راځي، چې ځوان لوستونکي له اوسنيو نويو ادبي لارو چارو سره اشنا کوي. د دغې خپرونې د مسووليت او مديريت چارې ځوان ليکوال او فرهنګپال د ميدان وردګو د اطلاعاتو اوکلتور رييس ښاغلی محمداورنګ مختار له خوا سمبالېږي.

## سرچشمه:

دغه مهالنۍ د ۱۳۹۱ لمريز کال په زمري کې تاسيس او په خپلو څلورو مخونو کې د غوره سياسي او ټولنيزو مضامينو په خپرولو سره ډېر لوستونکي لري. د دغې خپرونې د امتياز خاوند انجمن سرچشمه دی او د مسوليت چارې يې د ښاغلي بسم الله "نادري" له خوا سمبالېږي. نوموړی نشريه په درې ژبه خپرېږي.

## مشوره:

دغه جريده د ميدان وردګو ولايت د ولايتي شورا خپرونه ده، چې په مياشت کې يو ځل چاپېږي، ديارلسمه ګڼه يې زموږ تر ګوتو رارسېدلې ده، ډېر په زړه پورې خبري، معلوماتي او پرمختيايي مطالب خپروي. د دغې خپرونې د مسووليت چارې د ليکوال سميع الله "اتل" په مرسته د ښاغلي عتيق الله "ابراهيمي" له خوا پر مخ وړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کیږي. دغه جریده په بې پوښه شپږو ساده مخونو کې د غوره مطالبو په خپرولو سره زیات لوستونکي لري.

## ځلانده راتلونکې:

دا د ولایت د مقام ځانګړې مهالنۍ خپرونه ده چې وخت ناوخت په کتابي بڼه د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست په اهتمام خپرېږی، هره ګڼه یې ۱۰۳مخونه لري او هر ځل درې زره ګڼې چاپیږي او په وړیا ډول د ولایت ټولو برخو ته رسیږي.

د منځپانګې له مخې د دغې خپرونې مطالب یوازې سیاسی رنګ لري، چې د ولایت د بېلابېلو ریاستونو کلني او شپږ میاشتیني رسمي راپورونه خپروي، انځوریز البوم هم لري، خو دا مهال یې خپرونې بندې شوې دي.

## بدلون:

د بدلون اونیزه جریده د میدان وردګو ولایت د مقام له خوا په ۱۳۸۸لمریز کال تاسیس شوه او په شپږو مخونو کې د غوره سیاسي، ټولنیزو، فرهنګي او معلوماتي مطالبو او لیکنو ترڅنګ د بیارغونې پروژو په هکله معلومات له خپلو لوستونکو سره شریکوي. د دغې جریدې بنسټګر او مسوول چلوونکی ادم خان سیرت دی او د ښاغلي صبغت الله نیازي په مرسته یې چارې پر مخ وړل کیږي.

## ګلبڼ:

د ګلبڼ علمي، ټولنیزه او ادبي مهالنۍ د ۱۳۹۰ لمریز کال په چنګاښ کې د میدان وردګو ولایت د ښاروالۍ فرهنګی ټولنې له خوا تاسیس شوه. دغه جریده زیاتره د ښاروالۍ اړوند پروژو په هکله مطالب خپروي، ددي ترڅنګ د ځوانانو د علاقې وړ بېلابېل معلوماتي، روزنیز او اخلاقي مطالب لري. ټولنیزې او ادبي برخې هم لري، بنسټګر یې د میدان ښار ځوان ښاروال انجنیر محمود امیري دی او د مسوولیت چارې یې د ښاروالۍ ادارې په غاړه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پرمختګ:**

د ولایت د مقام له دفتر  څخه خپرېده او د ۱۳۸۹لمریز کال پـه سـر کـې د اونیـزې په بڼه یې څو ګڼې چاپ شوې، چې اوسمهال یې خپرونې د ناڅرګندو دلایلو لـه مخـې بندې شوې دي.

**غښتلي ځوانان:**

دا ټولنیزه معلوماتي او ادبي مهالنۍ خپرونه ده، چې د اطلاعاتو او فرهنـګ ریاسـت د ځوانانو عمومي مـدیریت خپرنیـز ارګـان دي،موسـس او د امتیـاز خاونـد یـې محمـد اورنګ مختار، مسوول مدیر یې محمد نسیم رسا او مرسـتیال یـې ایمـل امرخیـل دي. د تاسیس کال ۱۳۹۲ لمریز دي، تر اوس پورې یو ګڼه خپره شوې ده.

**روغتیا:**

دا هغه دوه میاشتنۍ طبی مجلـه ده، چـې د میـدان وردګـو ولایـت د عـامې روغتیـا ریاست له خوا خپرېږي، د تاسیس کال یې ۱۳۸۵لمریز دی.

دغه مجله که څه هم یوه ځانګړې خپرونـه ده، چـې یـوازې د روغتیـا پـه اړه طبـي مطالـب خپـروي، خـو ځینـې نـوي علمـي او ټـولنیز معلومـات هـم پـه کـې خپرېـږی. همدارنګه دغه مجله خپلو لوستونکو ته هر وخت د سیمه ییزو هر ډول سـاري نـاروغیو د نښو نښانو په اړه معلومات وړاندې کوي او د مخنیوي لارې چـارې او لـومړنۍ طبـي لارښوونې په کې ښیي.

**سپورت:**

دا هغه دوه میاشتنۍ سـپورتي مجلـه ده، چـې د میـدان وردګـو ولایـت د سـپورت امریت له خوا خپرېږي، د تاسیس کال یې ۱۳۸۵لمریز دی.

دغه مجله که څه هم یوه ځانګړې خپرونه ده، چې یوازې د سـپورت پـه اړه ګټـور مطالب خپروي، خو کله ناکله د اولمپیک د نړیوالې کمېټې او سـپورت نړیوالـ قـوانین

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم په کې نشرېږي. همدارنګه دغه مجله خپلو لوستونکو ته هر وخت د سيمه ييزو لوبو په هکله خبرونه خپروي.

## (۲)غږيزې رسنۍ:

### د ميدان غږ راډيو

د ميدان غږ راډيو په ميدان وردګو کې لومړنۍ خپلواکه او ناپيېلې راډيو ده، چې د انټرنيوز په چوکاټ کې يې له نن څخه کابو څلورنيم کاله وړاندې په ميدان ښار کې د ليکوال او ژورنالست عبدالله جمال تر مشرۍ لاندې په خپرونو پيل وکړ. ياده راډيو دا مهال د FM په ۸۹ څپو په ورځ کې ۱۴ ساعته خپرونې لري.

ياده راډيو اوسمهال د ميدان ښار د سيمې په سلو کې ۹۲ ساحه تر پوښښ لاندې لري او د اورېدونکو شمېر يې ٦٥٠٠٠٠ تنو ته رسېږي. په پام کې ده، د دغې راډيو ځواك او د پوښښ ساحه زياته شي او د ورځنيو خپرونو وخت يې هم له ١٤ څخه ١٨ ساعتونو ته لوړ شي. د دغې راډيو د ۱۲ دايمي او ۱۸ موقتو غړو په مرسته په ورځ کې د ۶ ځلي خبري سروېس پر خپرولو سربېره، په هره اونۍ کې ۲۰ خپرونې توليد او د هوا څپو ته سپاري. په خپرونو کې يې د کورنيو، ځوانانو، ماشومانو، ديني، روغتيا، کرنې، بدني روزنې، هنر ادب او فرهنګ، کار او زيار، تفريح، فرمايشي سندرې، حقوق او قانون، ليکونو، ټيليفوني خبرو اترو، ګرديو مېزونو، مرکو، راپورتاژونو او نورې خپرونې شاملې دي.

ميدان غږ راډيو يوه خپلواکه ولسي راډيو ده، چې په افغانستان کې د ديموکراسۍ، بيان آزادۍ او مدني ټولنې د پياوړتيا او انکشاف لپاره کار کوي. ميدان غږ راډيو تل د خپلو خپرونو له لارې د خلکو ستونزې او د هغو د حل لارې چارې خپرې کړي او په اړه يې د دولتي چارواکو نظرونه نشر ته سپارلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه انانس چې د يادې راډيو تګلاره په ډاګه کوي او په شپه ورځ کې په لسګونو ځله د راډيو له لارې خپرېږي، هوبهو يې دلته رااخلو:

"ميدان غږ راډيو ازاده ولسي راډيو ده. ميدان غږ راډيو د افغاني فرهنګ د پرمختيا او د خلکو د ملي معنوي او شعور د غوړېدا لپاره کار کوي. ميدان غږ راډيو هېوادوال په هېواد کې د امن ټينګښت او د هېواد بيارغونې او سمسورتيا ته رابولي. د سولې غږ راډيو ټولې خپرونې ستاسو د نظرونو، غوښتنو، وړانديزونو او نيوکو په بنياد چمتو کېږي. ميدان غږ راډيو د FM په ۸۹ څپو اورېدلای شئ".

د اورېدونکو د شمېر له پلوه د ميدان غږ راډيو په خپرونو کې "ګېډۍ ګلونه" خپرونه لومړی مقام، "لټون" خپرونه دويم او د مشاعرې خپرونه درېيم مقام لري. د مشاعرې په خپرونه کې د ميدان وردګو د ځوانو شاعرانو د اونيزې مشاعرې ټول ثبت کړای شوی جريان کټ مټ خپرېږي.

ميدان غږ راډيو تر يو سلو پنځوسو تنو زيات ځوانان چې ډېری يې د دارالمعلمين محصلين، د مدني او فرهنګي بنسټونو غړي او د ښوونځيو ممتاز زده کوونکي دي، د ژورنالېزم د زده کړې له پاره لنډمهالو او اوږدمهالو کورسونو او ورکشاپونو ته معرفي کړل، همدا شان يې په پرکټيک لحاظ او عملي بڼه هم د خپرونو د پر مخ بېولو له پاره استخدام کړل، چې دا مهال نوموړي کسان په بېلا بېلو سيمه ييزو او ملي رسنيو کې ژورناليستک فعاليتونه لري.

د دغې راډيو د خپرونې د مسووليت چارې د عبدالله جمال او د ځوان او تکړه شاعر او ليکوال ښاغلي رحمت الله له خوا پر مخ وړل کېږي.

## د ځوان غږ راډيو

دا هم د ميدان وردګو ولايت د نرخ ولسوالۍ په سيمه کې يوه بله نوې راډيو ده، چې په دې وروستيو کې يې په اړونده سيمه کې په خپرونو پيل کړی دی. د ځوان غږ راډيو اوسمهال په شپه او ورځ کې څلور ساعته خپرونې لري، چې په هغو کې د پښتو ښکلې موسيقۍ، سيمه ييزو خبرونو او نورو خپرونو ته ځای ورکړل شوی دی. د يادې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راډيو مسوولين وايي، چې دوی به هڅه وکړي،څ و پـه راتلـونکې کـې د دغـې راډيـو وخت او خپرونو ته پراختيا ورکړي.

## جلرېز غږ راډيو

جلرېز يوه بله راډيو ده، چې د ميدان وردګو ولايت د جلرېز ولسوالۍ په سيمه کې يې په دې وروستيو کې په خپرونو پيل کړی دی. د يـادې ولسـوالۍ پـه ډېـری اړونـدو سيمو کې يې خپرونې اورېدل کېږي. جلرېز غږ هم لکه د نورو ميـدان شـتو راډيوګـانو په څېر د خلکو له ذوق او علاقې سره سمې خپرونې کوي. د دغـې راډيـو پـه خپرونـو کې پر سيمه ييزو خبرونو سـربېره نـورې پـه زړه پـورې تفريحـي، ټـولنيزې، سياسـي او ديني اخلاقي خپرونې او مطالب له چمتووالي وروسته د هوا څپـو تـه سـپاري، چـې پـه ياده سيمه کې يې زيات شمېر اورېدونکي پيدا کړي دي.

## سولې غږ راډيو

سولې غږ يوه بله راډيو ده، چې پـه يـاده سـيمه کـې يـې پـه دې وروسـتيو کـې پـه خپرونو پيل کړی دی. د ميدان ښار په ډېری اړوندو سـيمو کـې يـې خپرونـې اورېـدل کېږي. ډېوه هم لکه د نورو ميدان وردګو شتو راډيوګانو پـه څېـر د خلکـو لـه ذوق او علاقې سره سمې خپرونې کوي. د دغې راډيو په خپرونـو کـې پـر سـيمه ييـزو خبرونـو سربېره نورې پـه زړه پـورې تفريحـي، ټـولنيزې، سياسـي او دينـي اخلاقـي خپرونـې او مطالب له چمتووالي وروسته د هوا څپو ته سپارل کېږي، چـې پـه يـاده سـيمه کـې يـې زيات شمېر اورېدونکي پيدا کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# (۳)تصویري رسنۍ

## ملي ټلويزون

که څه هم په دغه ولايت کې د هېواد د ځينو نورو ولايتونو په څېر د ولايتي کومه اداره نه ده موجوده، خو په ۱۳۸۴لمريز کال په دغه ولايت کې د اطلاعـاتو او فرهنـګ رياست په چوکاټ کـې د ملـي راډيـو تلوېزيـون اداره جـوړه شـوه، چـې د هندوسـتان حکومت او ولايتي بيارغونې ډلې [P-R-T} لـه خـوا ورتـه يـو زيـات شـمېر تخنيکـي وسايل برابر شول، چې تر اوس يې خپرونې نه دي پيل کړي.

د نوموړي ولايت د اطلاعاتو او فرهنګ رياست چارواکو په وينـا، پـه دې ولايـت کې تر اوسه کومه دولتي او شخصي تصويري رسنۍ نه شته. يوازې ملـي تلوېزيـون پـه ورځ کې څو ساعته د هېواد ملې تلوېزيون خپرونې نشر کوي.

ويل کيږي چې په نږدې راتلونکي کې د دې ولايت ملي تلوېزيون خپلې خپرونـې او په څنګ کې يې يو خصوصي راديو تلوېزيون چې تجـلا نـوميږي، خپلـې خپرونـې پيلوي. په همدې هيله

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپږم- د مشاعرې تاريخي پس منظر ته لنډه کتنه

### مشاعره:

تر ټولو د مخه بايد موږ په دې پوه شو، چې مشاعره څه ته وايي؟

د دغې پوښتنې د ځواب په لټه کې به موږ فرهنګونو ته رجوع کوو، او د فرهنګونو له پاڼو به د مشاعرې په مفهوم ځان پوهوو.

د غياث مولف مولوی غياث الدين رامپوری(۱۲۰۰ـ۱۲۶۸ه ق) کښلي دي:

((مشاعره: به ضم ميم و فتح عين بر وزن مفاعله با هم شعر خواندن))

د فرهنګ انندراج مولف ليکي:

((مشاعرة بالضم و فتح عين ورا (ع) نبرد کردن به شعر با هم))

مرحوم دکتر معين د خپل مغتنم فرهنګ په دريم ټوک کې د مشاعرې په وړانـدې کښلي دي:

((مسابقه کردن در شعر خواندن از بر)).

په فرهنګ نفيسي کې يې د مشاعرې معنی داسې راوړې ده:

((مشاعره: ماخوذ از تازی، نبرد کردن شعر باکسی)).

د فرهنګونو له لوړو کښنو خو دا څرګنده شوه، چې په شعر ويلو کې مسابقه او پـه خپلو منځو کې شعر لوستل او يا هم د کاغذ له مخې پـه شـعر لوسـتو کـې مسـابقې تـه مشاعره ويلی شي.

اوس چې مود مشاعرې په مفهوم ځان لږ څه پوه کړنو را بـه شـو دی تـه چـې، پـه شکلي او موضوعي لحاظ مشاعرې څو ډوله دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

### (۱)په شکلي لحاظ:

زما د معلوماتو له مخې د شکلیاتو له پلوه مشاعرې دوه ډوله دی:

الف ـ طرحی مشاعرې: په دې ډول مشاعرو کې یوه مسری، یا یوه غزله یا یو بیت یا قصیده د مشاعرې د طرحې په ډول وړاندې کیږی، او نور شاعران د طرحې له ردیف، قافیې او وزن سره برابر خپل شعرونه لیکې او مشاعرې ته یې وړاندې کوی، لکه د ښکارندوې پر قصیده مشاعره کې چې ټول شاعران د قصیدې قافیه، ردیف او وزن له پامه نه دی غور ځولی:

د مثال په ډول د ښکارندوې غوری د قصیدې مطلع ده:

د پسرلې ښکلونکې بیا کړه سینګارونه
بیـــایـې ولـونـل په غـرونو کې لالـونه

د دې قصیدې استقبال زمونږ شاعرانو داسې کړې دی:

دا را شنه شوه دغاټول ریدې ګلونه
که نیـولی غره لمـن کې سره لالونه

(س.ش)

بیا یی وځکل له کوم خـــمه جامونه
دا د هسک پیغله چې ناځې له جنونه

(استاد بینوا)

بیاله بڼه پورته کیږی ښه بږغونه
ته وا راغـــله د بـلـیلو بـهـیرونه

(علامه حبیبی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پسرلې په راتلو خوښ شوه آسمانونه

دا پـه جـار چـې رعـدو وهـل ډولـونه

(پوهاند رښتین)

ب، آزادې مشاعرې: په دغه ډول مشاعرو کې د ردیف قافیې او وزن د ساتلو قید نشته په یوه ټاکلې موضوع کې شاعران له خپل ذوق سره سم شعرونه لیکې.

## (۲)په موضوعې لحاظ:

په موضوعې لحاظ مشاعرې پـه ډیـرو موضـوعونو پـورې اړه نیسـي، لکـه پسـرلنۍ مشاعرې، خزانې مشاعرې (لکه د ادبی ټولنې صوبه سرحد تهکال له خوا چې د ۱۹۴۸ع کال د جنوری په ۱۶شوی ده.).

د مشرانو او ادیبانو په قبرونو د کلیزو غونډو مشاعرې، دهر کلیـو مشـاعرې تعزیتـې مشاعرې، ملی مشاعرې چې ځینې خاص ملی مسایل را چاپیروی.

په پښتو ادبیاتو کې د دغو مشاعرو ټول انواع موږ لرو، او په هره موضـوع کـې یـوه دوې نه چې ځوځو مشاعرې په طرحې او آزاد ډول شوې دی، او په سل ګونو شاعرانو برخه پکې اخیستې ده.

د مشاعرو په باب د لوړ عمومې بحث له اوړدید و، چې صرف نظر وکړو، نـو بایـد اوس د پښتو په ادبیاتو کې د مشاعرو په سوابقو او لواحقو خبرې وکړو:

## پښتو ادب او مشاعرې:

که چیرې د مشاعرې د تعریف په باب د فرهنګونـو دغـه ډول کښـنې((نبرد کـردن در شعر با کسی و مسابقه کردن در شعر)) ومنو. نو دلته خو موږ په ډاډه زړه ویلاې شو چې زموږ د ادب په تاریخ کې د مشاعرو تاریخ ډیر لرغونې دی او دا ځکه چـې زمـوږ د خاص اولسې سندرو نښلیدو تاریخ ډیـر زوړ او ناپایـه دی د اولسـې ادب دغـه برخـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ کيلوالو شاعرانو له لرغونو زمانو د چاربيتو، بدلو، داستانونو، بګتيو او نورو شعری فورمونو په چوکاټ کې پاللې ده.

تر کومه ځايه چې د دغې اولسې شاعرۍ روايات مونږ ته معلوم دی، په دې شاعرۍ کې به کليوالو شاعرانو يا زمونږ د پښتوريو وروڼو په اصطلاح اخونانو په خپلو منځو کې شعرې مقابلې کولی، د خيبر ادب مولف په دې باب کښلې دي ((... زمونږ پخوانو به دی شاعرانو ته ((اخون)) ويل، د هر اخون سره به لس پنځلس شاګردان وو، او د خپل اثر او نفوذ په مطابق به يې د خپلې علاقې حدونه ټاکلې وو، بل اخون ته دا حق نه و حاصل چې په هغه حدونو کې مجلس وکړی.هو! که د يوی علاقې اخون غوښتې چې د يوی بلې علاقې اخون سره د خپلو شاګردانو تر ځان لاندې کړي، نو هغه ته بايده وو چې وړومبی خپل مد مقابل ته خبردارې ورکړی، دخبردارې نه پس به د مقابلې د پاره يو ځای وټاکلې شو، دواړه اخونان به سره د خپلو شاګردانو او نغارو په مقرر شوی وخت يو بل ته مخامخ شو.

تماشګير به ترې چارچاپيره را پنډ شو، وړومبی به د شاګردانو مقابله وشوه، د هغوې نه پس به استادان سره خوله په خوله شو، يو اخون به د چاربيتې سر کيښود بل به پرې فی البديهه کړی سوره کړه. دا شان به دواړو وار په وار د سر پورې يوه يوه کړی ترله په دې شعرې مجادله کې به چې د کوم استاد قافيه تنګه شوه، هغه به پړ تسليم شو، سره د خپلو شاګردانو او نغارو به د فتحياب اخون په پښو کې پريووت او د هغه استادی به يې ومنله)) په لوړو خبرو به زه دا هم زيات کړم، چې د اخونان په دغسې شعرې مسابقو او مقابلو کې به په لوړ شکل شعرې مقابلو سر بيره ځينی داسې پاړکی هم طرفيننو يو بل ته ويل، چې اړونه او معماوی به پکې نغښتې وی، يوه اخون چې به داسې پاړکی ووايه بل مجبورو، چې په منظومو الفاظو کې خپل مقابل طرف ته د هغې معما ځواب ووايی. د(( خيبر ادب)) د مولف خبرې د ځينو شاعرانو په لاندنيو اشارو کې هم تاييديږی لکه:

د تيمور شاه ابدالی (۱۱۸۶ـ۱۲۰۷) د زمانی اولسې شاعر شيخ احمدخان چې د خپلې يوی چاربيتې په کسر کې ويلی وو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه ((احمد خان)) وایم خوږې مسرې سندرې
خاونده خدایه د العین کړې له ما لرې
د شاعرانو که په ما راشي لښکرې
نه ترې ویریږم که د باب کوی که غورې
میر کې بلا دی د سنمدرو په مسرو کې
د لېونو په شانی ګرځم مدام غرو کې
بل مې بازګل دی چې مدام کړی چپاوونه
په زړه مې اوړی د غمونو امبارونه

د دیارلمسی پیړۍ بل اولسی شاعر شیرمحمد هم ویلی دی:

په وطن ډیر شوه شاعران

هریو ویل که له ځان

نه ګوری ردیف ته هر شاعر د خپل ځان غورې کاندې

له شعرم خبرې کاندې

کم یې نه وایم په انصاف

پوچ مې په چا نه وځی که شاعران د ټول جهان راشی

خنګ ته مې مدام راشی

زړه مې راغلې په جوش

په شان د سین که خروش

څه وکړمه خدایه لیری شاګردان شونا

زړه مې په ګویان شونا

د۱۲۰۰ه ق د حدودو اولسی شاعر بیګ محمد چې ویلې وو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دونه شاعرانو کې دازه بيګ محمد بس يمه

ښه يم يو په لس يمه

پخوا مې شاعري کړه اوس مې شغل په رباب کې

ومې ليد کتاب کې

تير شه ای شاګرده په شاعر باندې مې وار دي

سپی په لکی نار دي

ګرځم شاعرانو کې چا نه کړه پله سم دما

زړه شو پی قلم دعا

د ظريف خان(۱۲۶۴ـ۱۳۲۴ه ش) ديوی سپړی بدلی لاندې بند د خيبر ادب د يـوی برخې ښه تاييد کوی، دی وايی:

که وايی ظريف خان چې په ژړا مې سترګې سری دي

کومه د ځان وير

راغلې شاعران دی وړاندې ايښې نغاری دی

اوس څه وکړو تدبير

له خپلې شعر جاری دی د ظريف دغه مسرې دی

ګفتار که الله مير

له دغو شعری نمونو څخه هم دا څرګنديږی، چې زموږ په اولسې شـاعرې کـې لـه پخوانه شعرې مسابقې او مقابلې موجودی وی، او تر اوسه يې لابولګی په کليوالو سيمو کې ليدلې کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لوړ بحث کې خو مو دا خبرې وکړی، چې زموږ په اولسې شاعرې کې خو دغه ډول شعرې مقابلې شته او موږ د فرهنګو په روایت د خپلو اولسې ادبیاتو دغه ډول شعرې مقابلو ته د مشاعرې یو ډول ویلای شو.

زموږ د شفاهې ادب د خاصو اولسې سندرو تر څنګه په عامو سندرو کې هم د خلکو سندرې فاضل او دانشمند مولف((دوړو مشاعرې))

ضبط کړی دی، چې دغه سندرې د ماشومانو په سویه ځینی منظومې دی، چې ماشومان یې د سوال او ځواب په بڼه په خپلو منځو کې سره وایی.

اما زموظ په لیکنې ادب کې یوه معلومه تاریخې مشاعره د لوی خان له دی لاندې غزلی را زیږی.لوې خان خوشحال خان خټک(۱۰۲۲ـ۱۱۰۰ه ق)یوه غزله داسې ویلې وه:

لکه زه په یار مین یم بل به نه وی مین هسې

لکه زه پسی غمجن یم بل به نه غمجن هسې

د لوې خان دانشمند زوی عبدالقادر خان خټک(۱۰۶۳ـ۱۱۲۵ه ق)بیا د لوړی غزلی قافیه داسې ور واړوله.

لکه زه په یار مفتون یم، بل به نه وی مفتون هسې

لکه زه پسې محزون یم، بل به نه وی محزون هسې

او ددې غزلی په پای کې یې په شاعرانه غرور داسې وویل:

دا غزل په پښتو ژبه چې بیان عبدالقادر کړه

دروغجن یم که بې خانه وایې بل یو پښتون هسې

د عبدالقادر خان خټک دې شاعرانه غرور د ده هم مهالی نور پښتانه شاعران وهڅول چې د ده ځواب ووایې، په همعصرو کې:اشرف، عثمان، صدر خوشحال، غفور، عبدل، معزالله د عبدالقادر خان ځواب کړی دي او بیا محمدی

(c) ketabton.com: The Digital Library

صاحبزاده(۱۱۰۹ـ۱۲۲۰ه ق)هم په دی مشاعره کې ګډون وکا او د عبدالقادر خان خواب یې ووایه، او په دی ډول د پښتو په لیکنې ادب کې دغه تاریخې مشاعره رامنځ ته شوه.

فاضل او دانشمند استاد پوهاند عبدالشکور رشاد کاږی چې: ((په مشاعره کې په لوړو یادو شوو شاعرانو سر بیره: معاذالدین خټک پیرمحمدکاکړ، قنبرعلی خان اورکزی، مسافر مروت.

میرزا حنان بارکزی، عبدالعلی اخونزاده کاکړ، مولوی صالح محمد هوتک، سید رسول رسا او بهایی جان صاحبزاده کشانې هم برخه اخیستې ده، خو پیرمحمد کاکړ، میرزا حنان بارکزی، مولوی صالح محمد هوتک، او بهایی جان یی وزن ور اړولی دي)).

د ادبی ستوری دانشمند مولف بیا کاږی، چې! د دولسمی پیړۍ شاعران: سعیدخلیل او محی الدین د دې مشاعرې قافیه او اړولی او د هماغې تاریخې مشاعرې په استقبال یې غزلې ویلی دی، لکه محی الدین چې وایی:

یم په چا د زنخدان کې پریوتلي اسیر هسی

مدد ګار مې یې له یاره بل څوک نشته نصیر هسی

سعید خلیل:

بند په چاه د زنخدان کې چې څوک پریووت اسیر هسې

نه مدد له چا نه غواړي نه یې خوښ وی نصیر هسې

دغه مشاعره زموږ د مشاعرو په تاریخ کې د تاریخې مشاعرې په نومه یادیږی، چې قاضی عبدالسلام زیارتی هم پر دغه مشاعره د تاریخې مشاعرې تر سر لیک لاندې خبرې کړی دی، پر لوړو خبرو د راقم الحروف زیاتونې دا دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغې مشاعرې د پښتو په ادب کې زيات شهرت او مقبوليت ګټلې دی او پـه وارو وارو په موقوتو او غير موقوتو خپرونو کې چاپ شـوی ده او د معاصـرې دوری ډيـرو نورو اديبانو يې هم په استقبال شعرونه ويلې دی، لکه: کله چې زموږ لوی استاد علامـه پوهاند عبدالحی حبيبی د تاريخچه شعر پشتو رسـاله پـه طلـوع افغـان کـې خپرولـه، نـو ددغې تاريخچې په ترڅ کې يې ددغې مشاعرې قديم ويناوالـ هـم معرفـی کـړل، او د وينا وو په نمونو کې يې د همدې مشاعرې شعرونه را وړل، کله چې مشاعره ټولـه نشـر شوه، نو زموږ ځينی کندهاری شعرا يې هم وهڅول چې ددې مشاعرې اسـتقبال داسـې کړی دي:

اور لړونی د مجمر څنګ ته وی پروت په قانون هسې

په مـجلس د دلبـرانو په دې شان وای ګـډون هســې

مرحوم استاد محمـدګل نـوری(۱۳۲۰ـ۱۳۹۳ه ق) هـم ددې مشـاعرې اسـتقبال ډيـر کړی دي، چې د غزلی مطلع او مقطع يې دلی راوړم:

لکه زه يم ستا په غم کې به نه وی پښتون هســې

ستا له غمه زه محزون يم، بل به نه وی محزون هسې

لـنډ مضمون ډيـره معـنی تر ډير ښه دی په رښـتيا

دا مضمون چې نوری جوړ کې بل به نه وی مضمون هسې

د پيښور جمهوريـت مجلـی هـم د۱۹۶۰ـ۱۹۶۱م کلونـو تـرمنځ ګڼـو کـې د هسـې لرغونې تاريخې مشاعره پر له پسې په څو ګڼو کې خپره کړی ده، چې بيا يـې معاصـرو اديبانو هم استقبال او مطابعت کړی دی، لکه په لاندې غزلو کې:

بيا د زړه په مملکت مې کړه ترکانو شبخون هسې

رودله سترګو مې بهيږی چې به نه وی جيحون هسې

شاعر په مقطع کې وايی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې ښکليو ښکليو ټکيو پښتون هم کله جوړيږی

سور کفن يې وی په وينو پيژندی شي پښتون هسې

او په همدې مجله کې خپره شوی بله غزله:

زړه مې سل ځايه زخمی دی نن چې وينم پښتون هسې

در په در خوار وزار ګرځی نالان هسې زبون هسې

زموږ په قديمو ليکنېو ادبياتو کې د ((هسې)) له مشاعرې پرته بله مشاعره موږ ته نه ده معلومه، مګر قاضی عبدالحيم اثر سالارزی په خپله يوه مقاله کې کښلې دی چې:

((د هسې تر مشاعرې وروسته يا ورسره معاصره د ((وروورو)) يو بله مشاعره هم پښتنو قديمو شاعرانو کړی ده، لکه د عبدالحميد مومند (۱۰۸۰ـ۱۱۴۸ه ق) دغه غزله:

((درد دمينی کړم و مرګ ته قريب ورو ورو

له علاجه مې لاس وکيښ طبيب ورو ورو))

او په دې مشاعره کې: ابراهيم متی زی، افضل کاکاخيل، مصری خان ګګيانی، حسين، عبدالحميد مومند، نواز خټک، معزالله مومند، کاظم خان شيدا، دوست محمد، نانی حميد(بيدل هشنغری) او عبدالله محزون برخه لرلی ده)).

کله چې ما د حاجی جمعه ديوان چاپ ته برابر اوه، نو د ده د ديوان د دغې غزلی:

((نن د باغ په لوری تله که صنم وروورو

په خمار کاته که همدم وروورو))

په ارتباط مې غوښتل چې دا غزله هم ددې مشاعرې په پيروی ويل شوی غزله وبولم، ډير محترم استاد ستر محقق پوهاند رشاد زه له تيروتنې وژغورلم، او را ته يې ووی چې دا مشاعره نه ده، په طرحی مشاعرو کې د رديف، قافيی او وزن ساتل ضرور

(c) ketabton.com: The Digital Library

وی، او د جمعه او نورو دغو ټولو شاعرانو په غزلو کې دغه قانون نه دی ساتل شوی، نو له محترم استاد پوهاند رشاد څخه په مننه مې هغه بحث له خپلو ليکنو وايسته.

اوس به د اثر افغانی خبرې په خپل ځای پريږدو، او را به شو اصلی مقصد ته چې: هغه د مشاعرو تاريخ دی په لرغونی مدون ادب کې بلـه داسې مشاعره مـوږ تـه نـه معلوميږي.

مګر کله چې د شلمی عيسوی پيړۍ په اوايلو کې پـه لـره پښـتونخوا کـې د پښـتنو ملی غورځنګ پيل شو، او د همدې پيړۍ د لومړۍ نيمايی په اواخرو کې پـه افغانسـتان کې زموږ مشرانو پښتنو عالمانو پښتو روزلو ته مـلا وتړلـه نـو د کـوزې پښـتونخوا ملـی نهضت او د برې هغې ادبی نهضت زموږ په ادب کـې د مشـاعرو لـه ودی سـره مرسـته وکړه او لروبر په سل ګونو، سياسی، ملـی، تعزيتـی د هرکليـو او پـر مزارونـو مشـاعرې وشوی، د ځينو مشاعرو رويدادونـه هـم چـاپ شـول. د پښـتو د ودی ټـولنې رامـنځ تـه شوی،چې د دغو ټولنو په اهدافو کې د مشاعر جـوړول شـامل وو، دا چـې دغـه بحـث مويو څه مستند وړاندې کړی وی، نو زه به د پښتو روزنی په مراکزوکې د شتو اسـنادو له مخې د مشاعرو سير وڅيړم.

## د پښتو مراکز او مشاعرې:

د پيړيو په پوړيو کې: غور، کندهار، پيښور، کوټه، ننګرهار او بيـا وروسـته کابـل د پښتو پالنې د مراکزو حيثيت در لود، البته غور د پښتو روزنی خپل پخـوانې عظمـت لـه لاسه ورکړی دي، خو په نورو مراکزو کې لاتر اوسه وسه، يا زمـوږ د پښـتنو پـه ذاتـی ذوق او کله هم د پاليسيو له مخې پښتو پالنې ته هڅه شوی ده، او دغو هڅو په معاصره دوره کې زياته وده وموندە، چې له دغو هڅو سره جوخت پښتو مشاعرو ته هـم توجـه وشوه، لاندې به زه په دغو مراکزو کې شوی مشاعرې در وښيم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

### (۱)په پېښور کې:

کله چې په لره پښتونخوا کې د آزادۍ خواهانو مبارزه له انګرېزي استعمارګرو سره ګړندې شوه، نو دغې مبارزې سره ادب هم ملګری و، مبارزینو او مفکرینو به غونډې کولې دغونډو په ترڅ کې به مشاعرې کېدې د دغو ملي مبارزو په جریان کې چې کومې مشاعرې شوې دي، دهغو مشاعرو زیاتره اشعار زموږ د ژبې د معاصرو اشعارو له ډېرو ښوفکرې اثارو څخه ګڼل کېږي.

دلته یوه بله خبره هم د یادونې ده، چې د ملي او استعمار ضد مبارزینو د مشاعرو ترڅنګ استعماري دولت او د هغو ګوډاګیو هم د دغو ملي مشاعرو د بې پدله کولو له پاره په اسلامیه کالج کې مشاعرې کولې.

یوه له هغو مشاعرو څخه چې په ۱۹۲۶ع کال په اسلامیه کالج کې شوې وه، په دې طرح وه:

((نظاره که غواړې راشه لیلا پرېږده))

اما په مقابل کې چې کومې مشاعرې د انجمن اصلاح الا فاغنه له خوا شوې دي ټولې ملي رنګ لرې ددغو مشاعرو طرحې دا دي:

((که زلمی چیرې په خپل وطن قربان شي))

((جنګ د آزادۍ له همیشه زلمي وتلې دی))

((خاوندہ ته ودانه کړې زموږ د یووالي حجره))

((نه کلونه د غلام په غلامۍ کې

((که خازې شنې مې په قبروې ولاړې))

((که دې خیال د آزادۍ د خپل وطن وي))

د لومړۍ طرحې مشاعره د۱۹۲۷ع کال پسرلي په اتمانزو کې د انجمن په کلیزه جلسه کې شوې وه، او مرحوم خلیق صاحب(۱۳۵۶ه ق مړ) یې یاد داسې کړې دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دایي طرحه وه که یاد دي هغه آن شی!

((که زلمی چیري په خپل وطن قربان شی))

په دي لوړه مشاعره اعلی او انتخابی نظمونو ته تحفی او انعامونه هم ورکړل شوی وو.

د شپږمی طرحی مشاعره۱۹۲۸ع کال په پسرلی کي د حاجی عبدالغفار تر صدارت لاندي شوی وه، او دوړاندي کال د مشاعري په ډول په دي مشاعره کي هم انعامونه ورکړل شوی وو، د دوهمس طرحی مشاعره د ۱۹۳۰ع کال د اپریل په ۲۱ نیټه بیا په اتمانزو کي شوی وه، د دریمی طرحی شعر د پښتو مشهور ملی شاعر فضل محمود مخفی صاحب(۱۸۸۴ـ۱۹۴۷ع)دی، چي د پښتنو ستر مشر خان عبدالغفار خان خپل کتاب زما ژوند او جدوجهد ور ته اهدا کړی دی.

د پنځمی طرحی شعر د خان عبدالغنی خان دی، خو د دغو طرحو مشاعرو تاریخ مي يي نه کړ پیدا. د دغسي سیاسی او ملی مشاعرو ترڅنګه ورو ورو ادبی مشاعرو ته هم مخه وشوه. دغه مهال د نوښار ادبی جرګه((د پیښور بزم ادب)) او نوری جرګي رامنځ ته شوی، دغو جرګو د ملی او سیاسی مشاعرو ترڅنګه ادبی مشاعري هم پیل کړی، لکه د ژبپالني ښاغلی او دانشمند لیکوال چي لیکي:

((د بزم ادب د جوړیدلو په وړمبی کال د رحمان بابا د کلیزي مشاعري ډبره کیښوده شوه، او د دي اولنۍ مشاعري مشر عبدالستارشاه مرحوم و. بزم ادب له ۱۹۳۷ع بیا تر ۱۹۴۹ع پوري پرله پسي د بابا په مزار غونډي او مشاعري وکړی)) (ژبپالنه ص ۱۴۰ـ۱۴۱)

دغه ډول د نوښار د ادبي جرګي له خوا د ۱۹۳۸ع کال د اګست په ۲۰نیټه د لوی خان خوشحال خان په قبر مشاعره وشوه، چي طرحی يي دا وه:

((دلته په ایرو کي خلقه لعل د بدخشان وینم))

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې ډول د پښتو ادب د دغو دوونو میالیو پر مزار ونو د ادبی غونډو او مشاعرو جوړیدل پیل شول، چې دا دي تر اوسه جریان لری او له پیښوره سره بیره په کوټه او کابل کې هم د دوی په یاد مشاعرې شوی او کیږی.

د ادبی اتلانو پر مزارونو د مشاعرو په لړ کې د حمید بابا پر مزار مشاعرې هم د یادونې وړ دی چې دغه لړۍ له ۱۹۵۷ع کاله پیل شوی ده او پر دې مزار د یوی بلې مشاعرې بندو بست په ۱۹۷۲ع کال شوی و.

د شلمې پیړۍ د لومړۍ نیمایی په څلورمه لسیزه کې چې د سیاسی او ملی مشاعرو تر څنګ ادبی مشاعرې هم په شمال مغربی سرحدې صوبه کې پیل شوی، نو دغو خلکو سیاسی ملی او ضد استعمارې مشاعرې هم کورت هیری نه کړی. د۱۹۳۹ع کال په پسرلی کې د سرحد د پښتو

ادبی جرګې یوه بله اجتماعی مشاعره وکړه، چې طرحی یې دا وه:

((د شیر شاه په شان نظام د افغان و کړه))

بله ملی مشاعره د ۱۹۳۸ع کال په لومړنیو دریو څلورو میاشتو کې په تهکال کې وشوه، په دې طرح : ((آزادی نشان په لاس فخر افغان راغي))

ددې مشاعرې خبر او د مرحوم خلیق صاحب شعر پښتون مجلې د ۱۹۳۸ کال د مې د اولی نیټې د ګڼې په ۱۰ مخ کې خپور کړی دي.

په شمال مغربی سرحد صوبه کې د مشاعرو جریان تر ننه ګړندې روان دي، چې له مفصلاتو سره د ټولو څیړل ځانله کتاب غواړی، موږ دلې صرف په دې پوه شوو، چې د پښتو په دغه ادبی مرکز کې مشاعرې کله او څنګه پیل شوی، چې ترننه پورې ګړندې روانې دی .

## (۲)په کندهار کې:

په کندهار کې د پښتو مشاعرو په باب له ما سره کره او باورې مواد نه وو، نو اړ شوم، چې له استاد پوهاند رشاد څخه په دې خصوص کې پوښتنه وکړم، استاد را ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل، چې له ۱۳۱۰ه ش را پدې خوا په کندهار کې معاصرې مشاعرې پیل شوی دي، خو کله چې د کندهار ادبی انجمن جوړ شو، او پښتو مجله یې نشر کړه، نو د مشاعرو لپاره هم زیاته زمینه مساعده شوه.

د محترم دانشمند استاد پوهاند رشار له دې یادونې په مننه مې د پښتو مجلې کلکسیونونو ته رجوع وکړه، ددې مجلو په پاڼو کې مې د درې مشاعرو څرک وایست د یوی مشاعرې طرح دا وه:

بخت تل کړی د هغو سره یارې ده

چې په ټینګه یې پاللې دینداري ده

په دې مشاعره کې: ولی محمد مخلص، غلام نبی، سید حسن، مسلم ملا رحمت الله، محمدعثمان خان پښتون، محمد ویس خان کاکړ، محمد عیسی او مولوی خادم برخه اخیستی وه.

د بلې مشاعرې طرح دا وه:

پښتو بلبل د پښتنو پر چمن بیا راغی

په سفر تللی ورک دلبر د وطن بیا داغی

دغه مشاعره د ۱۲۱۳ه ق کال د کب په ۲۵ نیټه شوی وه، په دې مشاعره کې محمد ولی مخلص، رحمت الله، محمد عیسی او غلام نبی برخه اخیستی وه.

دبلی مشاعرې په باب چې د پښتو په پاڼو کې څه موندل کیږي، هغه د عسکر په باب آزاده مشاعره ده، چې د ۱۳۱۳ه ش کال د حمل په میاشت کې د کندهار د فرقې په باغ کې جوړه شوی وه، پدې مشاعره کې، مخلص، پښتون، خادم، خدایرحم، سید حسن، غلام نبی او محمدشریف جانان برخه در لوده. ددغې مشاعرې کوم خبر چې په پښتو مجله کې خپور شوی دی هورې یې کښلې دی چې: څلورمه مشاهره اما ما ددې مجلې له پاڼو همدا درې مشاعرې پیدا کړی، پر بلی یې پیښ نه شوم، په کندهار کې مشاعرې په لوړ ډول پیل شوی دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## (۳)په کابل کې:

کله چې د کندهار او کابل د ادبی انجمنونو د یو ځای کیدو وروسته پښتو ټولنه جوړه شوه، دغې ټولنې د خپلو نورو هڅو تر څنګه پښتو مشاعرو ته هم وده ورکړه، او په لس ګونو مشاعرې ددغې ټولنې په اهتمام د مختلفو تقاریبو په ویاړ جوړې شوی.

زما د معلوماتو له مخې په ۱۳۱۷ه ش کال د رحمن بابا مشاعره دغې ټولنې جوړه کړې ده، او د مشاعرې طرح د ښاغلی زمریالی دا مسرې وه:

((د پښتون خدمت په شان د رحمن و کړه)) په دې مشاعره کې: زمریالی سعدالله خان، خادم، الفت، محمدشریف حبیبی، محمدګل نوری، جرار، پوهاند رښتین او اخلاص برخه درلوده.

بله مشاعره د پښتو ټولنې د غړو له خوا د۱۳۱۸ه ش کال د ثور په میاشت کې وشوه، په دې مشاعره کې (چې طرح یې د مرحوم استاد خادم (۱۳۵۸ه ش مړ) دا مسرې وه: ((څه علاج دبهبود د وطن دي په کار))

مرحوم استاد الفت، اخلاص، زمریالی او مرحوم میا او رادالدین برخه پکې در لوده.

د پښتو ټولنې له خوا مشاعرې په دې ډول پیل شوی، او کال په کال به په مختلفو موضوعونو او تقاریبو ددې موسسې له خوا مشاعرې کیدی، وروسته د رحمن بابا پسرلنۍ مشاعره او د پښتونستان د ورځې مشاعره د راډیو په تالار کې ثبتیدلی او رویداد به یې د کابل په مجله کې خپریده، د رحمن د پسرلنۍ مشاعرې یو رویداد مستقل هم چاپ شوی دي.

البته دا باید ووایو: څومره کار چې پښتو ټولنې د پښتو مشاعرو له پاره کړی، هغه د هیرولو نه دي دغې موسسې د رحمن بابا د ۱۳۵۷ه ش کال پسرلنې مشاعره هم وکړه، اما تر هغې نیټې وروسته یې بیا بله مشاعره نه ده کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مشاعرو ابتکار اوس د قبایلو وزارت اخیستی دی، او په دې وروستیو دوو کلونو کې یې دری څلور مشاعرې کړی دی.

دلته دا هم د یادونې وړ ده، چې په تیرو څلویښتو کلونو کې له پښتو ټولنې سربیره د ځینو نورو فرهنګي موسسو له خوا هم مشاعرې شوی دی، لکه: د استاد اجمل ختټک پر دې غزل:

((ساقی چرته کاسه نیمه شراب لری که نه؟

په خوا کې چر ته چنګ ویار باب لری که؟))

د راډیو افغانستان له خوا مشاعره شوی چې رویدادیی په مستقل شکل چاپ شوی هم دي. په کابل کې د پښتو مشاعرو په باب همدو مره تفصیل بس دي، که نه وی یوازی هغه پښتو مشاعرې چې په کابل کې د پښتو ټولنې او نورو موسسو له خوا شوی معرفی یې یوه رساله غواړي.

## (۴) په ننګرهار کې:

په ننګرهار کې د شوو مشاعرو په باب هم له ماسره څه خاص معلومات نه وو، په همدې توسن زه اړوم، چې په دې کې له محترم مشر څیړندوی عبدالله بختانی خدمتګار نه تپوس وکړم، د زیاتو مصروفیتونو سره سره یې له ما سره یوه ورځ دوه ساعته د ننګرهار په مشاعرو خبرې وکړی، چې د هغو خبرو لنډیز زه دلته وړاندې کوم.

په ننګرهار کې د مشاعرو پیل د مرحوم استاد الفت د اتحاد مشرقی (اوس ننګرهار) د اخبار له مدیریت سره اړه لری. کله چې نوموړی استاد الفت په **۱۳۵۲**ه ش کال د اتحاد مشرقی مدیر شو، نویی د همدې کال په میزان یا عقرب کې دغه شعر :

((چې په عالم کې د نفاق اورونه، نه بلوی

په اتفاق باندې راضی وی فسادنه جوړ وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اتحاد مشرقی په پاڼو کې خپور کړ ددې شعر په استقبال ډیرو شاعرانو شعرونه وویل، چې ټول د اتحاد مشرقی په پاڼو کې نشر شوی دي، او په طبیعی ډول یوه مشاعره ترې جوړه شوی ده.

بیا د ننګرهار یوه لیکوال او شاعر په اتحاد مشرقی کې خپل یو شعر د مشاعرې د طرحی په توګه وړاندې کړ، چې د هغه په استقبال هم شاعرانو شعرونه وویل یوه بله مشاعره ترې جوړه شوه، او شعرونه یې د هماغه اخبار پاڼو خوندې کړل، د شعر مطلع دا ده:

راځی، غرونه ښارونه کړو نور نه او سو غارونو کې

سل قیامته تیر شول مونږ پراته یو په قبرونو کې

بیا بله مشاعره چې د اتحاد په پاڼو کې چاپ شوی، د لاندې طرحی په استقبال ده:

((بادونه د خزان غوټی خندا ته نه پریږدی))

بله طرحی مشاعره، په دې مسرې جوړه شوی ده:

((که ویښ زلمی ومه وطن به کړم بیدار یو ځلی))

له ۱۳۳۰ه ش کال نه وروسته د ننګرهار د سیمی شاعرانو، لکه: خدمتګار ـ بینا، کمین، لیوال، قتیل او نورو وخت په وخت د ننګرهار په بیلا بیلو سیمو کې مشاعرې کړی دی چې د څو مشاعرو یادونه به بې ځایه نه وی، لکه:

د ۱۳۳۴ه ش کال په جدی کې د جلال اباد په ښار کې د دغو شاعرانو ترمنځ مشاعره شوی وه، چې په مشاعره کې د څیړندوې بختانی د ویل شوی شعر مطلع دا ده:

میدان د سر بازی کې عاشقان لوبی کوی

صحنه د قربانی کې سر بازان لوبی کوی

۱۳۳۶ه ش کال د جوزا په میاشت کې د جلال آباد په ښار کې د همدغو یادو شوو شاعرانو ترمنځ یوه بله مشاعره شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د همدې کال په جدی کې يې په چارباغ کې بله مشاعره کړې ده، او د ۱۳۳۷ه ش کال د اسد په ۴-۵ نېټه د خوګيانو په ارغچ او کبره کې د ننګرهار دغو شاعرانو پنځه مشاعرې کړې دي، د همدغه کال د عقرب په ۲۷د کامې په لنډه بوچ کې يوه مشاعره شوې چې طرح يې دا ده:

قدر د سړو وي له سړو سره          لوبې دوړو وي له وړو سره

په ۱۳۳۸ه ش کال د همدغو شاعرانو له خوا په شګه کې په يوه شپه پنځه مشاعرې شوې دي، چې د يوې طرح يې دا وه: ((مه اړ وه سترګې خوشې غم کړې))

سر بيره پر دغو ذوقي مشاعرو په ۱۳۳۸ه ش کال د خدمتګار په ابتکار د ننګرهار د مطبوعاتو د مديريت له خوا د رحمن بابا په ياد مشاعره شوې وه، چې ارواښاد محمدګل خان مومند(۱۳۴۳ه ش مړ) هم ګډون پکې کړی و. په همدې کال د نجم الدين اخونزاده(۱۳۱۹ه ش مړ) په ياد مجلس او مشاعره د هډې  د نجم المدارس په مدرسه کې جوړه شوې وه.

په جلال آباد کې د ايمل خان په ياد مشاعره او په بهسودو کې د ملنګ جان (۱۳۳۶ه ش) پر مزار مشاعرې په ۱۳۴۷ه ش کال د مراد علي صاحبزاده په مزار مشاعره او کنفرانس او همدا رنګه تر ۱۳۵۷ه ش کال پورې د جلال آباد په ښار کې ((د نارنج د ګل مشاعرې)) د دې سيمې له عمده مشاعرو څخه ګڼل کيږي چه د دې سيمې د شاعرانو د استعدادونو په روزنه کې يې پوره ونډه اخيستې ده.

## (۵) په کوټه کې:

د پښتو او پښتنو بل علمي او ثقافتي مرکز کوټه ده. په دې سيمه کې لومړنۍ مشاعره په ۱۹۵۶ع کال د محمد اکبر خان اڅکزي پر دکان شوې وه، او په دې مشاعره کې ښاغلو فضل احمد غازي، اياز داودزي، سلطان محمد صابر، محبوب علي خان، سلطان محمد پاني مرحوم ميران ګل مومند او محمد اکبر اڅکزي برخه در لوده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه رنګه د کوټې پښتو ادبي ټولنې په (۱۹۵۶ع) کې د رحمان بابا (۱۰۴۲-۱۱۲۸ ه ق) په یاد مشاعره وکړه.

بله مشاعره همدې ټولنې د۱۹۵۸ع کال د فبروري په میاشت کې د علامه عبدالعلي کاکړ(۱۲۸۹-۱۳۶۴ه ق) په یاد کړې ده او دریمه مشاعره يې د ملکیار غرشین په یاد کړې ده.

همدا رنګه د کوټې په راډیو کې د ۱۹۶۲ع کال را پدې خوا مشاعرې پیل شوې، چې لومړۍ پښتو مشاعرې له بلوڅي او براهوي ژبو سره ګډې وې، مګر په ۱۹۶۵ع کال کې يې ځانګړې پښتو مشاعرې هم پیل کړې دي. همدا راز د کوټې په تلویزیون کې هم له ۱۹۷۴ع کال را پدې خوا کله نا کله پښتو مشاعرې کیږي.

د کوټې بزم ثقافت په ۱۹۶۲ع او۱۹۶۳ع کلونو کې د پښتو دوې مشاعرې کړې دي. د کوټې نیشنل سنټر هم له ۱۹۶۲ع کال را پدې خوا له نورو ژبو سره یو ځای پښتو مشاعرې هم کوي.

## د بوري:

علمي، ادبي، ثقافتي انجمن له ۱۹۶۲ع کال را پدې خوا ځینې پښتو مشاعرې کړې دي. دغه رنګه۱۹۳۵ع کال د اګست په میاشت کې په چمن کې هم یوه پښتو مشاعره شوې ده، او د شهید صادق کاسي په یاد یوه مشاعره د ۱۹۷۳ع کال د اپریل په ۲۱نیټه په شهید صادق کلنیک کې او بله د شهید صادق په لایبریري کې د شپې له خوا شوې وه. د بلوچستان او کوټې په سیمو کې د مشاعرو په لړۍ کې د ۱۹۶۲ع کال د مې ۱۸نیټې مشاعره هم د یادونې وړ ده، چې د ګلستان د سیمې د اختر د دوهمې ورځې د میلې په مراسمو کې جوړه شوې ده.

(د ښکارندوې پر قصیده مشاعره ) له کتاب څخه چې ۱۳۶۲ه ش کال کې چاپ شوی وه ولیکل، خو له څخه وروسته هم د پښتو مشاعرو لمن په هیواد او سیمې څخه علاوه د نړۍ په نورو برخو کې هم غوړیدلې دي.لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هرات د هريوا په لمن کې مېله،د لرغوني بلخ د بخدي ترانې، د جرمني په مونشن کې نارنج گل مېله، د کابل اوږده (د څېلې) شپه، د بغلان د چل کلا گډه مشاعره، په پکتيا کې د نښتر مشاعره، د کندز د ريدي گل مشاعره، په کابل کې د رحمان بابا پسرلنۍ مشاعره، په فراه کې د عناب گل مشاعره، د هلمند سيند مشاعره، په پروان کې د ارغوان مشاعره، په کونړ کې د کونړ سيند مشاعره، د کندهار انارگل مشاعره، په کوټه کې خاټول گل مشاعره، د وري په پنځلسمه د فارياب ولايت په اندخوی کې د «قره قل» مېله، د ننگرهار د «نارنج گل» ميله، په جوزجان کې د غالی اوبدلو مېله، د کاپيسا په تگاب کې د بې دانه «انارگل» مېله، د پروان په چاريکارو کې د «ارغوان» مېله، په ميدان وردگو کې د «منې گل» مېله، په زابل کې د «بادام گل» مېله، په لوگر کې «سنځل گل» مېله او داسې نورې مشاعرې او مېلې د يادونې او نمانځنې وړل دي.

ما په تيرو مخونو کې د مشاعرې په باب او همدارنگه د پښتو مشاعرو په تاريخی سير څه لنډی او اجمالی خبرې وکړی، اوس راځم خپلې موضوع ته چې منې گل مشاعره دی، غواړم په دې هکله خپل را ټول کړی معلومات در سره شريک کوم .

(c) ketabton.com: The Digital Library

# منې ګل د لومړنی مشاعرې راپورتاژ

د منې ګل مشاعره چې د لومړي ځل لپاره په ۱۳۷۸ هجري لمريز کې د ميدان وردګو ولايت د چک په ولسوالۍ کې د يو شمېر هېوادپالو ځوانانو په نوښت د هغه د بنسټ ډېره ايښودل شوې ده، هر کال د دې ولايت په مختلفو سيمو کې جوړيږي. د منې ګل مشاعره چې نوم يې د منو د بڼونو او د سيمې له ښکلا سره نه بېلېدونکی تړاو لري چې د دې ولايت د سمسورې سيمې او ښکلاوو ځرګندونه کوي، شاعران، اديبان، ليکوالان او پوهان بيا د قلم په ژبه د دې ښايستونو بڼ ته نوی رنګ ورکوي.

د منې ګل مشاعره د وخت په تېرېدو سره ورو ورو د ولسوالۍ له کچې څخه د ولايت او د ولايت له سطحې څخه د هېواد او سيمې کچې ته خپل حضور لوړ کړ چې د هېواد له ګوټ ګوټ څخه د سږ کال مشاعرې ته د زرګونو ليکوالانو، شاعرانو، اديبانو، پوهانو، حکومتي چارواکو، محصلينو، زده کوونکو، قومي مشرانو، بزګرانو او عامو وګړو سربېره د نړيوالې ټولنې ځينو استازو راتګ د دې ادعا د غوره ثبوت د پخلي تر ټولو ښه نښه ده. د منې ګل مشاعرې اوسمهال يوه روښانه بين الافغاني بڼه خپله کړې ده، چې د دغه ستر کلتوري برې له کبله د منې ګل ټولو لارويانو، د ميدان وردګو د ولايت اوسېدونکو، د ولايت حکومتي چارواکو او ټول افغان ولس ته د زړه له کومې مبارکي وايو.

د منې ګل مشاعره له نن څخه اته کاله وړاندې د ميدان وردګو د ولايت په مرکز ميدان ښار کې د پنجشنبې په ورځ چې د روان ۱۳۸۶ هجري لمريز کال د غويي مياشتې له ۲۰مې نېټې سره برابره ده، د داسې درندو مراسمو په ترڅ کې ونمانځل شوه چې د هېواد په کلتوري تاريخ کې يې سارى کم ليدل کيږي، چې د ميدان وردګو د فرهنګي يون، د ولايت د مقام او د دې ولايت د مشرانو او خلکو د هلو ځلو په وسيله يې ښېل رونق خپل کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د منې ګل مشاعرې ته د حکومتي چارواکو له ډلې څخه د میدان وردګو د ولایت پر مقام او اداري پلاوي سربېره د نشه يي توکو سره د مبارزې وزير حبيب الله قـادري، د عـدلیې د وزارت مرسـتيال محمـد قاسـم هاشـمزي، د جمهـوری رياسـت د حفـظ او مراقبت رئیس انجنیر محمد حسن نواب، د پژواک خبري اژانس مشر دانش کروخېـل، د شمشـاد د تلویزیـون رئـیس عبدالواحـد نظـري، د کابـل د ښـاروالۍ مرسـتیال غـرزي خواخوږي، د ژورنالیستانو د نړیوال مرکز CIG مشر رحیم الله سمندر، د هېـواد نـامتو لیکوال استاد محمداصف صمیم، د هېواد نازکخیال شاعر محمد صدیق پسرلي، د ویسا ورځپاڼې مسوول مدیر محمد زبیر شفیقي، د یوناما، ملګرو ملتونو، ایسـاف، د امریکـا د سفارت، ناټو او په میدان وردګو کې د ترکيې د بیا رغونې د ولایتي ډلې ځینـو اسـتازو هم ونډه اخیستې وه.

سربېره پر دې غونډې ته د پلازمېنې کابل او د میدان وردګو لـه فرهنګـي ټولنـو او عامو وګړو څخه علاوه له ننګرهار، لغمان، کونړ، غزني، زابل، خوست، پکتیا، پکتیکـا، لوګر، کندهار، هلمند، کندوز، بغلان، مزارشـریف، بامیـان او یـو شـمېر نـورو ولایتونـو څخه زیاتو مینه والو ګډون کړی وو چې د پژواک د خبري اژانس او ازادۍ د راډیو د راپورونو په بنسټ یې شمېر زرګونو کسانو ته رسېده او مشاعرې ته یې ځانګړې ښـکلا وربخښلې وه.

غونډه د سهار په نهو بجو او دېرشو دقیقو د قرآن عظیم الشان د څو مبارکو آیتونو په تلاوت او ملي سرود په اورولو سره پیـل شـوه. د پرانیسـتونکې وینـا پـه تـرڅ کـې د میدان وردګو والي ښاغلي عبدالجبار نعیمي راغلو مېلمنو او د منې ګـل مشـاعرې ټولـو ګډونوالو ته ښه راغلاست وواېه او د منې ګل مشاعره یې د سیمې د خلکو تـر مـنځ د یووالي او د هېواد د وګړو تر منځ د ارتباط او پېژندنې تر ټولـو غـوره کـړۍ وګڼلـه او دغه بې مثاله نوښت یې په هڅوونکو ټکو کې وستایه. د میدان وردګو د ولایـت مقـام همدارنګه د خپلې وینا په ترڅ کې هغو پرمختګونو تـه لنـډه اشـاره وکـړه چـې پـه دې وروستیو وختونو او د ژوند په مختلفو ساحو کې د دې ولایت د وګړو په برخـه شـوي دي. نعیمي د هېواد ریښتنی اتل ستر غازي محمدجان خان تاریخي اتلولي په ځـانګړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

توګه یاده کړه چې د هېواد په یوه حساس پړاو کې یې د بهرني تاړاک په وړاندې د افغانانو د ملي پاڅون مشري په غاړه درلوده او هېواد ته یې نه هېرېدونکي خدمتونه کړي دي. نعیمي زیاته کړه چې د میدان وردګو د ولایت مرکز میدان ښار یو سړک او د اوسېدلو د کورونو یوه نوې مېنه یا ښارګوټی یې د ستر غازي محمدجان خان په نوم نومولي دي. نوموړي د خپلې وینا په ترڅ کې د کرنې د پخواني وزیر ارواښاد ډاکټر صاحب عبدالوکیل یادونه هم وکړه چې د هېواد او سیمې په کرنیزه سمسورتیا او د باغونو په رواجولو کې یې لویه ونډه تر سره کړې او نوموړی یې د هېواد یو غوره خدمتګار و ګاڼه.

د میدان وردګو د ولایت د مقام تر وینا وروسته د همدې ولایت د هغو کلتوري ټولنو نومونه یاد شول، چې د منې ګل د مشاعرې په هکله یې پیغامونه رالېږلي وو، چې په دې ټولنو کې د جغتو مدني او کلتوري بهیر، دریځ کلتوري ټولنه، میدان ځوانانو ټولنه، چک ادبي ټولنه، لمر ټولنه، ګوربت ټولنه او عهد ټولنه نومونه د یادولو وړ دي. د پیغامونو له اورېدو وروسته مشاعره پیل شوه چې غونډې ته د هېواد زیاتو شاعرانو خپل شعرونه او نظمونه په داسې ماحول کې واورول چې د حاضرینو تودو چکچکو او ولولو بدرګه کول. همدارنګه په نوموړې مشاعره کې ترنم ته هم ونډه ورکړل شوې وه چې د هېواد څو شاعرانو خپل نظمونه د ترنم په ژبه وړاندې کړل، خو له دې ټولو څخه د هېواد د خوږ ژبي شاعر سراجي صاحب ترنم د غونډې د ګډونوالو له خوا په مسلسلو چکچکو او تودو ولولو بدرګه شو، چې مشاعرې ته یې نه هېرېدونکی رنګ وربخښلی و.

د ولسي نظمونو په ترڅ کې د چک ولسوالۍ د اوسیدونکي او ولسي شاعر ښاغلي غمګین صاحب شعر د غونډې د ګډونوالو د مسلسلو ولولو وړ وګرځېده، چې په حکومتي چارواکو باندې یې د شعر په ژبه نیوکې کړې وې او هغوی یې د چارو غوره اجرا ته رابللي وو. همدارنګه د نوموړي له نظم څخه په مشاعره کې د بیان د ازادۍ د اصل د رعایت یو ښه تصویر ځلېده، چې حکومتي چارواکو د نوموړي کلام په ژور دقت سره اورېده او هېڅ راز منفي عکس العمل د هېچا له خوا نه تر سترګو کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې خبرې يادونه هم اړينه ده چې د مشاعرې په ترڅ کې د رښتينې ډيموکراسۍ اصل په بشپړه توګه رعايت شوی و او يو زيات شمېر داسې شعرونه د هېواد د شاعرانو له خوا ولوستل شول، چې په روانو حالاتو او د حکومتي چارواکو په کړو وړو بانـدې له ګڼو او هراړخيزو نيوکو څخه ډک وو، خو د بيان د ازادۍ يوه داسې ښه پـه مجلـس باندې حاکمه وه چې د غونډې د ټولو ګډونوالو د خوښۍ وګرځېد.

په دې لړ کې د ترانو د ټيمونو هم کمی نه وو او د شعرونو په منځ منځ کې به هغو ترانو ته ځای ورکول کېده چې د ميدان وردګو ولايـت د ښـوونځيو، لېسـو او مدرسـو ټيمونو په دې هکلـه برابـرې کـړې وې، چـې پـه دې لـړ کـې د چـک د دارالايتـام، د شهادت د ديني مدرسې، د رستم خېلو د ښوونځي، د حضرت عمـر فـاروق د لېسـې، د خالد بن وليد د ليسې او آب بهران د شهيدانو د ښوونځي د ترانو ټيمونـو خپلـې ترانـې ولوستې، چې نوموړي ټيمونه د ځينو ولايتي چارواکو له خـوا پـه نغـدي ډاليـو ونـازول شو .

د مشاعرې له لومړۍ نيمايي برخې څخه وروسته د هېـواد وتلـي ليکوال، اديـب او شاعر استاد محمداصف صميم ته بلنه ورکړل شوه، چې د خپلې خوږې وينا په وسيله د منۍ ګل مشاعرې ته نوره ښکلا هم ور وبخښي.

اسـتاد صـميم دغـه راز غونـډې د هېـواد د خلکـو د يـووالي، پرمختـګ، تجربـو د شريکولو، هر اړخيزې پېژندنې او ښېرازۍ پـه لاره کـې يـو مثبـت ګـام وګڼـه چـې لـه ننګرهاره تر کندهاره، له ميدان وردګو تـر کنـدوزه او لـه بغلانـه تـر خوسـت او پکتيـا پورې د هېواد په ګوټ ګوټ کې دايرېږي او د ميدان وردګو والي يې په دې لـړ کـې د يوه هڅاند شخصيت په توګه ياد کړ.

استاد صميم د منۍ ګل په مشاعره کې د بيان ازادي د وخت يوه لويه لاسته راوړنـه وګڼله چې د هېواد کلتوري يون په بشپړې ازادۍ سره خپل کلام پرته له کـومې وېـرې او سانسور څخه د چارواکو په مخ کې بيانوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه استاد صمیم زموږ د هېواد د خلکو او چارواکو هغه دود ته ګوتنیونه وکړه چې خپلې چارې په خپل وخت سر ته نه رسېږي، بلل شوي کسان په خپل وخت غونډو ته نه راځي او زموږ مجلسونه په خپل ټاکلي وخت تدویر نه مومي، چې د نوموړي په خبرو کې د وخت اهمیت ته اشاره وه چې مراعات یې باید وشي او زموږ هېوادوال یې په ګټورو څېړونو تېر کړي.

وروسته د میدان وردګو والي ښاغلي عبدالجبار نعیمي د هغو د مثبتو کړنو له کبله د میدان وردګو د ولس او ځینو ټولنو له لوري په یو شمېر مډالونو او ستاینلیکونو وویاړل شو، چې په لاندې ډول دي:

د ژورنالیستانو د دفاع د کمېټې مډال چې د همدې کمېټې د مشرتابه پلاوي د غړي ښاغلي فضل ربي وردګ له خوا د میدان وردګو والي ته ډالۍ شو.

د ګوربت په نامه جوړ شوی مډال چې د میدان وردګو د ولس له خوا د همدې ولایت مقام ته د نوموړي د غوره خدمتونو له کبله ډالۍ شو او د سیمې د یوه سپین ږیري حاجي فتح محمد په لاس هغه ته ورکړل شو.

د پژواک خبري اژانس ستاینلیک چې د همدې اژانس د رئیس ښاغلي دانش کروخېل له خوا د میدان وردګو د ولایت مقام ته ډالۍ شو.

باید وویل شي چې یو شمېر ستاینلیکونه د ویسا د ورځپاڼې د مسوول مدیر ښاغلي محمد زبیر شفیقي له خوا هم په هغو کسانو باندې وویشل شول چې د منې ګل د مشاعرې په بنسټ ایښودلو کې یې مثبت رول ادا کړی، چې زیاترو کسانو یې د سږ کال په مشاعره کې ګډون هم نه درلود.

د منې ګل مشاعره د غرمې له ډوډۍ او د ولایت د ودانۍ د مخې په پارک کې د اروابناد ډاکټر صاحب عبدالوکیل د یادګاري ځلي د بنسټ د ډبرې د ایښودلو تر مراسمو وروسته د ماسپښین په درېیو بجو پای ته ورسېده. د منې ګل د مشاعرې ویندویان هر یو ګل آغا احمدي، نذیراحمد نذیر، محب الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

منیب او هوډمن وو او د مشاعرې د مجلس مرستندیه کمېټه لـه همـت الله امـین زي، عبدالودود پښتونځار، مطیع الله اباسین او عبدالله شېرزي څخه تشکیل شوې وه.

د منې ګل د دویزې مشاعرې پـه ویاړ د هېـواد لـه ګـوټ ګـوټ څخـه یـو شـمېر فرهنګي ټولنو، ادبي بهیرونـو او د ژورنالیسـتانو کمېټـو او انفـرادي اشخاصـو هـم خپـل پیغامونه رالیږلي وو، چې نومونه یې په لاندې ډول دي:

د ننګرهـار ادبـي بهیـر، خوسـت خپلواکـه ادبـي ټولنـه، لغمـان ادبـي بهیـر او د ژورنالیسـتانو ټولنـه، رڼـا کلتـوري مرکـز، د تخـار ولایـت د سـرحدي ځواکونـو مشـر تورنجنرال عبدالظاهر قدیر، د لغمان والي محترم محمد ګلاب منګـل، د ختـیځ زون د ژورنالیستانو د دفاع کمېټه، د خوست د فرهنګیانو خپلواکه ټولنه، د لغمـان د خپلواکـو ژورنالیستانو ټولنـه، د ژورنالیسـتانو د دفـاع کمېټـه، د ژورنالیسـتانو خپلواکـه ټولنـه او د افغانستان د ځوانانو نړیوالې ټولنې خپل پیغامونه د منې ګل مشاعرې ته رالیږلي وو.

د مشاعرې په لړ کې د میدان وردګو د ولایـت د مقـام لـه خـوا د هغـو شـعرونو د ټولګې د چاپ ژمنه وشوه، چې د هېواد له ګوټ ګوټ څخه راغلو شاعرانو د منې ګل د مشاعرې په ترخ کې ولوستل.

د دې خبرې یادونه هم ضروري ده چې د منې ګل له مشاعرې څخه د مخه د غزل شپه هم د میدان وردګو د ولایت په مرکز میدان ښار کې ونمانځل شوه، چې مشـاعرې ته راغلو زیات شمېر مېلمنو او کوربنو شاعرانو خپل نظمونه، غزلـې او شـعرونه پـه کـې ولوستل او د ولایت مقام او نور چارواکي د شپې تر ډېره وخته پورې له راغلـو مېلمنـو سره یو ځای د غزل شپې په مجلس کې ناست وو.

باید وویل شي چې منې ګل د لومړنی کال د دودیـزې کلنـی مشـاعرې لګښـتونه د دې ولایت د مقـام او ایشـیا فونډېشـن موسسـې لـه خـوا برابـر شـوي وو، چـې مننـه او کورودانی ورته وایو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اووم- ادبي، فرهنګي او علمي چاپ شوي اثار

د میدان وردګو ولایت د مقام فرهنګی کمېټې تراوسه پورې ۳۵ بېلا بېل علمي، هنري او شعري کتابونه په خپل مالي لګښت طرحه، کمپوز، ډیزان او چاپ کړي دي، چې د فرهنګ او ادب په برخه کې د هېواد په کچه بې ساری پرمختګ دی، چې راتلونکی تاریخ او فرهنګی کړئ به پرې وویاړي. په چاپ شوو کتابونو کې داسې کتابونه هم شته چې د کمیت له پلوه پرې د ډېرو کتابونو لګښت راغلی، چې په واقعې توګه داسې کتابونه دي، چې د پښتو ادب، سیاست او فرهنګ د بډاینې په برخه کې یې ساری نه لیدل کیږي. د استاد صدیق پسرلي کلیات او اروابناد ګل پاچا الفت نثری کلیاتو څخه د بېلګې په توګه یادونه کوو، چې دواړه کلیات په داسې صحافت او ښکلې بڼه چاپ شوي چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د مرستیال پوهنمل غلام نبي فراهي په وینا: ((د غزلبڼ کتاب په کتو ما فکر وکړ چې څو کتابونه شاید سر په سر ایښي وي، خو داسې فکر مې نه کاوه چې دا دې یو کتاب وي، خو ماشاءالله دا د غزلونو داسې بڼ دی، چې کولی شی پښتو ژبه د غزل په برخه کې له نورو کتابونو سره سیاله کړي)).

لیکوال زبیر شفیقي یې بیا په اړه وایي: ((کله به چې موږ بهرنیو هېوادونو څخه د لیدنې پرمهال داسې کتابونه لیدل چې په لیدو به یې د هغې ژبې بډاینه موږ ته ښودل کېده، خو اوس له نېکه مرغه د الفت نثري کلیاتو او غزلبڼ کتابونو په چاپ سره پښتو ژبه د نورو ژبو سیاله کړه)).

## د نړیوال شهکار(جګړه او سوله) اثر پښتو چاپ شوي:

د بهرنیو چارو وزارت د ستوري په ماڼۍ کې  د نړیوال شهکار اثر د جګړې او سولې کتاب د پښتو ژباړې د کتاب په ویاړ غونډه وشوه، چې په دې غونډه کې د دې وزارت سیاسي مرستیال جاوېد لوین او د میدان وردګو پخواني والي محمدحلیم فدایي سربېره یو شمېر ادبپوهانو، لیکوالانو، ژورنالیستانو او د پښتو ادب نړدې (۱۷۵) تنو مینه والو برخه اخیستې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګڼونوالو ته د بهرنیو چارو وزارت د ستراتیژیکو مطالعاتو رییس (ډاکټر فرامرز تمنا) له خوا د ښه راغلاست ویلو ترڅنګ نوموړي د دکتور لطیف بهاند د هڅو او نه ستړي کېدونکو هلو ځلو ستاینه وکړه.

ورپسې د دې وزارت سیاسي مرستیال جاوېد لودین دغه نړیوال شهکار په دیپلوماتیک بهیر کې د پیاوړتیا او په ځانګړي ډول په ادبیاتو کې د لطیف بهاند د کلونو کلونو زحمتونو هغه ستره پانګه وبلله، چې د میدان وردګو د پخواني فرهنګپال والي محمدحلیم فدایي په مالي لګښت او هڅو تر لوستونکو ورسېده.

جاوېد لودین اندېښنه څرګنده کړه چې اوس هم په افغاني ټولنه کې د کتاب لوست او د کتاب اخیستلو فرهنګ هماغسې د رکود په حالت کې دی، چې له امله یې د لیکوالو او ژباړونکو زحمتونه ژر تر خلکو په لیکلې بڼه او د کتاب په شکل نه رسیږي، خو داسې د فدایي صیب په څېر فرهنګي ستې دکتاب ارزښت ته په کتو د کتاب چاپ ته اوږه ورکوي او تر خلکو یې ورېا رسوي.

غونډې د دغه نړیوال شهکار (جګړې او سولې) اثر چاپوونکي او میدان وردګو پخواني فرهنګپال والي، چې تراوسه یې د خپل ماموریت په څلورو کلونو کې د پښتو ادب د بډاینې په موخه (۴۴) بېلابېل فرهنګي اثار چاپ کړي او تر خلکو یې رسولي دي، وویل: ((د جګړې او سولې د نړیوال شهکار د ناول ژباړه د فرهنګي دیپلوماسی او افغان ادب په ډګر کې یو اساسي لومړی قدم دی، که غواړو چې ټولنه مو له نورو زده کړه وکړي، د هغوی د ترقي او زوال اصلي لاملونه معلوم کړو، د نورو مهمو کتابونو ژباړه زموږ ملي ژبو ته وړاندیزوم. په دغې تګلاره کې زموږ لپاره دا اړینه ده، چې له عقلانیت سره معنویت هم له نظره ونه غورځوو، او دا کېدای شي زموږ د داخلي او خارجي سیاستونو نه بېلېدونکي توکي وي. علم، عقلانیت، معنویت، عدم تشدد، سوله ییزه مبارزه، پرمختګ، اخلاق، قانونیت او عدالت چې د (توحید، نبوت او اخرت) په اصولو ولاړ و، ولې ځپل شوي، کمزوري شوي او حتی د دې معکوسې تګلارې مو خپلې کړې دي)).

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جګړې او سولې د نړیوال شهکار د لیکوونکي تولستوي او ژباړونکي لطیف بهاند د هڅو په اړه د علومو اکاډمۍ غړي سلیمان لایق په خپله لیکلي اوږده مقاله کې وویل: ((تولستوی د ټولنې ناخوالو او په هغه وخت کې د جنګونو او سولې اهمیت ته په کتو دغه مرغلرې په شپږو کلونو کې د کتاب په بڼه راټولې کړي، چې بیا وروسته دغه کتاب د نړۍ په لسګونو ژبو وژباړل شو، چې له نیکه مرغه اوس د تکړه مبارز دکتور لطیف بهاند په هڅو په نژدې (۱۰) کلونو کې پښتو ژبې ته وژباړل شو، خو د میدان وردګو ولایت مقام په مالي لګښت له نیکه مرغه چاپ شو، چې نن یې موږ او تاسو د دغې پرتمینې غونډې ګډونوال او شاهدان یو)).

د دري ژبې تکړه لیکوال رهنورد زریاب صیب په خپلو خبرو کې د لطیف بهاند هڅې وستایلې او ویې وویل، چې پښتو ژبې ته د دغه مهم اثر ژباړه موږ ته دا راښیي چې اوسمهال پښتانه لیکوال د دې ژبې د بډاینې لپاره د نړۍ ډېر مشهور لوی لوی اثار چې کلونه کلونه وخت ته اړتیا لري، ژباړي او د هغوی تجربې او اندونه خپلې ټولنې ته رسولی شي. نوموړي زیاته کړه: په څلورو ټوکونو او په (۲۷۰۰) مخونو کې په ښه کاغذ او ډبلې رنګه پوښتۍ کې د دې اثر چاپول هم څه اسانه کار نه دی، بلکې دا کار د ښاغلي فدایي هغه فرهنګپالنه موږ ته راښيي چې خپل ادب سره یې لري او په عمل کې یې پالي.

د ملي راډیو تلویزیون مشر او تکړه لیکوال زرین انځور وویل: د لطیف بهاند هڅاند او کلک هوډ زموږ ټولې فرضیې ناکامې کړې، ځکه هغه وخت چې لطیف بهاند د دغه اثار په ژباړه پیل وکړ، نو ما هماغه وخت وویل چې د دغه ستر کتاب ژباړه د بهاند له حوصلې او بوختیاوو څخه لوړه ده، نو ځکه مې ډاکټر جنبش ته د دغه کتاب د ژباړې په اړه سلا ورکړه، خو نن بهاند صیب په عمل کې ثابته کړه چې د دې ستر نړیوال اثر برعلاوه نور داسې اثار هم خپلې ژبې ته ژباړلی شي.

نوموړي هم په خپل وار سره د ښاغلي فدایي د فرهنګي هڅو ستاینه وکړه او د پښتو په ادب کې د (۴۴) علمي کتابونو چاپول یې یوه ستره لاسته راوړنه یاده کړه، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیله يې وکړه، چې د کتابونو د چاپ دغه لړۍ ته باید نورو فرهنګي ملګرو په مټ دوام ورکړل شي.

د علومو اکاډمۍ غړي نبي صلاحي هم په خپلو خبرو کې د دغه مهم او ستر اثر ژباړه او چاپ د پښتو ادب په فرهنګ او بډاینه کې یو مهم ګام وباله او د کتاب د ژباړې په دغه اوږده او د ستونزو ډکه لاره کې يې د ښاغلي بهاند کلک هوډ وستایه.

په پای کې د دغه مهم نړیوال شهکار ژباړن دکتور لطیف بهاند له هغو ټولو کسانو څخه مننه او ستاینه وکړه، چې د کتاب د ژباړې په چارو کې يې ورسره مرسته کړې، د ده لاسنیوی يې کړی او ان ځینې وخت يې پرې نیوکې هم کړې دي، خو بهاند خپلې خبرې د ښه ثبوت لپاره د جګړې او سولې د فلم لومړۍ خبره کوي چې وایي: (د نړۍ ډېر ستر کارونه د ساده قدم نه پیلېږي) او ما هم دغه ژباړه له ساده قدم نه پیل کړه.

ښاغلي بهاند وویل: د دغه نړیوال اثر خوند په روسي ژبه کې شاید تر هرې ژبې زیات وي، ځکه لیکوال يې روسی دی او پښتو ژباړه يې هم شاید ټول خوندونه له ځان سره ونه لري، خو بیا هم ما هڅه کړې خپلې ټولنې ته يې په خپله ژبه وړاندې کړم.

بهاند له ټولو لیکوالو او فرهنګي کړیو او راغلو ګډونوالو څخه مننه وکړه، چې د مخکتنې په نوم جوړې شوې غونډه کې يې ګډون کړی، نوموړي د میدان وردګو د پخواني والي او فرهنګپال شخص محمدحلیم فدایي او د ده له کاري ټیم نه ځانګړې مننه وکړه، چې د دغه مهم اثر چاپ مالي لګښت ته يې اوږه ورکړه او د دوی په هلوځلو دغه کتاب د لوستونکو لاسونو ته ورسېد.

د غونډې په پای کې په راغلو ګډونوالو باندې دغه مهم اثر وویشل شو.

د یادونې وړ ده چې جګړه او سوله کتاب نږدې په ( ۲۷۰۰ ) مخونو کې په ښه کاغذ او ډبله پښتۍ په څلورو برخو کې د زرو ټوکو په شمېر په عالي کیفیت د میدان وردګو ولایت د پخواني والي او فرهنګپال شخصیت محمد حلیم فدایي په هڅو د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولايت مقام په مالي لګښت او د مومند خپرندويې ټولنې په تخنيکي مرسته چاپ شوی دی.

## دا استاد صديق پسرلي غزلبڼ وغوړيده پر کتاب تبصره

غزلبڼ چاپولو له د کابل په «ستار هوټل» کې د هېواد د نوماند غزلبول استاد محمد صديق پسرلي د غزلونو ټولګې «غزلبڼ» مخکتنه وه، چې په لسګونو د شعر او ادب مينه والو او ليکوالانو په کې برخه واخيسته.

په دې غونډه کې چې د ميدان وردګو پخواني والي حليم فدايي له خوا جوړه شوې وه، د استاد صديق پسرلي پر شعر او هنر په زړه پورې خبرې وشوې، نورالحبيب نثار، سالک او استاد حبيب الله رفيع د ښاغلي شاعر د غزلبڼ د شعري ښکلا او ځانګړتياوو په باب ليکنې واورولې، چې د استاد پسرلي د غزلونو د ارزښتونو، سبک او ځانګړتياوو په اړه يې تفصيلي رڼا پرې اچولې وه.

د ملي راډيو تلويزيون مشر نقاد او د پاخه قلم خاوند محمد زرين انځور، استاد پسرلی د عصر ستر او استازی غزلبول وباله. ښاغلي نثار له اطلاعاتو او فرهنګ وزارت نه وغوښتل چې استاد پسرلي ته د «ملک الشعرا» لقب ورکړي، چې په رښتيا يې حقدار دی.

استاد پسرلي تر نيمې پېړۍ زيات عمر له شعر په تېره غزل سره په مراقبه او مشاهده کې تېر کړی او غزل يې د خوږلني او معنا دواړو له اړخه کمال ته رسېدلی دی.

د استاد پسرلي په «غزلبڼ» کې د ده ۱۱۵۶ غزلې راټولې شوي، چې زرګونه بيتونه جوړوي او دا د کميت او کيفيت دواړو له اړخه د پښتو شاعرۍ په تېره د پښتو غزل ډېره وياړمنه برخه جوړوي.

د يادونې وړ ده چې استاد پسرلی د کندوز په چاردره کې زيږېدلی او اصلاً د غزني اوسېدونکی دی. پر هېواد د سره پوځ له يرغل وروسته پېښور ته کډوال شو او هلته يې د «سپيدې» مجلې له خپراوي سره يو ادبي غورځنګ پيل کړ، چې وروسته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادبي بهير په اونيزو منظمو غونډو کې په يوه لوی ادبي حرکت بدل شو چې په لسګونو ځوانانو يې د نثر او نظم ډګر ته راوايستل.

د استاد پسرلي «غزلبڼ» د ميدان وردګو ولايت مقام له خوا په لويه کچه په ښکلي سپين کاغذ او غوره پښتۍ چاپ او د شعر او ادب مينه والو ته ډالۍ شوی دی.

## د الفت نثري کليات

د استاد الفت د هنری نثرونو لويه او بشپړه مجموعه (لومړی او دويم ټوک) دي، چې د الفت نثري کليات نوميږي، په ۱۳۸۹لمريز کال کې د ميدان وردګو ولايت د مقام له خوا د زرو ټوکونو په شمېر اسد دانش په چاپځی کې په ښکلې کچه او ښه چاپ او خپره شوې ده. دغه کتاب د هېواد د مشر استاد او څېړونکي پوهنمل عبد الخالق رشيد اوسياسی څېړونکي او ليکوال ښاغلي محمد زبير شفيقی په لنډو ارزوونکو ليکنو پسې د ليکوال او شاعر د کابل پوهنتون استاد پوهنمل محمد اسمعيل يون په اوږدې سريزې سره پيل شوی دی. د ياد کتاب لومړی او دويم ټوک يو ځای په ۷۶۲ مخونو کې د ښاغلي استاد يون صيب او عبدالرحيم بختانی له خوا راغونډ شوي دي. د کتاب په پيل کې د يون صيب له خوا د استاد الفت د ژوند او اثارو په هکله رڼا اچول شوې ده.

## افغاني اوسنۍ رسنۍ

دغه اثر د خوږ ژبي شاعر، ليکوال، سياستوال، هنرپال او ويناوال ښاغلي استاد پوهندوی محمد اسمعيل يون د ماسترۍ دورې تېزس دی، چې د ۱۳۸۰-۱۳۸۷ کلونو رسنۍ په کې څېړل شوي، لارښود استاد يې پوهنوال محمدصابر خويشکی دي، پوهنوال دوکتور عبدالخالق رشيد يوه لنډه يادونه ورباندې کښلې ده، نوموړی کتاب په ۱۳۸۷ ل کال په غبرګولي مياشت کې د زرو ټوکونو په شمېر خپور شوی دی. کتاب په ۲۰۹ مخونو کې د يون کلتوري يون خپرندويې ټولنې له خوا د ميدان وردګو ولايت د مقام په مالي ملاتړ چاپ او خپور شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تصوف او ادب

یاد اثر د کابل پوهنتون د یوه ځوان لیکوال، څېړونکي، ژباړن او شاعر پوهیالي اجمل ښکلي دی او په ۱۳۸۹لمریز کال د میدان وردګو ولایت مقام په مالي لګښت د منې ګل د لسمې دودیزې مشاعرې په ویاړ د زرو ټوکونو په شمېر چاپ او خپور شوی دی. د کتاب په پیل کې د پښتو ژبې د پیاوړي څېړونکې، شاعر او لیکوال استاد محمداصف صمیم او تکړه لیکوال او ژورنالست پوهندوی استاد فضل ولي (ناګار) نمانځنې راغلې دي. ښاغلی ښکلی د هېواد د یو څو هغو څېړونکو له ډلې څخه دی، چې کار یې په څېړنه او هنر کې د اوسنیو غوښتنو تر پولې تر ډېره نېږدې بریښي. دغه اثر په ۸۹ مخونو کې د تصوف تعریفونه، ډولونه، ارزښت، تاریخ، له اسلام پرته تصوفی ډلې او مشهور تصوفي ښوونځي او داسې نور موضوعات د تصوف په هکله تشریح کړي دي. د کتاب په پښتې د لیکوال د چاپ شوو اثارو نومونه هم لیکل شوي دي.

## د کرېملین په زړه کې

د کرېملین په زړه کې (د مسکو یونلیک) د یو بل ځوان پښتون لیکوال او شاعر استاد پوهندوی محمد اسمعیل یون اثر دی، چې په ۱۳۸۹ ل کال د یون کلتوری یون په نوم د اړوندې ټولنې له خوا د میدان وردګو ولایت مقام په مالي سمبالتیا د زرو ټوکونو په شمېر چاپ او خپور شوی دی. د کتاب په پیل کې د پښتو ژبې د پیاوړي شاعر او لیکوال ښاغلي ډاکټر شېرحسن حسن او تکړه لیکوال او ژورنالست محمدطاهر کانې لیکنې راغلې دي. ښاغلی یون د مسکو ښار داسې را پېژني، لکه چې موږ هم له یون سره په دغه سفر کې ملګرتیا کړې وي او هغه ځای مو په خپلو سترګو لیدلی وي، چې دا د لیکوال هنریت موږ ته را په ګوته کوي. دا ډول هنر د اوسنیو غوښتنو تر پولې تر ډېره نېږدې بریښي. دغه یونلیک په ۳۱۱ مخونو کې له رنګه انځورونو سره یو ځای د ښاغلي وفاءالرحمن وفا له خوا د لیکوال په لنډ ژوند لیک سره پای ته رسېدلی دی.

## هنداره

(c) ketabton.com: The Digital Library

هنداره د هېواد د پياوړي ليکوال او تاريخپوه استاد حبيب الله رفيع اثر دی، چې موضوع يې د ټولنې د پخوانۍ او معاصرې ټکنالوجۍ ترمنځ توپير او تدريجي پرمختګ دی، چې انسانانو د خپل ژوند د پرمختګ له پاره خپل فکر څه ډول په کار اچولی او څومره اسانتياوې يې رامنځ ته کړې دي. نوموړی کتاب په خپله منځپانګه کې څو ځای رنګه عکسونه هم لري، چې د مطلب د ښه وضاحت له پاره له کتاب سره چاپ شوی، چې په زړه پورې دی او په خپله رنګينه ښکلا کې د افغانستان د تاريخ ځينې برخې په پټه خوله د لوستونکو مخې ته ږدي. دغه کتاب دولس لوی عنوانونه او ۱۵۱ مخونه لري، چې په افغان مسلکي مطبعه کې د ۱۰۰۰ټوکه په تعداد د ميدان وردګو ولايت مقام په مالي لګښت چاپ شوی دی.

## د پنتاګون تر څنډو

د پنتاګون تر څنډو (د واشنګټن علمي يونليک) د ځوان شاعر او ليکوال پوهندوی استاد محمد اسمعيل يون اثر دی، چې په ۱۳۸۷لمريز کال د يون کلتوري بهير له خوا چې مالي لګښت يې د ميدان وردګو ولايت مقام له خوا ورکړل شوی، د اسد دانش په چاپخونه کې د ۱۰۰۰ ټوکو په شمېر چاپ شوی دی، په ۳۰۰ مخونو کې يې چاپ شوی دی.

## د غزلبڼ شاعر

دا د هغو بېلا بېلو سياستوالو، شاعرانو ، ليکوالو او روښانفکرانو د مقالو او ليکنو ګډ کتاب دی، چې د غزلبڼ کتاب په اړه يې په کې خپل نظريات وړاندې کړي دي. دغه کتاب د ځوان شاعر، ليکوال ښاغلي ادم خان سيرت له خوا راټول، تدوين او ترتيب شوی دی. دغه کتاب سريزه په خپله د کتاب ليکوال کښلې ، دا اثر۱۵۲ مخونه لري او په ۱۳۹۱لمريز کال کې د ميدان وردګو ولايت د مقام د فرهنګي ټولنې له خوا د زرو ټوکو په شمېر چاپ او خپور شوی دی.

## په کور يو لېونی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د میدان په شنو درو، له منو ډکو باغونو، په دنګو دنګو چنارونو او یخچالینو اوبو باندې د هغه مین شاعر، ژورنالیست او لیکوال ښاغلي محمد انور وفا سمندر ناول دی، چې د ژوند په کاروان کې یې لوړ او جادوګر هنر پخه ملتیا کوي. دغه لوړ هنري اثر په ۱۳۸۸ل کال د لومړي ځل لپاره د زرو ټوکو په شمېر چاپ او خپور شوی دی. د «په کور یو لېونی» ناول په ۲۸۵ مخونو کې او ۲۴ برخې لري. پر یاد اثر سریزه ځوان لیکوال او خوږ ژبي شاعر ښاغلي نورمحمد لاهو له خوا لیکل شوې، خو له سریزې سربېره د افغانستان نصاب د پراختیا او درسي کتابونو علمي –مسلکي غړی ښاغلي محمد عزیز تحریک له خوا هم په یادونه په کې شوې ده. په کور یو لېونی سرلیک لاندې ناول د میدان وردګو ولایت د مقام په مالي لګښت چاپ شوی دی.

## محمد ارسلان سلیمي د هېواد پیاوړې څېره:

محمدارسلان سلیمي هغه اثر نوم دی، چې د تکړه لیکوال ګل اغا احمدي وردګ له خوا لیکل شوی دی، سریزه وربانديې محمد حامد حلیمي لیکلې، تکړه لیکوال علم ګل سحر هم وربانديې لنډې خبرې کړي دي، امین الله عادل او غلام ولي نوري خپل نظریات وربانديې لیکلي دي.

نوموړی کتاب د منې ګل د نهمې دودیزې مشاعرې په ویاړ، د میدان وردګو ولایت مقام په مالي لګښت، چې ۱۷۳مخونه لري، د ۱۰۰۰ټوکونو په شمېر د اسد دانش مطبعه کې چاپ شوی دی. چې د پښتو ادب د ستر خدمتګار اروښاد محمد ارسلان سلیمي ژوند لیک دی چې د خپل ویاړلي ژوند تر پایه یې د افغانستان د خلکو خدمت په ډېر اخلاص، صداقت او ایمانداری سره وکړ او د هېواد د معاصرې ښوونې او کلتوري نوښتونو د بنسټ ایښودونکی، زیارکښ او مخکښ مشر ګڼل کیږي.

## فلسفه:

فلسفه د ځوان لیکوال ښاغلي محب الله زغم اثر دی، چې د ماشومانو له پاره یې نهه کیسې او پنځه طنزونه په کې لیکلي دي. ژبه یې خوږه، روانه او له تلوسې ځخه ډکه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوموړی کتاب هم منې ګل د نهمې دودیزې مشاعرې په ویاړ، د میدان وردګو ولایت مقام په مالي لګښت په ۷۶ مخونه کې چاپ شوی دی. نوموړی اثر استاد اسد الله غضنفر ته ډالۍ شوی، چې د ماشومانو د ادب په لاره کې یوه لویه لاسته راوړنه ګڼل کیږي.

## د بدیع فن او پښتو شاعري:

دا کتاب د تکړه څېړونکي او لیکوال پوهنیار استاد محمد ابراهیم همکار اثر دی. نوموړی اثر یې د ارواښاد پوهاند عبدالشکور رشاد او عبدالرووف بېنوا پاکو ارواحو ته ډالۍ کړی دی. دا کتاب د میدان وردګو ولایت مقام په مالي لګښت په ۱۳۸۸لمریز کال د زرو ټوکونو په شمېر په ښکلې کچه او بڼه چاپ او خپور شوی دی. دغه کتاب د مشر استاد او څېړونکي محمداصف صمیم او پوهنیار سیدغني غني له خوا په اوږدې سریزې پیل شوی دی. یاد کتاب چې د منې ګل د نهمې دودیزې مشاعرې په ویاړ چاپ شوی، په ۲۲۶ مخونو او اتو څپرکو درلوونکی دی.

## اتمه منې ګل مشاعره

اتمه منې ګل مشاعره د ځوان لیکوال او خوږ ژبي شاعر ښاغلي عبدالودود پښتونځار د اتمې منې ګل مشاعرې بشپړ راپور دی، د لیکوال ښاغلي ګل اغا احمدي وردګ له لنډې لیکنې وروسته سریزه د کتاب د لیکوال له خوا لیکل شوې ده، دا کتاب په ۱۳۸۷لمریز کال د اسد دانش مطبعې د تخنیکي څانګې له خوا د ۱۰۰۰ ټوکو په شمېر د میدان وردګو ولایت مقام مطبوعاتی دفتر له خوا د منې ګل دودیزې مشاعرې په ویاړ په ۱۰۴مخونو کې چاپ او خپور شوی دی.

## وروستی ساه

دا اثر د دې سیمې د یوه تنکي ځوان شاعر او لیکوال ښاغلي محمداصف عمر ناولګوټی دی، چې په ۱۳۸۸لمریز کال کې یې بشپړ کړی او په همدې کال د منې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګل د نهمې دودیزې مشاعرې په ویاړ د میدان وردګو ولایت مقام په مالي لګښت د ۱۰۰۰ ټوکو په شمېر خپور شوی دی. د کتاب په لومړیو درېیو مخونو کې د لیکوال له خوا ډالۍ، مننلیك او یوه وړه سریزه کښل شوې او ورپسې د ناول موضوع، چې غالبا د لیکوال مطلب به هغه لمبې وي چې د یوه افغان ځوان له زړه څخه د مینې پر مهال په خیالي ډول پورته کیږي، انځور ښیي، په۱۲۰ صفحو کې ځای شوې ده.

## د پنجرې شاته

د میدان د سیمې د ځوان شاعر او لیکوال او ژورنالیست احمد تکل درېیم شعري جونګ دی، چې په۱۳۸۸لمریز کال د میدان ورد ګو ولایت مقام په مالي لګښت د منې ګل د نهمې دودیزې مشاعرې په ویاړ د دانش په خپرنځی کې د زرو په ټوکو چاپ شوی دی. پر دغه کتاب د لیکوال له خوا سریزه نه ده کښل شوې او په ۱۳۴ مخونو کې یې ۱۰۲ شعرونه ځای شوي دي، چې ډېری یې غزلونه دي او د نظمونو په ګډون نور شعري ډولونه هم لري.

## لرغونی افغانستان

لرغونی افغانستان د هېواد د نامتو لرغونپوه پوهنوال استاد رسول باوری د مقالو ټولګه ده، چې د افغانستان د لرغونو سیمو په هکله په زړه پورې معلومات لوستونکو ته په مخ کې ږدي.

یاد کتاب د میدان وردګو ولایت مقام په مالي لګښت د منې ګل د نهمې دودیزې مشاعرې په ویاړ، په۳۱۵مخونو کې په ۱۳۸۸لمریز کې د اسد دانش مطبعې له خوا په کابل کې چاپ شوی دی.

## کاروان خبرې کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

«کاروان خبرې کوي» د پیرمحمد کاروان د هنري خبرو، لیکنو او نظریو ټولګه ده چې د ښاغلي بازمحمد عابد سره راټولې کړي او د میدان وردګو ولایت مقام په مالي لګښت د منې ګل د نهمې دودیزې مشاعرې په ویاړ په ۱۳۸۸لمریز کال د کابل په نوې ښار کې د دانش خپروندویې ټولنې له خوا د ۱۰۰۰ ټوکو په شمېر چاپ او خپور شوی دی. د دغه کتاب په لومړیو دوو مخونو کې د راټولوونکي له خوا لنډه لیکنه راغلې او ورپسې په ۱۳۰ مخونو کې راغونډ شوي دي.

## دراوی

دراوی په خیالونو کې تصویر جوړوونکی د ځوان شاعر او لیکوال ښاغلي ومان نیازي شعري ټولګه ده، دغه کتاب په ۱۳۹۱لمریز کال د میدان وردګو ولایت مقام په مالي لګښت د زرو ټوکو په شمېر چاپ او خپور شوی دی. د دغه کتاب په پیل کې د ښاغلي استاد محمد صدیق پسرلي په پنځو مخونو کې ارزوونکې خبرې شوې، ورپیسې ډاکټر بازمحمد ښادمن له خوا هم یوه لیکنه شوې، وروسته ځوان لیکوال او شاعر علم ګل سحر د کتاب لیکوال په لنډ انداز، خو په هنري بڼه لوستونکو ته ورپېژندلی دی. نوموړی کتاب په ۱۵۴ مخونو کې چاپ شوی دی.

## د ښیښې زړه

دا اثر د شاعر او لیکوال محمدحسن حقیار لومړی شعري جونګ دی او په ۱۳۸۸لمریز کال د میدان ورد ګو ولایت مقام په مالي لګښت د منې ګل د نهمې دودیزې مشاعرې په ویاړ د دانش په خپرنځي کې د زرو ټوکونو په شمېر چاپ او خپور شوی دی. د کتاب په پیل کې د پښتو ژبې د پیاوړي څېړونکي او لیکوال استاد پوهاند عبدالشکور رشاد له خوا تقریظ لیکل شوی او داسې معلومیږي چې دا شعری ټولګه د ارواښاد پوهاند استاد رشاد له مړینې څخه دمخه چاپ ته چمتو وه. ښاغلی حقیار د هېواد د یو ځو هغو شاعرانو له ډلې څخه دی، چې کار یې په شعري هنر کې د اوسنیو غوښتنو تر پولې تر ډېره نږدې بریښي. د دغې ټولګې په ۱۱۹ مخونو کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظمونو، رباعي، څلوريزو په ګډون د حقيار ۱۱۰ شعرونه راغونډ شوي دي، خو ډيری يې غزل دي. کتاب د ښاغلي حقيار په لنډ ژوند ليک سره پای موندلی دی.

## اندونه [ژورافکار]

د دې کتاب عربي نوم يې «النظرات» د مصر هېواد د نوموتي ليکوال استاد مصطفی لطفي منلوطي د لوړ ټولنيز فکر مجموعه ده، چې د پښتو ادب د هڅاند ليکوال او ادبپال ښاغلي امين الله عادل په پښتو ژبه ژباړلی دی، د ژباړن په سريزې سربېره استاد محمداصف صميم هم پرې سريزه کښلې ده. نوموړی کتاب په ۱۳۸۸لمريز کال د زرو ټوکو په شمېر د اسد دانش مطبعې له لوري د ميدان ورد ګو ولايت د مقام په مالي لګښت د منې ګل د نهمې دوديزې مشاعرې په وياړ چاپ او خپور شوی دی. دغه کتاب په ۱۴۹ مخونو کې ۳۸ په زړه پورې عنوانونه لري.

## از آزادی بيان تا تروريزم

دغه کتاب د افغانستان د ښځينه فعالې غړې ليکوالې اغلې ليلا خرم د مقالو ټولګه ده، چې د ويسا ورځپاڼې له لارې وخت پر وخت خپرې شوې دي، دافغانستان روان حالات يې ګام پر ګام څېړلي او د هغه تصوير يې د خپلو لوستونکو په مخ کې ايښی دی. دا کتاب د افغانستان مظلوم ولس ټولو خويندو او وروڼو ته ډالۍ شوی او د ويسا ورځپاڼې مسوول مدير ښاغلي محمد زبير شفيقی پرې سريزه کښلې ده. ياد اثر د ميدان وردګو ولايت مقام په مالي لګښت د منې ګل د نهمې دوديزې مشاعرې په وياړ چاپ او خپور شوی دی. دغه کتاب په ۱۷۱ مخونو کې په ۲۰۰۹ز کال د زرو ټوکو په شمېر د اسد دانش مطبعي له لوري په کابل ښار کې چاپ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ټولنپوهنه او په اړه يې بنسټيز اندونه

د ميدان ښار د ځوان شاعر او ليکوال انجنير جلال آشنا لـومړۍ ژباړه ده، چې پـه ۱۳۸۸لمريز کال د ميدان وردګو ولايت مقام د فرهنګی ټولنې په مـالي لګښـت د منې ګل د نهمې دوديزې مشاعرې په وياړ چاپ او خپور شوی دی. د کابل ښار د دانش په خپرنځي کې د زرو په ټوکو چاپ شـوی دی. پـر دغـه کتـاب د ليکوالـ محمـداجمل هوډمن له خوا سريزه کښل شـوې او پـه ۱۸۸ مخونـو کـې چـاپ شـوی دی. د کتـاب اصلي ليکوال پيتر کيوسټو دی، چې په فارسي ژبه منوچهر صبوري له خوا ژباړل شـوی دی. د کتاب موضوع ټولنه، سياست او اقتصاد جوړوي.

## د ميړيانو په باره کې يو لړ پوښتنې او ځوابونه

د ميړيانو په هکله معلومات د ځوان شاعر او ليکوال ښـاغلي سـيد عبـدالله ولـي زي ژباړه ده، چې دی مليسنټ سل سام له کتاب څخه يې کـړې ده، دا کتـاب ډيـر ښـکلی پيغام چې هغه مرسته او يووالی دی، له ځان سره لري، نومـوړی کتـاب پـه ۱۳۸۸لمريـز کال په کابل کې د اسد دانش په چاپخونه کې د زرو ټوکو په شمېر چـاپ شـوی دی. مالي لګښت يې د ميدان وردګـو ولايـت مقـام لـه خـوا د منې ګـل د نهمـې دوديـزې مشاعرې په وياړ ورکړل شوی دی.

## نهمه منې ګل مشاعره

دا د ميدان وردګو ولايـت د ځـوان ليکوالـ او خـوږ ژبـي شـاعر ښـاغلي ګـل اغـا احمدی وردګ د ادبي نهمې منې ګل مشاعرې بشپړ راپور دی، د ليکوال ښـاغلي روح الله وفا له لنډې ليکنې وروسته د کتاب د ليکوال له خوا پرې سريزه ليکل شـوې ده، دا کتاب په ۱۳۸۹لمريز کال د ۱۰۰۰ ټوکو په شمېر د ميدان وردګو ولايت مقام پـه مـالي لګښت د منې ګل د نهمې دوديزې مشاعرې په وياړ په ۶۲مخونـو کـې چـاپ او خپـور شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پوهـې ډېوه

د پوهې ډېوه د میدان وردګو ولایت د مشر شـاعر او لیکوال عبـدالمتین وردګ د شعرونو ټولګه ده، چې په ۱۳۹۰لمریز کال په یاده سیمه کې د زرو ټوکـو پـه شـمېر، د میدان وردګو ولایت د مقام په مالي لګښت د دانش په مطبعه کې چاپ او خپور شوی دی. د دغه کتاب په ۱۴۸ مخونـو کـې د نومـوړي لـه ۱۵۰ څخـه زیـات شـعرونه، چـې ډېری یې غزلونه دي او نور بېلا بېل شعري ډولونه هم لري، راټول شوي دي.

## بـهار پر شګوفه

د بهار پر شګوفه د سمنګانو ولایت د شاعرې او لیکوالې اغلې بس بي بـي شـیوا د شعرونو ټولګه ده، چې پـه ۱۳۸۸لمریـز کالـ د زرو ټوکـو پـه شـمېر، د میـدان وردګـو ولایت د مقام په مالي لګښت د ښځو د نړیوالې ورځې په یاړ چاپ او خپـره شـوې ده. د دغه کتاب په ۱۰۲ مخونو کې د نوموړې ۱۲۹ ښکلي شعرونه، چې بـېلا بېـل شـعري ډولونه لري او ډېری یې غزلونه دي، ځای شوي دي.

## د قـدرت لارۍ

د قدرت لارۍ د شاعر او لیکوال ښاغلي محمد زبیر شفیقي د طنزي کالمونو ټولګه ده، چې په ۱۳۹۱لمریز کال د زرو ټوکو په شـمېر د میـدان وردګـو ولایـت د مقـام پـه مالي لګښت د اسد دانش په چاپځي کې چاپ او خپره شوې ده. د دغه کتاب پـه ۲۱۸ مخونو کې د نوموړي ۱۰۶ طنزیه کالمونه د بېلا بېلو موضوعګانو په هکله په نثري ژبه او هنري ښکلا خپلو لوستونکو ته وړاندې کوي.

## د راډیو ژورنالیستانو له پاره لارښود

د اثـر د المـان هېـواد د نومـوتي لیکوالـ پېترهیـولېن، تورسـتېن کـارګ د علمـي لارښوونو مجموعه ده، چې پښتو ژبې ته ډاکټر، لیکوال او ادیپالـ اسـتاد ښـاغلي محـب

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپین غر راژباړلی دی. نوموړی کتاب په ۱۳۹۱لمریز کال د زرو ټوکو په شمېر د میدان وردګو ولایت د مقام په مالي لګښت چاپ او خپور شوی دی. د دغه کتاب په ۱۵۷ مخونو کې ۹ په زړه پورې برخې د هغه چا له پاره، چې غواړي په راډیو کې په مسلکي ډول دنده تر سره کړي، ډېر ګټور معلومات راغلي دي.

## د سولې نیالګی

د سولې نیالګی د میدان وردګو ولایت د پخواني والي محمدحلیم فدایي او انجنیر فضل عمر د هغو معلوماتي مقالو مجموعه ده، چې د کرنې او مالدارۍ په هکله یې را ټول کړي دي، دغه کتاب د دغه ولایت د مقام په مالي لګښت د بزګر د ورځې په ویاړ چاپ شوی دی. سریزه د ښاغلي محمدحلیم فدایي له خوا پرې کښل شوې ده، په ۱۳۹۰لمریز کال د پېښور دانش په خپرنځي کې د ۱۰۰۰ ټوکو په شمېر په ۲۳۷ مخونو کې چاپ او خپور شوی دی.

## د سولې ټکری

دا د ځوان، تکړه شاعر او لیکوال ښاغلي محمدحلیم فدایی راټولونې دي، چې په ۱۳۸۹ لمریز کال کې د میدان وردګو ولایت د مقام په مالي لګښت د ښځو د نړیوالې ورځې په ویاړ د زرو ټوکو په شمېر په ۲۴۸ مخونو کې چاپ شوې دي.

## د سولې قلم

د سولې قلم د شاعر او لیکوال حاجي محمد حلیم فدایي د راټولو شویو مقالو ټولګه ده، چې په ۱۳۹۰لمریز کال د زرو ټوکو په شمېر د میدان وردګو ولایت د مقام په مالي لګښت چاپ او خپور شوی دی. دغه کتاب چې ۲۲۰ مخونه لري، موضوع یې په افغانستان کې د پوهنې ارزښت او تاریخچه باندې څرخي.

## د میدان وردګو ولایت پنځه کلن پرمختیایي پلان

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا پلان د میدان وردګو ولایت د ولایتي، سیمه ییزې، پرمختیایي، علماوو، ښځو، معیوبینو، ځوانانو شوراګانو، سکتوري ریيسانو، ولایتي پرمختیایي کمېټې، غیر دولتي موسسو د بېلا بېلو لیکوالو او روښانفکرانو د مشورو پایلې ګڼه کتاب دی، چې د یادې سیمې د بیارغونې او پرمختګ په اړه په کې نظریات وړاندې شوي دي. دغه کتاب د میدان وردګو ولایت د مقام له خوا تدوین او ترتیب شوی دی. یاد کتاب ۳۴۸مخونه لري او په ۱۳۹۰لمریز کال د ولایت مقام فرهنګي کمېټې په مالي لګښت د زرو ټوکو په شمېر چاپ او خپور شوی دی.

## د میـدان ښار سفرنامه

د کوزې پښتونخوا شاعر، لیکوال او تاریخپوه درویش دوراني اثر دی، چې سږکال د منې ګل د مشاعرې په وخت کې یې سفر کړی و، ده دغه سفر په ډېر هنرمندانه توګه لیکلی دی. نوموړی کتاب هم د میدان وردګو ولایت مقام په مالي لګښت د چاپ په ګاڼه سمبال شوی دی، سریزه وربانديې د لیکوال له خوا کښل شوې ده.

همداراز د میدان وردګو ولایت د مقام له خوا چاپ شوو او خپرو شوو اثارو ته په لاندې ډول په لنډه توګه دوام ورکوو:

**د اسلام له نظره ټولنیز خوځښت:** د محمد حلیم فدایي لیکنه اوخېړنه.

**دسـولې سـندره:** د محمد حلیم فدایي را ټولونه او لیکنه

**حج احکام او حکمت یې:** د محمد حلیم فدایي لیکنه اوڅېړنه.

**رمضان او اړوند مسایل یې:** د محمد حلیم فدایي لیکنه اوڅېړنه.

**فکر او عمل:** د محمد حلیم فدایي لیکنه اوڅېړنه.

**د کانکور لارښود:** راټولوونکي د میدان محصلین

**د کانکور لارښود:** راټولوونکي د وردګو محصلین

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اتم- د میـدان سیمې ادبي او فـرهنګي فعالیـن

له دغو فعالینو څخه زموږ موخه د میدان ښار د سیمې ټول هغه لیکوال او فرهنګیان دي، چې د یادې سیمې د ادبي او فرهنګي تاریخ په بېلابېلو پړاونو کې یې کـار کـړی او یا یې څېړنیز او تخلیقي اثار رامنځته کړي دي. د یادولو ده، چې پـه میـدان وردګـو ولایت کې د هېواد او نړۍ په کچه ادیبانو، عالمانو او لیکوالو شـتون درلـود، چـې ښـه بېلګه یې د هېواد پیاوړی عالم او څېړونکی خدای بښلی انجنیـر غـلام محمـد فرهـاد او قدرت الله حداد دي، چې افغاني ټولنه یې له نوو نړیوالـو علمـي تیوریـو او پـوهې سـره اشنا کړې ده او پـه دې برخـه کـې یـې پـه لسـګونو ژور څېړنیـز اثـار هـم کښـلي دي. همداراز پر هغو ژوندیو مشرانو لیکوالو او څېړونکو هـم خبـرې لـرو، چـې د هېـواد پـه کچه یې لا له وړاندې په اکاډمیکو چارو لاس پورې کړی او یا یې د فرهنګ، ادب او علم په برخه کې څېړنیز اثار لري، چې له دې ډلې څخه د ښاغلي اسـتاد لطیـف بهانـد، احمدتکل، شاه محمود حسین، اصف بهاند او نورو نومونه یادولی شو.

دلته د میدان سیمې د ادبي او فرهنګي فعالینو د پېژندنې په برخه کې په ډېرو هغـو کسانو خبرې شوې دي، چې په دغې سیمه کې له پخوا څخه تېر شوي او هېچا یـې پـه هکله یوه کرښه هم نه ده کښلې. دغه ډول پلټنه په دې سیمه کې یو نوی ګام دی، چې پورته کېږي، هیله ده چې نور لیکوال هم دغې موضـوع تـه پاملرنـه وکـړي، دلتـه دغـه لړۍ د هېواد د پیاوړي نوښتګر او د کابل لومړني انتخابي ښاروال خـدای بښـلي انجنیـر غلام محمـد فرهـاد او لیکوالـ، تاریخپوهـه ښـاغلي قـدرت الله حـداد څخـه پیلېږي او ورپسې د میدان ښار د خالد بن ولید د ادبي ټولنې پـر اوړنـدو مخـورو اوسـنیو لیکوالـو خبرې شوي او همدا ډول تر وروستیو فعالینو پورې غځول شوې ده. دلته بایـد یادونـه وشي، چې د دغې لړۍ د لومړي پړاو لیکوالو او شاعرانو، لکه قدرت الله حداد، محمـد اصف بهاند، شاه محمد حصین، احمد تکل، ډاکټـر عبـدالوکیل... د میـدان ځوانـان لـه ادبي ټولنې وړاندې ادبي او فرهنګي فعالیتونو ته مخه کـړې وه، خـو دلتـه لـه دې املـه چې له یوې خوا یې په دې وروستیو کې نور ډېر کارونه ترسره کړي او له بلې خـوا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

پخواني او اوسني ادبي او فرهنګي بهير د هڅونې او دودونې له وياړ څخه بـرخمن دي، نو ځکه د دغې لړۍ د سر په کړيو کې ځای لري.

## غلام محمد فرهاد

دلته د غلام محمد فرهاد ژوندليک په ډېر ځغلند ډول واړندې شوی دی.

د بابا ژوند او مبارزه رښتيني او ژور علمي-تحقيـق تـه اړتيـا لـري. د هغـه پـه ټولـو کارونو پوهېدل او د هغه اخلاقي سجاياوې ځوان نسل تـه ورپېژنـدل، د دې ليکنـې لـه توانه لېرې دي، زه نه محقق يم او نه هـم ليکوال، دې مـوخې تـه د رسـېدو لپـاره يـوه علمي سيمينار ته اړتيا شته.

ديپلوم انجنير غلام محمد فرهاد «بابا» د وياړه ډک ژونـد، مبـارزې او افکـارو تـه لنډه کتنه:

**پېژندنه :**

„اروا ښاد ديپلوم انجنير غلام محمد فرهاد چې د کابل پـه خلکـو کـې د (بابـا) پـه نامـه مشـهور و، د افغانسـتان د معاصـر تـاريخ يـو سـتر ملـي او سياسـي شخصـيت و، د افغانستان په ابادۍ او د هېواد د افغاني هويت په غښتلتيا کـې يـې نـه هېرېـدونکې هلـې ځلې کړې دي.

اروا ښاد غلام محمد فرهاد پـه ۱۹۰۱ز پېرديـز کـال کـې د ميـدان وردګـو ولايـت د مرکز ميدان ښار اړونـد د ابـراهيم خېلـو سيمې پـه يـوه مخـوره او درنـې کـورنۍ کـې زېږيدلی دی، په ۱۹۱۵ز کال کې کابل ته تر راکـړه کـېدو وروسـته يـې د حبيبيـې پـه ښوونځي کې خپلې زده کړې پای ته ورسولې. خدای بښلي بابا په ۱۹۲۱ز کـال کـې د اعليحضرت غازي امان الله خان له خوا د لوړو زده کړو لپاره جرمنـي تـه واسـتول شـو، چې د مونشن په ښار کې يې دElektrizität (برق) په څانګه کې ديپلوم ترلاسه کـړ. هېواد ته تر ستنېدو وروسته په ۱۹۲۸ز کال کې يې د اماني په ښوونځي کې د ښوونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنده ترسره کوله او د دې ترڅنګ يې د دولتي فابريکو د الکتروتخنيک د برخې مسووليت هم په غاړه و. خدای ښښلی فرهاد په ۱۹۳۴ز کال کې يو ځل بيا جرمني ته لاړ، د المان له هېواد سره د يوه قرارداد په اساس يې د ميدان وردګو ولايت د چک د برېښنا بند په الماني توربينو سنبال او د سروبي بند توربينونه يې هم نوي کړل.

په ۱۹۴۸ز کال کې د کابل ښار لومړی ولسواک ښاروال وټاکل شو او په ۱۹۵۴ز کال کې د کابل د برېښنا شرکت تاسيس او دی د همدغه شرکت مشر شو.

ښاغلی فرهاد په ۱۹۵۵ز کال کې د لويې جرګې غړی و او په ۱۹۶۶ز کې د کابل د خلکو له خوا د ولسي جرګې وکيل وټاکل شو او په ۱۹۷۰ز کال کې يې د ولسي جرګې وکالت د خپلې ارادې د مقاومت په عنوان پرېښود.

خداي ښښلی فرهاد په ۱۹۶۶ز کال کې د افغان سوسيال ديموکرات ګوند په موسسه کنګره کې د ګوند د مشر په توګه وټاکل شو او د مرګ تر ورځې د دغه ګوند مشر و.

د ۱۹۷۹ز کال د اکتوبر په ۱۴مه د حفيظ الله امين د حکومت له خوا د يوې پوځي کودتا په وسيله د حکومت د رانسکورولو په تور له خپلو يو لړ ملګرو سره ونيول شو او په کابل کې زنداني شو او په ۱۹۸۰ز کال کې ل بند څخه راخلاص شو. خداي ښښلي فرهاد د جګړې او سياسي اختناق وخت کې هېواد نه د وتلو وړانديزونه په کلکه سره ردول.

اروابناد غلام محمد فرهاد په ۱۹۸۴ز کال د نومبر په ۷مه (۱۷ د لړم ۱۳۶۳لمريز، ۱۴ د صفر ۱۴۰۵ هجري قمري ) کې په حق ورسېد او په شهدای صالحينو کې خاورو ته وسپارل شو.

روح دې يې ښاد وي؛ ياد دې يې تل وي؛ مرام دې يې بريالی وي!

**قدرت الله حداد فرهاد (Qudratullah: haddad farhad.)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیاسي شنونکی قدرت الله حداد فرهاد

قــدرت الله حــداد فرهــاد (۱ د اکتــوبر، ۱۹۳۰ ز. - ۱۵ د دېســمبر، ۲۰۱۱ ز.) (پــه انګرېـزي: *Qudratullah Hudaad Farhad*) یـو افغـان ژورنالېسـت، سیاسـي څېړونکی، تاریخپوه او لیکوال و چې ډېر کالونه یې د افغانستان پـه چـاپي رسـنیو کـې کار کړی دی.

قدرت الله حداد فرهاد د سید احمد خان زوی پـه ۱۳۱۰ لمریـز کالـل پـه کابـل ښار کې زیږېدلی و، خو پلرنی ټاټوبی یـې د میـدان وردګـو ولایـت پلازمېنـه میـدان د ابراهیم خېلو سیمه ده.

**دندې**

د ولس له ملي جریدې سره مرستیال.

په ۱۳۳۱ ل. کې د آینې جریدې مرستیال.

په ۱۳۳۳ ل. کې د پامیر جریدې سرمحرر.

په ۱۳۳۴ل. کې د سوداګرۍ خونې د بهرنیو اړیکو سرکاتب او د اقتصاد د جریدې همکار.

د مخابراتو ښوونځي کې د پښتو ښوونکي په توګه.

په ۱۳۳۶ ل. کې په سوداګرۍ خونه کې د اقصـاد د جریـدې د مرسـتیال پـه توګـه دنده.

په ۱۳۴۱ ل. کې د سرې میاشتې د ټولنې د تبلیغاتو د لوی مـدیر د کفیـل پـه حیـث دنده.

اروابناد حداد فرهاد ښوونځی تر زده کړې وروسـته د سرشـارې ځـوانۍ پـه دوران کې د ژورنالیزم په څانګه کې څلور کلنې زده کړې وکړې او د انیس پـه جریـده کـې یې د کارمند په ډول په دنده پیل وکړ، بیا وروسته د پامیر د جریدې مسوول مدیر او تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې وروسته د اقتصاد جريدې د مسوول مدير په توګه دنده ترسره کړې او د لس کلنې دورې وروستی رسمي ماموريت يې د سرې مياشتې رياست د تبليغاتو لوی مديريت و.

په سياست کې ونډه:

قدرت الله حداد فرهاد د خپل مشر ورور د افغان ټولنپال ولسواک ګوند د بنسټ ايښودونکي، د کابل د پخواني ښاروال، د ميوند د جادې جوړوونکي او د ماهيپر د برېښنا بند د جوړولو مفکر چې د افغاني انجنيرانو په مټو جوړ شوی دی، د ۱۳۴۳ لمريز کال د اساسي قانون د مصوبې ترتيب او تدوين غړی، د لوې جرګې او ولسي جرګې غړی، د اماني دورې او ويښ زلميانو د نهضتونو سرګرم غړي ديپلوم انجنير غلام محمد فرهاد بابا په لارښوونه په ۱۳۴۹ لمريز کال کې د افغان ټولنپال ولسواک ګوند غړيتوب حاصل کړ، خو له غړيتوب څخه د مخه د افغان ملت د اخبار مسوول مدير شو.

د خپل کار په دوره کې يې د ملي مشرانو اندونه، د پوهانو نظرونه د ګوند د پنځو اصولو (ملي مقدسات، ملي تاريخ، ملي کلتور، ملي اقتصاد، ملي جغرافيه «د وطن پالنې ګډ احساس») باندې يې د مسلکي خلکو نظريات راټول او ګوند يې په يوه ملي خط رهبري کړ، چې په دغه دوران کې اخبار دوه ځلې د وخت د حکومتونو له خوا مصادره شوی دی. خپله حداد او بل ليکوال او مبارز شخصيت د ګوند استاد سيديوسف مېړنی محاکمه شوي دي (په نقدي جريمه او د لنډې مودې له پاره توقيف شوي دي).

رسمي سفرونه:

قدرت الله حداد (فرهاد) د افغان ټولنپال ولسواک ګوند د استازي په توګه په رسمي ډول د دوست هېواد هندوستان په بلنه د بنګله دېش د ازادۍ په نړيوال کنفرانس کې برخه اخيستې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه حداد چې کله د سرې میاشتې په ریاست کې ماموریت درلود، هغه وخت په ایران کې یوه سخته زلزله رامنځته شوې وه، نو د سرې میاشتې له خوا ایران ته د زلزله ځپلو لپاره د مرستې لیږدونې د هیئت مشري یې په غاړه درلوده.

هلته یې له ایراني شاعر لیکوال او څېړونکي (علي دشتي) او نامتو شاعر (رهي معیري) سره د پښتو ادب، پښتو او پښتنو په اړه ښه ډېر بحثونه کړي و او هغوی ته یې د پښتنو د شتون او پښتو ژبې په لرغونتوب قناعت ورکړی و.

جایزې او ستاینلیکونه:

د رحمن بابا د څېړونکي په توګه یې د رحمن بابا لومړۍ درجه او د مطبوعاتي خدمتونو په اړه یې د ښه کار کولو دویمه درجه مطبوعاتي جایزې او ستاینلیکونه اخیستې دي.

لیکنې او کتابونه:

قدرت الله حداد فرهاد په زرګونو علمي مقالې لیکلي، چې په هېواد او له هېواد څخه بهر په رسنیو کې خپرې شوې دي.

د نظر د خاوند، سیاسي پوه، تاریخ څېړونکي او لیکونکي په توګه یې نظریات په غږیزو، چاپي او انځوریزو رسنیو کې خپاره شوي دي.

د افغانستان د قضایاوو په اړه یې هر وخت له افغاني نشنلېزم څخه په دفاع کې خپل مثبت غږ اوچت کړی دی.

د (خبرونه او وحدت) اخبارونو کې یې د یوه کالم لیکونکي په توګه له څه مودې راهیسې پرله پسې لیکنې کړې دي. ملي فلسفه او ملي تاریخ باندې یې ډېر بحثونه کړي دي.

د «افغان ملي تاریخ» په دوه ټوکو کې او «پښتو ادبي لیکنه» په دوه ټوکو کې د ساپي د پښتو څېړنو د مرکز له خوا چاپ شوي او همدا شان ډېر نور کتابونه یې هم لیکلي چې ځینې یې چاپ او ځینې یې پاتې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاپي ليکنې او اثار:

- د پښتونولۍ د لارې مشال
- د احمد شاه بابا ميراث
- پښتون، افغان، افغانستان – چاپ کال ۱۳۸۰ ل.
- د افغان ملي تاريخ (دوه ټوکه)
- د ملي تاريخ فلسفه او پښتونولي.

د ارواښاد قدرت الله حداد فرهاد د مړينې نېټه:

ارواښاد د ۱۳۹۰ لمريز کال د ليندۍ په ۲۵مه نېټه د جمعې په مبارکې ورځې د سهار په اتو بجو د امريکا د ويرجينيا په ايالت کې له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې او روح يې حق ته وسپاره او هملته خاورو ته وسپارل شو.

## ډاکټر عبدالوکيل

زمانه ړدي پر هغه سر د افتخار تاجونه

سر يې مه بوله بل نوم ورلره بويه

چې پيدا په کې لوی فکر لکه غر شي

مرګ حق دی، له مرګه خلاص نه شته، ټول مرو، که سل کاله ژوندی يې، آخر د ګور بنده يې، خو لکه څنګه چې په ژوند کې فرق وي، دغسې مرګ هم دی. د چا پر مرګ يو کور خوار شي، په چا يوه کورنۍ، په ځينو کلی، خو شته داسې ستې او هستۍ چې په هغو ولسونه خوار شي.

ژوندی هم داسې دی، څوک چې ژوندی وي، ځان ساتی او ځان جوړوي، خېټه ډکوي، جيبونه پړسوي، د ماڼيو او پانګې مينې اخيستی وی؛ خو ځينې بيا جهان

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړوي او د انسان مينې يې په زړه کې ځای نيولی وي، څوک پر ځان مين وي، څوک پر قوم.

ډېر تفاوت شته په انسان کې د معنا په لحاظ

واړه مشغول دي ځينې ځان ځينې جهان جوړوي

ځکه خو څوك له طبيعي مرګ سره د تل لپاره مړ شي، پانګه، شته، مانۍ هر څه ترې پاتې شي، خو ځينې بيا په مرګ هم ژوندی پاتې وي، مرګ يې نه شي وژلی، د هغوی يادونه ژوندۍ، خاطرې تلپاتې او يادګارونه ابدي وي.

ته د خپل ځان له غمه مرې زه د جانان له غمه

زاهده ستا ثواب زما ګناه ته چېرته رسي

منلی ملی خدمتګار ډاکټر عبدالوکيل د هېواد له هغو شخصيتونو څخه دی، چې مرګ يې نه شي وژلی، ځکه يې نه شي وژلی چې يادونه، يادګارونه او خاطرې يې ژوندۍ دي. د هېواد هره سيمې يې پر خدمت، مينې او سپېڅلتيا ګواهي ورکوي. هر بېوال يې د خدمت نښې د ژوند کيسه ژوندۍ ساتي، دی د هېواد د هر روڼ فکر، هر بزګر او هر بېوال په زړه کې ژوندی دی، د هرې سمسورې درې زرغونتيا يې يار او يادګار دی.

ډېر ژوندي دې شي هغه مړي نه ځار

چې پر مرګ يې شي ډېر خلك ناكرار

معنوي ژوند يې له خضر نه کم نه دی

چې پر انسانيت کړي افتخار

مړ هغه دی چې ژوندی په مړه حساب وي

نه مري هغه چې ژوندی يې وي يادګار

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر ژوندي مړه دي او ډېر مړی ژوندي دي

مړوی هېر، ژوندی په یـاد وی د روزګار

هــر افغان ته (الفت) دومـره پوهه غواړي

چې د مرګ او ژوند تشخیص ته ده په کار

ډاکټر صاحب په ۱۲۹۸ یا په بل روایت په ۱۳۰۲المریـز کابل کـې د کابـل پـه ښـار زیږېدلی، لومړنی او منځنۍ زده کړې یې د کابل په غازي لېسه کې په اعلی درجه پای ته ورسولې. له نوموړې لېسې څخه تر فراغت وروسته د لوړو زده کړو لپـاره لـه هېـواد څخه بهر هند ته ولاړ، د لیسانس دوره یې د نوموړي هېواد په لا لپوري پوهنتون کې د کرنې او بڼوالی په څانګه کې پای ته ورسوله، د ماسټرۍ او دوکتـورا د ترلاسـه کولـو لپاره د انګلستان او د امریکې متحده ایالاتو تـه ولاړ، د دوکتـورا تـر اخیسـتلو وروسـته هېواد ته راستون شو.

د هلمند وادي ریيس، د هلمنـد والـي، د مشـرانو جرګـې غـړی، د کرنـې وزیـر او کرنې وزارت سلاکار په توګه یې دارنه او د قدر وړ خدمتونه کړي او خپل ژوند یې د هېواد سمسورتیا او ابادۍ ته وقف کړی و.

ده په هېـواد کـې د شـنه انقـلاب بـوټي ولګـول او هېـواد یـې د شـنې طـلا زېرمـه وګرځاوه. هغه طلا چې هېڅکله یې بازار له کساد سره نه مخامخ کیـږي او د تـورې او ژېړې طلا له لارې لاس ته راغلې پانګه یې پښو ته لوېږي.

ډاکټر صاحب چې څه لوستي و او کومې تجربې یې، چې ترلاسه کـړې وې، هغـه یې د ولس ګټې او ښېګړې ته وړاندې کړې.

ده د هېواد د اقلیمي ځانګړنو له مخې په بېلا بېلو سیمو کې د بڼوالی نوي سیستمونه خلکو ته ور وپېژندل. خلك د دوی له تجربو سره ناآشنا وو. هغوی د کرنـې هغـه زړه او اوږده لاره په مخه کې نیولې وه، چې پېړۍ پېړۍ یـې پـه سـیمو کـې دود وه. ډاکټـر صاحب خبرې ورته یوه داسې جواری ښکارېده، چې هر څه یې پـه کـې بـایللي ګڼـل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه دې ته اړ شو، دا هر څه له خپلې ځمکې پيل کړي او خلکو ته يوه مخبيلګه وښيي، په دې توګه يې خپلې تجربې لومړی له خپلې ځمکې پيل کړي. د خلکو خبرې او تبصرې يې اورېدې، چې ويل يې:

د ډاکټر خو تنخوا او نوکري شته، موږ ولې خپله بزګري او ځمکه خرابه کړو.

خو کله چې دغه بڼ مېوه ونيوه او د پخواني کښت په پرتله يې لس برابره ګټه ورکړه، د خلکو سرونه خلاص شول، بيا نو ډېرو دغه جوارۍ ته زړونه ښه کړل.

په نورو سيمو کې چې ډاکټر صاحب وليدل، خلک دغه سيستم ته زړه نه ښه کوي، له يوه تن يې د څو کالو لپاره ځمکه په اجاره واخيسته، د سيمې د دودېزې اجارې دوه برابره بيه يې مخکې له مخکې ورکړه، چې په خلاص مټ په کې خپلې تجربې پلې کړای شي. کله چې بڼ مېوه ونيوه، خلکو يې ګټه او مارکېټ وليد، ډېر ژر هلته د نوې بڼوالۍ سيستم دود شو.

د ده هيله وه، چې همېشه په کروندو کې د بزګرانو په څنګ کې وي، هغوی ته له خپلې پوهې او تجربې ور زده کړې. د بڼوالۍ د نوي سيستم هغه پېچلي موضوعات يې په داسې لهجه او ښه خلکو ته وړاندې کول، چې نالوستي بڼوال هم په ډېره اسانۍ پرې پوهېدای شو، د خلکو په ژبه په عام فهمه لهجه يې د نوې بڼوالۍ ښېګړې، لارې چارې او ګټور اړخونه څرګندول. په دې توګه يې بزګران او بڼوال د کرنې کارپوهان روزل او عملي ډګر ته يې وړاندې کول.

په کومو سيمو کې چې د ډاکټر صاحب د بڼوالۍ سيستم دود شوی، هلته چا د کوکنارو کر ته هڅه نه ده کړې، ملګرو ملتونو، امريکې او نورو لوېديځو هېوادونو د کوکنارو د کر د مخنيوی په لار کې څومره پانګه ولګوله، څه پايلې يې ترلاسه کړې؟ څونې په خپلو هڅو کې بريمن شول، ټولو ته څرګنده ده، چې دغه پيسې په تکراري، کليشه يي تبليغاتو، نمايشي غورځو پرځو، سلاکارانو په تنخواګانو او لوکسو موټرو ولګېدې. خو ډاکټر صاحب بې له دې چې له چا پيسې ترلاسه کړي، په يوازې ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library

او پټه خوله د بڼوالۍ د نوي سیستم د دودولو له لارې د کوکنارو پر ضد مبارزه بریالۍ کړه.

په دغو سیمو کې خلکو د دې اړتیا نه لیده، چې د کوکنارو کر ته مخه کړي. هماغه ګټه چې د کوکنارو له کښت نه ترلاسه کیږي، د بڼوالۍ دغه سیستم د هغوی ځولۍ ته غورځولې ده.

ډاکټر صاحب په زهیرتیا او تېر عمر هم کرار نه کېناست، په نویو تجربو او بریا وو پسې ستومانه و.

د کورنیو جګړو په اوږدو کې، چې د سیاست او ګوند بازۍ بازار له هر څه تود او دغې نشې ټول ښخوده کړي وو. ډاکټر صاحب د ولس اقتصادي پیاوړتیا او ودې ته پام واړاوه، ځکه یې د سیاست او سیاسي لوبو پر ځای د ولس خدمت ته اوږه ورکړه، زیاتر به په هېواد کې دننه په آزادو سیمو کې له بڼوالو سره د نویو تجربو په عملي کولو بوخت و، د مېو تر څنګ یې د زردالو نوي نیالګي خلکو ته وروپېژندل، د سیمې د ځانګړنو او اوبو د کچې له مخې یې د بادامو او ګیلاس نیالګیو کېنولو ته د خلکو پام واړاوه، ګڼې قوریې (بزغلي) یې وکرل او د هېواد په مرکزي سیمو کې یې له پنځو زرو زیات بڼونه کېښول، خلک یې وهڅول، له خپله جیبه یې انعامونه ورکړل، ستاینلیکونه یې ورواستول، چا چې بڼ ښه روزلی و، هغوی یې په سوغاتونو یاد او ونازول. ډاکټر صاحب ځانګړې پوهه، تجربه، پلان او پروګرام له ټولو کورنیو او بهرنیو موسسو سره شریک کاوه او ویل به چې خدمت هر ځای او له هرې لارې کېدای شي. که څوک و غواړي ولس ته خدمت وکړي، په هر موقف او ځای کې چې وي، ترسره کولای یې شي. د ډاکټر صاحب ژوند او د خدمت بهیر د دغه ټکي ژوندی ثبوت دی.

له دې سره یې د نوي سیستم له مخې د سبو کر هم دود کړ. هغو سیمو چې ترانسپورتي اسانتیاوې لرلې، زردالو ته یې بڼوال هڅول، چې تازه مارکېټونو ته رسېدای

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي، خو لرې پرتو سيمو، چې ترانسپورتي اسانتياوې يې دومره نه دي، هلته يې د بل ډول زردالو، چې د کښتې کېدو وړتيا يې لرله، د کر سپارښتنه يې کوله.

د ډاکټر صاحب د خولې خبره ده، چې يو ځل له امريکې نه د راتلو پر وخت په الوتکه کې څه تخنيکي ستونزه رامنځ ته شوه، سورلۍ وارخطا شوه، خو زما انديښنه د انګورو هغو لښتو ته وه، چې له امريکې مې راسره راوړې وې. ما ويل افسوس مخکې له دې چې هغه دود شي، له منځه ځي.

ډاکټر صاحب په هغه وخت کې چې په امريکې کې ډاکټرانو ځواب ورکړ. دې پېښور ته لاړ، دا يې د ژوند وروستی سفر و، چې د مرګ په لور يې لنډاوه، خو بيا هم ځينې نوي بوټي او نيالګي يې ورسره راوړي و. په رسېدو يې بې له ځنډه مزارشريف ته د سره صليب د الوتکې خبر واخيست، چې دغه بوټي او نيالګي په کې ولېږي.

ده د خپل خدمت په دوران کې نه سيمه پېژندله، نه قوم؛ افغانستان يې کور او د دغه کور هره برخه يې د زړه کتره وه.

په همدغه وخت کې، چې ډاکټرانو په وينا يې مرګ ته د دوو اوونيو واټن پاتې و، په ټيلفون د هېواد د اوربښت معلومات کول. په کندهار کې څومره اوربېدلي، په کابل او مزارکې څومره، همدلته يې د آرام ساه واخيسته.

((اوسه که خدای کول، هېواد د وچکالۍ له منګولو ووت)) چې څوك به يې پوښتنې ته ورغلل، ترهر څه د مخه يې په هېواد کې د هغو قوريو او بڼوڼو حال اخيست، چې کوم ډول ناروغۍ سره نه وي مخامخ شوي او لازمې سپارښتنې يې ورته کولې.

په همدغه حالت کې يې اکبر موسسې په دفتر کې خپل هممسلکان را ټول کړل، په ډېر لوړ مورال او زغم يې پر اړوندو او اړينو موضوعاتو خبرې وکړې. په مجلس کې د ده له هرې خبرې له وطن سره د مينې او له خپل مسلك سره د رښتينولۍ جذبې اورېدې، هيچا هم دانه ګڼله چې ډاکټر صاحب ګڼې د مرګ او حتمي مرګ خبر اورېدلی او د ژوند څو ورځې يې پاتې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګوربت مجلې چلوونکي يې وروغوښتل، خپلې ليکنې او يادښتونه يې ورووسپارل او د مرګ له بستر نه يې د ګوربت مجلې د يو کلنۍ په اړه جوړې شوې غونډې ته پيغام وکيښ.

ډاکټر صاحب هېواد ته د تلو تلوسه لرله، چې د خپل وطن په ټوکر، ټوکر او زخمي، زخمي غېږ کې يې سا ورکړي:

د مرګ قاصده ځنګدن کې دا پښتو به کوې

پښتنه سا رانه وانخلې د اغيار کوڅه کې

خو د وطن جګړو، ورانيو او دربدريو دومره ځپلی او لوټلی و، چې د مرګ پر بستر پروت خدمتګار، چې د وروستيو او ارماني سلګيو توان يې نه درلود، بېرته پېښور ته راووړ، هملته يې د ۱۳۷۹لمريز کال د ليندۍ په ۲۴مه د خپل سپېڅلي روح امانت د خپل ښښتن(ج) حضور ته واړندې کړ. د ارواښاد جنازه د هغه د يو شمېر دوستانو او خواخوږو له خوا هېواد ته راوړل شوه او د ميدان وردګو ولايت د نرخ ولسوالی د عمرخېلو په خپل پلرنۍ هديره کې خاورو ته وسپارل شوه.

ارواښاد ډاکټر عبدالوکيل د کرنې او بڼوالۍ په هکله په سلګونو مسلکي او څېړنيزې مقالې ليکلي، چې په خپل وخت کې د ډله ييزو رسنيو له خوا چاپ او خپرې شوې دي. د هغه د قلمی اثارو زياته برخه په انګليسي ژبه ليکل شوې چې د نوموړي د يو شمېر دوستانو له خوا په پښتو ژبه ژباړل شوي او افغانستان کې د باغونو پرمختګ په نوم ټولګه ورځخه چاپ شوې ده.

ډاکټر صيب له علم او پوهې سره خورا مينه لرله چې له همدې امله يې له مرګ څخه ايله څو ورځې وړاندې له خپل شخصي ملکيت څخه څه د پاسه درې جريبه ځمکه د خپلې پلارنۍ سيمې ميدان نرخ د عالي لېسې د ودانۍ لپاره په وړيا توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړه، چې اوس نوموړې لېسه د ډاکټر عبدالوکیل په نوم یادیږي. روح دې یې ښاد وي.

هو! مرګ حق دی، له مرګه خلاصون نه شته، پوښتنه دا ده، چې موږ بل داسې څوك لرو، چې ډاکټر صاحب ځای پرې ډك شي؟

د لیکنې بېلګې دا ده:

د سلګیو شپېې او وروستنی ارمان

درنو مېلمنو!

البته پوهیږئ چې زه د تېر کال د ګوربت غونډې ته ډېر خوشال شوم او دا چې دې کار ته دوام ورکوئ، خوشاله یم، له بده مرغه صحي حالت اجازه نه راکوي، چې په غونډه کې اشتراك وکړم، مګر دا لاندې پیغام چې امېد لرم، په غونډه کې ذکر شي، بې فایدې به نه وي.

زموږ خپرونې باید د ټولنې اني او سملاسي غوښتنې په پام کې ونیسي! هېوادوال د بیاجوړونې لوري ته راوبلل سي، خو له بده مرغه زموږ اکثره خپرونې کلیشه يي، ما ویلي تا ویلي نه ډکې دي. داسې څه نه سته په کې چې د ملت په درد وخوري.

له نېکه مرغه ګوربت خپل رسالت تر ډېره حده تر سره کړی دی، هېوادوال په تېره ځوانان يې د بیا آزادۍ لوري ته راجلب کړي دي، زه هیله لرم چې له ټولو افغاني ځوانانو سره د ګران حفیظ الله غښتلي او ګران احمد ویس وردګ په شان احساس را پیدا شي.

ګوربت چې یو ښه کار کوي، هغه دا دی چې د کرکیلي په اړه یې هم هېوادوال هڅولي دي، تاسې درنو به ګوربت لوستی وي، چې زه یې بیا یادولو ته اړتیا نه وینم، خو د یوې خبرې یادول ضروري ګڼم، هغه دا موږ چې کله د مڼو باغونه رواجول، هغه مڼې یو من په سل افغانۍ وې او غنم یو من په پنځوس افغانۍ وو، یانې یو من مڼو دوه مڼه غنم اخیستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وختي چې منې پوره ورسېدې، معلومه سوه، چې يو جريب منې له پينځو نه تر شل خرواره په جريب کوي. که يې اوسط لس خروار کړو، نو مانا يې دا ده، چې يو جريب منې شل خرواره غنم جوړوي. هغه وخت حاصل د غنمو له څلويښت منو زيات نه و، ليکن که يې خروار وبولو، هم جريب شل خرواره غنم وکړه، نو که د دهقان عايد په جريب شل خرواره سي، نو هغه ته څه نه سي کولای.

غواړم د کرکيلې تر څنګ د هېوادوالو په تېره ځوانانو پام زده کړې ته را واړوم. اوسني ځوانان بايد د زده کړې تر څنګ کار او د کار تر څنګ زده کړه وکړي، خو متاسفانه هغه افغانان چې پيسې ګټي، دا ټولې پيسې په ښځو خرڅې شوې. د چا چې ښځه نه وه، ويې کړه، که د چا يوه لا وه، بله يې هم وکړه. د چا چې زوی لا زلمی نه و، ښځه يې ورته وکړه او تعليم او تربيې ته يې پام ونه کړ. له دې پيسو يوه هم په تعليم او تربيه د اولاد خرڅې نه شوې. حال دا چې بايد لومړی پيسه د اولاد په تربيه لګېدلې وای او بيا په ښځه او نورو. دا خو مې د عام ولس خبره وکړه. هغه چې سرمايه داره او د لږ پوهې او علم خاوندان دي، هغوی بيا پيسې د دې پر ځای چې د خپلو خلکو د سمسورۍ او د وطن د آبادۍ په لاره کې يې ولګوي، په پرديو هېوادونو کې تجارت په کوي او پرديو هېوادونو په بانکونو کې اچوي. زه خپلو ټولو هېوادوالو ته خواست کوم، چې خپل وطن او خلک له ياده مه باسئ!

**په پای کې يو ځل بيا ټينګار کوم، چې افغانان دې تعليم او تربيې ته پام وکړي.**

**نور نو دعا را ته کوئ.**

**ستاسې عبدالوکيل**

د ارواښاد ډاکټر عبدالوکيل خان په ياد

ارواښاد ډاکټر عبدالوکيل خان د هېواد واقعي خدمت کوونکی و. د هېواد د کرنې په برخې کې له بل هرچا زيات خدمتونه تر سره کړي دي، هېڅوک د ارواښاد په خدمتونو سترګې نه شي پټولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېر کال د ارواښاد دتل پاتې یاد منار د میدان ښار مرکز کې د ارواښاد د خواخوږو له خوا جوړ شو.

د منار د پاسه ښکلې سره منه ایښودل شوې، چې ګران هېواد ته د ډاکټر عبدالوکیل خان د خدمتونونه نښه ګڼل کیږي.

ډاکټر عبدالوکیل خان نه یواځې هېوادوالو ته سرې او زړې منې راوړې، بلکې د کرنې په نورو برخو کې یې هم ستر خدمتونه کړي دی، یو لوی میراث یې خپلو هېوادوالو ته پرېښی دی، چې د تل لپاره د ارواښاد یاد ژوندی ساتي.

ښه خو دا چې د چا نوم په کښې یادیږی ... په فاني دنیا خو نه وي ژوندی تل څوک

## وکیل نورعلم خان مظلومیار

ارواښاد وکیل نورعلم خان مظلومیار د حاجي شیرین خان زوی په قوم امرخېل د میدان وردګو ولایت په یوه غریبه، خو دینداره او وطندوسته کورنی کې سترګې وغړولې، په ښوونځي کې له زده کړې وروسته په ډېره لږه موده کې د علم معرفت خاوند شو او د یوه وتلي لیکوال او مدافع وکیل په توګه یې خپل هېواد او خپلو خلکو ته د خدمت ملا وتړله، له علم او معرفت سره د زیاتې مینې له امله یې په **۱۳۲۹**لمریز کال د میدان وردګو په مرکزي سیمه کې د خپلو لاسونو په تنهاکو ګټلو پیسو یې څه د پاسه یو جریب ځمکه کې یو ښوونځی جوړ او د سلګونو زده کوونکو د زده کړو له پاره یې په خورا مینه او اخلاص د پوهنې وزارت په واک کې ورکړ، ترڅو له سیمې او هېواد څخه د جهل او تورتم کمپله ټوله او د علم او معرفت رڼا په لر او بر کې خپره شي، چې له نېکه مرغه تراوسه پورې له دغه ښوونځی څخه د میدان وردګو د ولایت په زرګونه زده کوونکي فارغ شوي او خپل هېواد او خپلو خلکو ته د خدمت مصدر ګرځېدلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورعلم خان مظلومیار د خپل وخت د هغو روښانفکرو شخصیتونو په منځ کې یو داسې ملي شخصیت و، چې په ډېره لږ موده کې یې د خپل ولایت او هېواد په کچه لوړ مقام ترلاسه او د هېواد د رښتینو خدمتګارانو په لیکه کې ودرېد، همدا لامل و چې د خلکو زړونو ته یې لار وموندله او په ۱۳۲۸لمریز کال کې په ولسی جرګه کې د میدان وردګو د خلکو وکیل و، همدرنګه په ۱۳۳۲-۱۳۳۸لمریز کال هم دغه ولایت د خلکو استازی و.

مظلومیار د هغه وخت د مشروطه غوښتونکو او ویښ زلمیانو د تحریك یو فعال او متحرك غړی و.

نوموړي خپل پیغام د شعر په ژبه مظلوم ولس ته رساوه، خو له بده مرغه چې له ډېرو هڅو سره سره بیا هم په دې بریالی نه شوم چې د مظلوم صیب نظم بیلګه پیدا کړم.

## عبدالوکیل عمري لنډه پېژندنه

تخلص یې (عمري) د قاضي عبدالله خان زوی د مرحوم حاجي محمد عمرخان لمسی، د مرحوم حاجي عبدالله خان لالا کړوسی او د مرحوم ملا رحم بابا کودی دی، په ۱۳۳۲لمریز کال د میدان وردګو ولایت د نرخ ولسوالی د کریمدادو په سیمه کی په یوه درنده عالمه او نسبتا شتمنه کورنۍ کې زیږېدلی دی، د مور له خوا د مرحوم عالم ګل مولوي صاحب عبدالرزاق خان چې د نسب سلسله یې ملاصاحب زیري اخند ته رسیږي لمسی دی، ۱۳۵۵ه ش کال د حبیبی له لیسه فارغ، په ۱۳۵۹ه ش کال کې د کابل پوهنتون د اجتماعی علومو له پوهنځی څخه فارغ شوی دی. د رسمي دندو پیل یې د سوداګرۍ له وزارت څخه ده، چې بیا وروسته د کانو او صنایعو په وزارت کې د مامورینو په مدیریت کې په وظیفه بوخت شوی، چی د همدې وزارت د مرمر او رخام تصدۍ د مامورینو تر مدیریت یې کار وکړ، د ۱۳۵۹لمریز کال په وروستیو کې پېښور ته مهاجر شوی، چې لومړۍ دنده یې د مجاهد په لېسې کې له نهم ټولګي څخه تر دولسم ټولګی پورې د تاریخ او اسلامي بینش ښوونکی و، چې څلور کاله یې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدې لېسه کې دغې سپېڅلې وظیفې ته دوام ورکړی، بیا په العون الاسلام کې چې د اسلامی هېوادونوګډه موسسه وه، د افغانستان د مرکزی او جنوب شرق ولایتونو او د پېښور په العون الاسلامي پورې اړوندو ښوونځیو او مدرسو د ښوونې او روزنې مسوول و، له هغه وروسته د سیدجمال الدین مجاهد په لېسه کې ښوونکی او وروسته سرښوونکی شو، د مجاهدوینو د موقت حکومت له جوړېدو سره سم د بیارغونې او جوړونې وزارت د تحریراتو عمومي مدیر شو.

«یو موټی اسلامي امت څرنګه ښکېل شو» او «تاریخ تمدن اسلام» یې لیکلي اثار دي، د دغو چاپ اثارو تر څنګ د سویډن او سویس موسسو د تعلیمي نصاب د علمي غړي په توګه د پنځم او شپږم ټولګیو د تاریخ او جغرافیې درسي کتابونه یې تالیف کړل، سربېره پردې چې د هجرت او جهاد په دوران کې یې په سختۍ کې ژوند کاوه، له جهادي تنظیمونو سره یې قلمي او د بېلابیلو موضوع ګانو په ورکولو سره نشراتي اړیکې درلودې، د مجاهد په لېسه کې یې د ګستنر په بڼې سره د نهم، لسم ،یوولسم او دولسم ټولګیو تاریخ کتابونه ولیکل، چې عملا تدریس کېدل هم او نورو ډېرو لېسو کې د ماخذ په توګه ورځینی استفاده کېدله.

د ۱۳۷۱ کال په وروستیو کې چې د اسلامي انقلاب په پایله کې اسلامي حکومت رامنځ ته شو، کابل ته راغی. لومړی د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت کې د اریانا نشراتي او طباعتي تصدۍ مرستیال، بیا د اوبو او انرژۍ وزارت کې د اسنادو ارتباط رییس، بیا د هېواد ورځپاڼې رییس او مسوول مدیر، د باختر اژانس ، سرحدونو او قبایل چارو وزارت کې د نشراتو او اوسمهال له اتو کالونو راهیسې په ستره محکمه کې د نشراتو رییس دی.

د یادونې وړ دی، چې د نوموړي ۲۷۵ سیاسي، اجتماعي او تاریخي مقالې په ګڼ شمېر ورځپاڼو، انټرنټي وېبپاڼو او مجلو کې نشر شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ګل مکۍ

ګل مکۍ  د حاجي عبدالوکیل لور او د ملک عبدالرازق لمسۍ چې د میدان وردګو ولایت د چارکې د خروټو د کلي اصلي اوسېدونکې وه،خو نوموړې د ۱۳۶۲لمریز کال د غویي د میاشتې په شلمه نېټه د نیمروز ولایت د زرنج په ښار کې یې نړۍ ته سترګې پرانیستې، له کوچنیوالي څخه ډېره هوښیاره او مهربانه وه. کله چې شپږم ټولګي ته ورسېده، د ځانګړې پوهې او وړتیا د زیاتوالي له امله د زرنج د نسوان لېسې د فرهنګی ټولنې غړیتوب یې ترلاسه کړ.

خو کله چې په اووم ټولګي کې وه، طالبانو د حکومت واګې تر لاسه کړې او د ښوونځیو دروازې یې د نجونو پرمخ وتړلې، د طالبانو د شپږ کلنۍ دورې وروسته په لسم ټولګي کې یې په لوست پیل وکړ، ځکه چې په دې شپږو کلونو کې یې په کور کې د اتم او نهم ټولګیو کتابونه ولوستل، په ۱۳۸۲لمریز کې له دولسم ټولګي څخه فارغه او په همدې کال په نوموړې لېسه کې د ښوونکې په توګه وګمارل شوه او د زرنج په عالي دارالمعلمین کې یې په زده کړو پیل وکړ او په ۱۳۸۴لمریز کې له دارالمعلمین څخه فارغه شوه.

ګل مکۍ وکیلې په ټول عمر کې ډول ډول تلویزوني او ژوندۍ فرهنګي او کلتوري خپرونې خپل ولس ته وړاندې کړې دي.

د یادونې وړ ده چې له ډېرو هڅو سره سره بیا هم په دې ونه توانېدم چې د نوموړې کومه لیکنه را پیدا کړم.  د اغلې ګل مکۍ په نوم په میدان وردګو ولایت کې د ښځو بڼ هم شته دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شاه محمود حصین

شاه محمود حصین په ۱۳۲۷ لمریز هجري کال کې د میدان وردګ ولایت د میدان ښار په نائبانو کلي کې په یوه روښانفکره کورنۍ کې وزیږېد. لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې د میدان ښار د ذکرالله شهید په لېسه کې تر سره کړې. وروسته د کابل ښار د ښوونکو د روزنې په اکاډیمي کې شامل او د دغې دورې له بشپړېدو سره سم د کابل پوهنتون د ادبیاتو او بشري علومو د پوهنځي محصل شو. په ۱۳۵۱ لمریز هجري کال کې یې د دغې دورې زده کړې بشپړې او د ښوونکي په توګه یې دوه کاله د ذکرالله شهید په لېسه کې ، یو کال د میربچه خان په ښوونځی کې ښوونکی وه ، دلته یې (مفت خوارن میمیرد) په نوم یوه ډرامه ولیکله. د دغې ډرامې په لیکو له دندې نه ګوښه کړل شو، لږ موده وروسته یې په حبیبیې او د کابل د عالي تخنیکم په انستیتوت کې د تاریخ او دري ادبیاتو ښوونه کوله. د ۱۳۵۷ کال ترکودتا وروسته د لنډې مودې لپاره د لیک لوست د زده کړې رییس او وروسته د پوهنې وزارت د تالیف او ترجمې مرستیال و. د ۱۳۵۸کال په مني کې د وخت د واکمنۍ له زورزیاتي سره په مخالفت کې ونیول شو او په پټ اعدام محکوم شو.

د خو د نوې واکمنۍ په راتګ له بند را خلاص شو او د کابل پوهنتون د تاریخ او فلسفې د پوهنځي د تاریخ او فلسفې په څانګه کې یې د ماسترۍ دیپلوم تر لاسه کړ.

د حصین زیاتې سیاسي او تاریخي لیکنې د رازبین، بخري، کمر، فریادي، خوشال (د مشر زوی نوم یې دی) او شهاب په مستعارو نومونو خپرې شوې دي، هغه له ډېرې مودې راهیسې شعر وایي، شعر یې اجتماعي بڼه لري چې زموږ د ځورېدلو خلکو د ژوند، دردونو او کړاوونو ښه هینداره یې بللی شو. لیکنې یې کولې او شعرونه یې ویل.

حصین په ۱۳۷۱ کال کې د تنظیمي جګړو پر مهال د وطن پرېښودو ته اړ شو چې تر اوسه د جلاوطنۍ ژوند تېروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حصين په پښتو او دري ژبو ليکنې او څېړنې کوي. شعرونه او لنډې کيسې يې په پښتو ژبه دي، خو په دري ژبه هم کله کله شعر وايي. د شعرونو لومړی ټوک يې د هيلو غوټۍ نوميږي چې د وخت سانسور يې هډونه ورځپلي دي.

حصين د افغانستان د ليکوالو د ټولنې د مرکزي شورا او د ژورناليستانو د اتحاديې غړی و.

د چاپ او خپرو شويو اثارو زياته برخه يې په لاندې ډول دي.

- جنګ، صلح و سرنوشت جهان
- درسهای مقدماتي اموزش سياسي ( دوه ټوکه)
- مختصری از تاريخ زنده ګي اجتماعي زنان افغانستان
- وزارت داخله در ګستره تاريخ
- روابط روسيه و افغانستان ( له يوه بل څېړونکي سره په ګډه ليکل شوی.)
- تاريخ ويښ ځلميان ( ګستنزی چاپ)
- د هيلوِ غوټۍ د شعرونو ټولګه
- زخمي خانګې د شعرونو ټولګه
- مثلث بې عيب ( معاصر تاريخ)

د شعر نمونه يې دا ده:

**پټه مينه**

نه شراب په سره پياله کې نه مينا سره مې کار شته
نه يم بند په تورو زلفو نه ليلا سره مې کار شته

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه لمبیږم د مې خم کې        نه صهبا سره مې کار شته

...

تو زه څه یم سا قي څه یم        نه زاهد یم نه پارسا یم
شروشور ستا میخانه کې        ولې زه په کې تنها یم
ټول عاشق دي په نشه کې        زه له دې مینې سیوا یم

...

ساقې پوه زما په حال شه        اورمې بل دی په ګوګل کې
که مې داغ د زړګي پوښتې        یو ځل و ګوره سره ګل کې
پېغلې خاندي چې یې جوړ کړل        قطارونه په اوربل کې
ولې نه پوښتې د ګل نه        چې څه حال لري کاکل کې

## درخانۍ هوسا

درخانۍ هوسا د غلام صدیق لور د محمدعلی خان لمسی، چې په ۱۳۶۴لمریز کال کې په کابل کې زیږېدلې ده. لومړنۍ زده کړې یې په اریانا افغان ترک لېسه کې سرته رسولي او د کانکور له ازموینې وروسته د کابل پولیتخنیک پوهنتون ته بریالی شوې ده. درخانۍ هوسا له ۱۳۸۶لمریز کال راهیسې شعرونه لیکي او د شعر ترڅنګ نثر هم لیکي.

**دا هم د اغلې هوسا د شعر بېلګه:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولې دې زړګی زما ډوب کړو په غمونو کې
وسومه، ایره شومه سته یاره اوورنو کې
زه که در نه لرې یم، زړه مې دی له تا سره
ورځ یمه له تا سره شپه مې په خیالونو کې
خوب مې تښتېدلی دی خوی د لېونی کوم
ناسته یم، لګیا یمه ستا یاره سوچونو کې
ورځ مې ناکرار وي، ستا غم را په غاړه وي
شپه په سر شو ګیره کړم نه راځې خوبونو کې
تېره چې ځوانی شوله، پرته له اشنا زما
راشه چې ځوانی بېرته نه راځي وختونو کې

## وحیده ښکلې

وحیده ښکلې د محمد عیسی لور د میدان وردګو ولایت، د میدان ښار اړوند د ناسوزایي کلی په یوه متدینه او روڼ اندې کورنی کې دې نړۍ ته سترګې غړولې دي.

نوموړې په ماشومتوب کې له خپلې کورنی سره کندز ولایت د امام صیب ولسوالی ته کډوال شوې وه. د لومړنی او ثانوي دورې زده کړې یې د نسوان حضرت امام صیب په لېسه کې سرته ورسولې.

میدان ښار ته تر راستنیدو وروسته په ۱۳۸۷لمریز کال د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي په پښتو څانګه کې شامله شوه، په ۱۳۹۰لمریز کال کې له دغې څانګې په عالي درجه فارغه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اغلې ښکلې د خپلې ښې ورتيا له مخې له لوړو زده کړو سره هممهاله يې د اول بابا په لېسه کې د يوه تکړه ښوونکې په توګه دنده تر سره کړې ده، د يو وخت له پاره يې د سواد زده کړې په کورسونو د سلاکارې چارې هم په غاړه لرلې، اوسمهال د ميدان وردګو ولايت د ښځو چارو د رييسې په توګه دنده تر سره کوي.

د يادونې وړ ده چې نوموړې کله د ښځو چارو رياست ته وګمارل شوه، د پېزوان مهالنۍ مجلې بنسټ يې کېښوده چې مخکې يې هېڅ کومه نشريه نه درلوده.

نوموړې په بېلا بېلو برخو کې ليکنې او اثار لري او په دې سربېره شاعره او ژورناليسته هم ده، چې د لنډو کيسو، نثري ليکنو جلا جلا مجموعې لري، دغه راز يوه شعري ټولګه هم لري چې ټولې ناچاپه دي. نوموړې (افغان ښځو د ادبی بهير) يوه فعاله غړې هم پاتې شوې ده.

د شعر بېلګه يې دا ده:

**غزل**

مينه مې ته يې تا سره ده زما مينه
سترګو کې ته يې تصويرونو کې ستا مينه
زما د زړه آواز ته يې د ژوند ژوندونه
زړه کې ته يې په سوالونو کې ستا مينه
نه مې هيريږې نه دې هېرولی شم
په باغ کې ته يې په ګلونو کې ستا مينه
اوښکې مې بهيږی زړه مې نه صبريږي
سکونه ته يې په يادونو کې ستا مينه
زه ښکلی ستا يمه ستا په تمه به يمه
منزل ته يې په مزلونو کې ستا مينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لطیف بهاند

دوکتورلطیف بهاند د محمد عمر زوی دی، په ۱۳۳۲لمریز کال کې د کابل د مرادخانۍ په کلي کې زیږېدلی دی، د یادونې وړ ده چې نوموړی د میدان وردګو ولایت د نرخ ولسوالی د صدمرده د سیمې اوسېدونکی دی، دی په ۱۳۴۰ل کال کې د علاوالدین د تجربوي ښوونځی په لومړي ټولګی کې شامل شو، په ۱۳۵۱ل کال کې د حبیبیې د لېسې له دولسم ټولګي نه فارغ شو. په ۱۳۵۲ل کال کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو په پوهنځي کې یې په لوړو زده کړو پیل وکړ، په۱۳۵۵ل کال کې له دغه پوهنځي څخه فارغ شو. تر فراغت وروسته د استقلال په لېسه کې ښوونکی شو. وروسته بیا پښتو ټولنې ته تبدیل شو. له دغه ځای وروسته یې په راډیو افغانستان کې کار پیل کړ. په ۱۳۵۸ل کال کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو په پوهنځي کې استاد شو. په ۱۳۶۵ل کال کې شوروي اتحاد ته د دکتورا د اخیستلو له پاره واستول شو.

ښاغلی بهاند د ۱۳۵۲ل کال را په دېخوا د هېواد له مطبوعاتو سره همکاري لري، چې زیاتره لیکنې یې د نقد د تیوري او عملي نقد په هکله په مطبوعاتو کې خپرې شوې دي، کله کله غزل هم لیکي.

دوکتور بهاند د خپل ادبي فعالیت په دوران کې دغه لاندې علمي او ادبي اثار لیکلي دي.

۱-ناول د ماه رخې: دغه اثر په ۱۳۶۳ل کال کې د کابل پوهنتون له خوا چاپ او خپور شوی دی.

۲- د اشرف خان هجری منتخبات: دا د هجري د شعر منتخب دي، چې په ۱۳۶۴ل کال کې د اشرف خان هجري د علمي سیمینار په ویاړ د قومونو او قبایلو وزارت د نشراتو او فرهنګي چارو د ریاست له خوا چاپ شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- د رڼا ناوې: دا د کوزې پښتونخوا د نامتو شاعرانو د شعرونو منتخب دی، چې په ۱۳۶۵ل کال کې د لیکوالو د اتحادیې له خوا چاپ شوی دی.

۴- د پښتو ژبې ګرامر: دغه اثر په ۱۳۵۹ل کال کې د پوهنتون له خوا چاپ شوی دی.

۵- څلور اولني کلونه: دا د کورنیو چارو وزارت له خوا چاپ شوی دی.

۶- د خیرالبیان منتخبات: په ۱۳۶۱ل کال کې چاپ شوی دی.

۷- سوله او جګړه یو ژباړل شوی اثر دی چې په څلورو ټوکو کې چاپ شوی دی.

۸-ماتې کړۍ: دا د کوزې پښتونخوا د ازاد شعر منتخب دی.

۹- ریالیزم او د ریالیزم ضد په پښتو ژباړه دی.

۱۰- د هنر ټولنپوهنه یې په پښتو د یو ژباړل شوي اثر نوم دی.

۱۱- د شعرونو یوه مجموعه یې ده.

۱۲- د روښاني ادبیاتو سل عرفانې اصطلاحات: په نوم یو اثر یې دی.

۱۳- لس مقالې: دا د بهاند د مقالو مجموعه ده.

لطیف بهاند د هېواد له سترو استادانو څخه مخامخ زده کړې کړي او د هغوی تر پالنې او روزنې لاندې یې د پوهنې په لوی سمندر کې د مهارت او برلاسي لامبو زده کړې ده او یا یې له هغو ستر استادانو سره د مرستیال (اسیستانت) په توګه د پوهې په ډګر کې د نوي نسل د روزنې دنده پر مخ بېولې ده. په پوهنیزو، څېړنیزو او کلتوري چارو کې یې داسې ونډه خپله کړې، چې هره برخه یې د زرینې پاڼې په څېر د هېواد د مخکښو پوهنپالو او کلتور پالو په لړۍ کې ځانګړی او ډاډمن مقام او دریځ لري. په کابل پوهنتون کې د استاد په توګه ویاړلې دنده، په راډیو افغانستان کې د بېلا بېلو کلتوري او علمي پروګرامونو د اوډنې او سمونې چارې، د هېواد په کچه د کلتوري او

(c) ketabton.com: The Digital Library

علمي هڅو ملاتړ او په هغو کې برخه اخيستنه، هغه وياړنې دي چې د بيا را يادولو ، پېژندلو او بيانولو لپاره يې زياتو ليکنو او ډېر زماني واټن ته اړتيا شته. که د بهاند شاعري په پام کې ونيسو، نو به د يوه داسي پښتون هوډ او د خيال نازکې ورمې حس کړو چې له زياتې توضيح پرته څرګنديږي. په دې ځانګړتيا کې د بهاند برلاسي داده چې پښتني هوډ يې د خيال داسې پراوونو ته رسولی چې شونتيا يې د ويوکو په مټ د پوهېدو وړ ګرځولې ده. که اوربدونکي او لوستونکي د بهاند شاعري واوري او ولولي، نو خامخا به د بهاند د پېژندګلوۍ تر ټولو غوره جمله داوي، چې د هېواد نامتو شاعر لطيف بهاند:

په تش غلچک غواړې بدنام به دي شم     زه له هر چا نه، ياغي رام به دې شم

که مې کښيکاږې او تر شونډو مې وړې     په قلمي ګوتو کې جام به دې شم

او دا غزل تر پايه او که څوک د بهاند په ساحري ګوتو ليکل شوې مقالې له سلګونو څخه يوه دا چې (زه څوک يم؟) ولولي او يا يې واوري، نو خامخا به د بهاند د ښه پېژندګلوۍ لپاره داسې وليکي چې: د هېواد نامتو ليکوال داکتر لطيف بهاند؛ او که د هغو څېړنو جاج واخلو چې بهاند پر مخ بېولي او له ګټورو پايلو سره يې د هېواد ځوان نسل ته د ښې روزنې او ښوونې په نيت وړاندې کړي دي، خامخا به د بهاند تر نوم وړاندې داسې وليکي چې: د هېواد نامتو څېړونکې داکتر لطيف بهاند؛ زه نه غواړم د ښاغلي بهاند هر اړخيزې څېړنې ته لاس اوږد کړم، په دې لنډه ليکنه کې غواړم د بهاند له نورو ژباړل شويو اثارو څخه د بېلګې په توګه د ((کلتور پوهنه)) تر سرليک لاندې اثر يو لنډ او بېړنی جاج واخلم.

ډاکټر لطيف بهاند د نورو څېړنيزو اثارو تر څنګ يو ارزښتمن څېړنيز کتاب د ((کلتور پوهنه)) تر سر ليک لاندې ژباړلی او خپور کړی دی، دا څېړنيز اثر د پاڼو د شمېر له مخې لږ دی، خو د منځپانګې له اړخه يې تر زياتو هغو ليکل شويو رسالو او کتابونو وزن او ارزښت زيات دی، چې تر اوسه پښتو ژبې ته د کلتور پوهنې په تړاو ژباړل شوی دی. کلتور پوهنه درسي مرستندويه اثر په ۱۹۹۹زېږديز کال په مسکو ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې خپور شوی دی. د ټولو پاڼو شمېر یې ( ۱۰۲ ) ته رسیږي، پر کتاب ډاکټر شاه محمود ګویا تقریظ لیکلی او د هېواد ځوان لیکوال اسماعیل یون ته ډالۍ شوی دی. د دې خېړنیز اثر پیل د کلتور په پیدایښت او د کلتوري څېړنو او اندونو په هغه یون شوی دی، چې د دې ځانګې مینه والو ته یې پوهېدل او لوستل اړین دي؛ او بیا د کلتور او تمدن په اړه د نامتو روسي فیلسوف نیکولای بردیایف هغه لیکنه راژباړل شوې، چې په خپل ډول کې ځانګړې او د کلتوري ډایلوګ خپلواک دریځ په کې نغښتی دی؛ کلتوري ټکر د دې اثر بل سرلیک دی چې په رښتیني ډول هغه اړیپچونه رابرملا کوي، چې د اوسنۍ نړۍ د فکري او ذهني جوړښتونو بنسټونه جوړوي؛ او بیا د دې ارزښتمن اثر هغه سرلیکونه پیلیږي، چې د نوي، مدرن تدریس او ښوونې لپاره ټکس بوک نه، بلکې د یوه درسي مرستندویه کتاب په زړه پورې بېلګه ده. د کلتور پوهنې اثر ژباړه د هغو مینه والو لپاره ښه زېری دی، چې له کلتوري څېړنو او پلټنو سره یې اړیکې دي، له دې سره سره چې دا د نوموړي اثر یوه ډېره ښه ځانګړتیا ده، خو په بله وینا، کېدای شي دا د همدې کتاب یوه نیمګړتیا هم وشمېرو او هغه دا چې له دې اثر څخه ټول لوستي کسان پوره ګټه نه شي پورته کولای، یوازې د هغو کسانو لپاره ګټور دی، چې له کلتوري څېړنو او پلټنو سره یې کار او اړیکې شته. په ځانګړې توګه د هغو استادانو او کارپوهانو لپاره د زیات ارزښت وړ دی، چې د کلتورپوهنې په تدریس او تعلیم بوخت دي. که د کلتورپوهنې اثر منځپانګې ته پام وکړو، خامخا به هغه لیدلوری برملاشي چې معنویت پر مادیت برلاسی ګڼي، یا په بله وینا، د دې اثر په منځپانګه کې د کلتور بنسټ داسې ښودل شوی، چې د معنویت له وړانګو ځلا تر لاسه کوي، چې د کلتور پوهنې په تاریخ کې زیات شمېر کلتور پوهانو همدا لوری درلودلی دی، د یادښت وړ ده، چې د کلتور پوهنې په څېړنو کې د همدې لیدلوري تر څنګ د کلتور پوهنې په ټراو نور لیدلوري هم شته، چې ځان ته پلویان لري او د اوسنۍ نړۍ د کلتور پوهانو یوه غښتلې برخه په بر کې نیسي. د هغوی په اند معنوي کلتور د ټول کلتور یوه برخه ده او هغه هم داسې چې بنسټ یې پر مادیت تکیه کوي. ښه به وای که د همدې ډلې کلتور پوهانو له لیکنو او رسالو څخه د بېلګې په توګه یوه دوې لیکنې ځای شوې وای. د اتنولوجیستانو تر منځ دا خبره ډېره مشهوره شوې چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

که لس تنه اتنولوجیستان سره یوځای کړو او له هر یوه نه د کلتور پېژندنه وغواړو، په پایله کې به موږ د کلتور پېژندلو لپاره لس تعریفونه په واک کې ولرو؛ ښاعلي بهانند هم د نورو اتنولوجیستانو په څېر د کلتور د تعریف لپاره لاره پرانیستې پرې ایښې، خو د خپل لیدلوري څرګندونه یې د هغه تعریف په بیا بیا لیکلو کې ښودلې، چې د معنویت برلاسي پلوي فیلسوف نیکولای بردیا یف له لوري وړاندې شوی او یا تعریف شوی دی. ((هر کلتور (حتی مادي) د روح کلتور دی. هر کلتور په داسې حال کې چې د معنویت بنسټ لرونکی دی، د طبیعت په شرایطو باندې د روح د تخلیقي کار محصول دی)) (کلتور پوهنه ۳۰ مه پاڼه).

د کلتور پوهنې یوه بله ځانګړتیا دا ده چې د ځانګړو او ارزښتمنو اتنوګرافیکي مفاهیمو د توضیح لپاره یې د یو شمېر سترو لیکوالو هغه ویناوې را یادې کړې دي چې له یوې خوا د عامو منل شویو احکامو په څېر د ولسونو منځ ته رسېدلې دي او له بله پلوه یې هغه اتنوګرافیکي افادې چې موخه تاکل شوې وې، په خورا ښکلې توګه د پوهېدو وړ ګرځولې دي. د معاشرت په تړاو هغه وینا چې د ګویته له خولې راوتې ده، یوه ښه بېلګه کېدای شي: ګویته وایي چې: ((معاشرت هغه هینداره ده چې هرڅوک خپله اصلي څېره په کې څرګندوي.)). د لوڅي سنیکا هغه وینا چې وایي: ((کمال او بشپړتیا درې لارې چارې لري؛ تفکر: تر ټولو نجیبه او سپېڅلې لار ده؛ تجربه: تر ټولو ګرانه لار؛ تمثیل او پیسې: تر ټولو اسانه او زړه راکښونکې لاره ده)). د امرسون هغه وینا چې ((هر انسان چې زه وینم او ما سره مخامخ کیږي، که په کوم ډول تر ما غوره والی ولري، سمدستي ځان اړ ګڼم چې یو څه ترې زده کړم)). دا د نړۍ د سترو لیکوالو هغه مقولې دي چې ولسونو ته رسېدلي او منل شوې دي، خو په دې اثر کې د یوې مقولې په توګه نه، بلکې د یوه اتنوګرافیکي اصل په توګه کارول شوې دي چې په هغو کې هم د شخصیت کلتور افاده شوی او هم په اسانۍ د پوهېدو وړ ګرځول شوی دی. ښایي چې د کلتور پوهنې اثر د هر اړخیزې څېړنې او پېژندنې لپاره دا څو کرښې بس نه وي، خو د لیکنې د لنډوالي په هیله زما له انده وروستۍ دوې درې جملې لیکم چې: د کلتور پوهنې اثر په پښتو ژبه کې د کلتور په اړه د ژباړل شویو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اثارو هغه بېلګه ده چې د کلتور پوهنې لپاره له نړيوالو معيارونو سره پر تله کېداى شي؛ د کلتور پوهنې په چارو کې د بوختو پوهانو او ښوونکو لپاره ګټور مرستيال درسي کتاب دى او د هغو اړتياو د پوره کولو لپاره هم ارزښتمن دى چې د دې څانګې پلويان ورسره مخامخ وو او يا ورسره مخامخ دي. په پاى کې د لطيف بهاند ځيرتيا او درک د ستاينې وړ دى چې د داسې ګټور کتاب ژباړې ته يې پام شو او د ژباړني ربړ يې وګاله.

د شعر نمونې يې:

## غزل

دا ستا په سترګو چې موسکا ويده شوه
زما په زړه کې تمنا ويده شوه
چا دې شونډو کيسه ياده کړ له
ساقي ور پورى که مينا ويده شوه
فتنې د سترګو دې چې وينې شولې
له ډېره شرمه يې حيا ويده شوه
د پلو شو ايرى چې ګورمه زه
ښه شو چې سترګه د سبا ويده شوه
چې را نه غواړي د زلمو زړه وينه
د زړه په مېنه څه بلا ويده شوه
چې برالا خلکو ښه و ښکنځله
د زړه په کور کې مې په غلا ويده شوه
شاته کتل دې شول مقطع د غزل
د ساز تارو کې دې خندا ويده شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## قسمت

ګــوره چـــې قســـمت تـــر کومـــه راوســـتم
غـــم د محبـــت تـــر کومـــه راوســـتم
مـــا خـــو تکـــل ســـتا د کلـــي کـــړی و
پـــل دې د الفـــت تـــر کومـــه راوســـتم
نـــورو خـــو غېـــرت تـــه مخـــه ښـــه ورکـــړه
زه پښـــتون غيـــرت تـــر کومـــه راوســـتم
مـــا چـــې د رڼـــا نـــاوې ګڼلـــې وه
هغـــه تـــور ظلمـــت تـــر کومـــه راوســـتم
ســـتا پـــه تـــش کتـــو کـــې مـــې ژونـــد بـــايلوده
دی معصـــوم وحشـــت تـــر کومـــه راوســـتم

## محمد اصف بهـاند

محمداصف بهاند د محمدعمر زوی دی، په۱۳۳۳لمريز کال د مرغـومي د مياشـتې په درېيمه نېټه د کابل د چاردهي د (شکرالله خان قلعه) نومي کلـي کـې زيږېـدلی دی. لومړنۍ زده کړې يې د علاوالدين په مکتب کې کړي، بيا د محمـود طـرزي پـه لېسـه کې شامل شو، خو دولسم ټولګی يې د ميدان وردګو ولايت د نرخ ولسوالی د نرخ پـه لېسه کې پای ته ورساوه. پـه ۱۳۵۴ل کـال کـې د کابـل پوهنتـون د ژبـو او ادبيـاتو پـه پوهنځي کې شامل شو، په ۱۳۵۸ل کال کې د دغه پوهنځي لـه پښـتو څـانګې نـه فـارغ شو. تر فراغت وروسته د کابل د روښان د ښـوونکو پـه عـالي موسسـه کـې اسـتاد شـو. وروسته بيا د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو په پوهنځي کې استاد شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصف بهاند له ۱۳۵۶ل کال راهیسې شعر وايي، نوی شعر زيات ليکي، کله کله يوه ښه غزل هم ليکي، يو شمېر شعرونه او علمي او تحقيقې مقالې يې د هېواد په مطبوعاتو کې خپرې شوې دي. په علمي او تحقيقي ليکنو کې له خپل ورور دوکتور لطيف بهاند نه زيات متاثره دی.

ښاغلي اصف بهاند د خپل ادبي فعاليت په دوران کې دغه لاندې علمي کارونه کړي دي:

– د پښتو ژبې ګرامر درېيم کتاب: د کابل پوهنتون د ژبو او ابياتو د پوهنځي د ناپښتو څانګو درسي کتاب.

– د پښتو ژبې ګرامر او ادب: دوهم کتاب د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو د پوهنځي د ناپښتو څانګو درسي کتاب.

– د پښتو ادبياتو د لرغونې دورې منظوم متون: د ادبياتو پوهنځي د پښتو څانګې درسي کتاب.

– د کوچنيانو ادبيات: چاپ.

– شعر د پښتو د کلاسيکو شاعرانو له نظره: د پوهنيارۍ تېزس دی.

– پښتو ادبيات له ۱۲۵۰خخه نه تر ۱۲۹۷ پورې يې: د ليسانس مونوګراف هم ليکلی دی.

د شعر نمونې يې:

**غزل**

دا مـــات تنـــدې درغيـــدلو نـــه دی
د زړه دفتـــر مـــې د کتلـــو نـــه دی
اوس کـه هـر څـو پتـرۍ پـرې ولګـوې
زمـــا زړه ګـــی د جوړيـــد لونـــه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

خیــر کــه وی ګــرم لــړ د حلاتــو پــه چــم
مـــین وجـــود د ســـوزیدلو نـــه دی
څــه کــه رســیږی د هــر چــا غــوږو تــه
د رقیـــب غـــږ د اوریـــدلو نـــه دی
څــه کــه لــه خلکــو ســره چــل کــوی نــن
دغـــه کـــاروان درســـیدلو نـــه دی
پـــه پښـــتنې حوصـــله زړه مـــې ولاړ
کـــه نـــه دا چـــل یـــې د زغملـــو نـــه دی
حســن مغــرور زړه مــې پښــتون ســره مــخ
ولـــیکم څـــه حـــال د ویلـــو نـــه دی
ډیــر ډیــر ســرونه زور او زر ټیــټ کــړی
ســـر د پښـــتون د ټیټیـــدلو نـــه دی
غــزل مــې پــاتی پــه همــدی ټکــې شــو
حالــت یــې تــریخ نــور د لیکلــو نــه دی

## عبدالمالک بېکسیار

د ښاغلي بېکسیار فن او شاعري د لر او برې پښتونخوا په ادبي غونډو کې پـه یـوه کچه له اوچتو هنري ارزښتونو څخه برخمن ګڼل کیږي.

بېکسیار سره له دې چې له هېواده پردېس دی، خو شعر یې د افغانستان د هر غـره، هر کمره او په وینو زنګېدلو سنګرونو عکاسـي او ترجمـاني کـوي. د نومـوړي شـعر د انساني مینې، درناوي او هغو دردوونکو حالاتو ښکارندوی دی، چې زمونږ ګران هېواد او ولس ور سره مخ دی. د بېکسیار ناسته پاسته او مجلس له ادبي نزاکـت، سـپېڅلتیا او رښتینولۍ نه ډک دی، دی له هر انسان په تېره له خپلو ادبي ملګرو سره په ورینـه ټنـده

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ماناداره خندا کې مجلس کوي او د ده په هره ناسته کې د ګران هېواد د خوږې او دیني غیرې، خواږه یادګارونه راسپړل کیږي. هغه په خپلو انقلابي شعرونو کې د ظلم، تېري، اختناق او روانو توجنو حالاتو پر خلاف د بغاوت توغ پورته کوي او د شعر په ژبه حقایق او واقعیتونه راسپړي او د ښو هنري اندونو په پرده کې یې تاو کړي، د مینه والو مخې ته یې ږدي.

بېکسیار یوازې د شاعر او لیکوال په توګه نه پېژندل کیږي، بلکې دی هغه ادبي سرښندوی هم دی، چې په خپلو نازکو ګوتو ګټلې پیسې په پښتو ژبه او ادب لګوي او له ډنمارک نه هره میاشت په پرله پسې توګه د (هیلې) غونډې یوه درنه او ادبي مجله په پېښور کې د همده په مادي او معنوي ملاتړ خپرېده او پردې هم نه بسیا کیږي، وخت، ناوخت د هېواد د اورو او وینو په خونړي توپان کې د خپل شو یو ځوانانو فرهنګیانو د ناوړه اقتصادي اکر هم اخلي او په برخ کې یې د دوی نوې شعري هنري او څېړنیزې ټولګې هم خپریږي، چې په اوسني وخت کې د ده دا ستر خدمت هیڅکله د هېرولو نه دی.

عبدالمالک بېکسیار د عبدالرقیب زوی، په ۱۳۴۳لمریز کال د میدان وردګو ولایت په میدان ښارکې زیږېدلی دی.

لومړنی زده کړې یې په میدان ښوونځي کې تر سره کړي او د نورو زده کړو لپاره په میدان لېسه کې شامل شو، په ۱۳۵۷لمریز کال له دغې لېسې نه فارغ شو، پر ۱۳۶۱لمریز کال د کابل د ښوونکو د عالي اکادمۍ په پښتو ژبه او ادب څانګه کې شامل شو او په ۱۳۶۵لمریز کال کې ورڅخه فارغ شو، په ۱۳۶۸لمریز کال لومړی پېښور ته لاړه او بیا پر ۱۳۶۹لمریز کال ډنمارک ته لاړ، چې تراوسه د ډنمارک په پلازمېنه کوپن هاګن کې استوګن دی.

بېکسیار د ۱۳۶۷لمریز کال په پیل کې د کابل پوهنتون د استاد محمداسماعیل یون په ملګرتیا یوې نوې ادبي هڅې ته لاس واچاوه، د (هیله) په نوم یې یوه ادبي، ټولنیزه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ادبي دوه مياشتنی خپلواکه پښتو خپرونه پيل کړه، چې تر اوسه ښه په بری سره په پيښور کې د همده په ملاتړ او د يون صاحب په مرسته خپريږی ډير مينه وال لري.

بېکسيار صاحب د رواني لمريزی پېړی د شپږمې لسيزې را په دې خوا شعر ليکي او نثري ليکنې هم کوي، خو پر نثر يې د شعر تله درنه ښکاري، د ده يو شمېر شعرونه په بېلابېلو خپرونو کې خپاره شوي او ځانګړي اثار يې دادي:

۱ـ سوچونه کړلېچونه: شعري ټولګه ده چې په ۱۳۷۶ل کال کې پېښور کې چاپ شوې ده.

۲ـ د سنځل ګل په شپو کې: شعري ټولګه ده چې په ۱۳۷۷ل کال پېښور کې چاپ شوې ده.

۳ـ شينشوبی: دا اثر هم په ۱۳۷۹ لمريز کال پېښور چاپ شوی دی.

۴ـ د لنډو کيسو يوه ټولګه: ناچاپ اثر دی.

۵ـ ځينې مقالې په بېلابېلو موضوعګانو کې ليکلې چې ناچاپه دي.

د عبدالمالك بېکسيار د شعر بېلګې:

## غزل

شروع ته اخرت وايي زمونږ د کلي خلك
مرګونو ته غيرت وايي زمونږ د کلي خلك
ښو دنګو کلاګانو کې بندې پښتنې پېغلې
بس دي ته خپل عزت وايي زمونږ د کلي خلك
مېلمه وو را ايستلې په کورو باندې تورې
داړې ته حکومت وايي زمونږ د کلي خلك
آشنا خدايږو جوړيږی جوړيږی دا وطن به چې لاکله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورانیــــو تــــه خــــدمت وایــــي زمــــونږ د کلــــي خلــــك
پـه غـره کـې چېرتـه پـټ دي يـو مـلا او بـل يـې زوم دی
ځــــانونو تــــه دولــــت وایــــي زمــــونږ د کلــــي خلــــك
ذره پـــــه کــــې فــــرق نــــه کــــا بېکســــياره حيرانيــــږم
جــــاګير تــــه رســــالت وایــــي زمــــونږ د کلــــي خلــــك

## محمد شفيق حقپال

محمد شـفيق حقپـال د محمـد يـونس زوی پـه ۱۳۴۴لمريـز کـال د ميـدان وردګـو ولايت د نـرخ ولسـوالۍ د کريمـدادو سيمې د مارخـاني پـه کلـي کـې زيږېـدلی دی، لومړنۍ او منځنۍ زده کړې يې په کابل سپين کلي لېسه کې سرته رسولې دي. وروسته د کابل په تخنيکم انستيتوت د برېښنا له څانګې څخه په ۱۳۶۳ل کې فارغ شوی دی.

له استادۍ سره د زيـاې علاقـې لـه املـه يـې د کابـل تخنيـک ثـانوي، د پېښـور د سيدجمال الدين او ميدان ښار د خالد بن وليد په لېسو کې د استادۍ دنده سرته رسولې ده، له هغه وروسته د باختر اطلاعاتي اژانس کې د سياسي مبصـر، پـه راډيـو افغانسـتان کې يې د وياند او په يو شمېر ملي او نړيوالو موسسـو کـې يـې د خبريـالۍ او ليکـوالۍ دندې تر سره کړې دي.

د ولايت د تعليمي برخې په غوړېدا کې د ډېرو منځو ترړو په کولو سره يې زيـاتې ستونزې ګاللې دي.

نوموړي يو زيات شمېر کتابونه هم په خپله ليکلي او يا له نـورو ژبـو څخـه ژبـاړلي دي

- د هيلو غوټۍ «شعري مجموعه»، ،
- دقرانکريم اعجاز «ژباړه»
- حقانيت اسلامي خپل اثر،

(c) ketabton.com: The Digital Library

- په رواني ستونزو برى خپل اثر
- غلبه بر مشکلات روانى خپل اثر
- اوسنى عصر او مسلمانانو دندې خپل اثر

دغه چاپ شوی دی چې يو شمير نور ناچاپ هم پاتې دی.

د شعر نمونه يې:

**غزل**

ستا د نظر غشي چې وتل له سينې
جوړې ترې ويالې شوې ګوره سين يې
له ګوګله په وتو شي ته چې وينې
ځی دا ستا کتوکتو نه ترى نه وينې
داسې زه حلال حلال شومه شيرينې
فرهادنه وقربان له شيرينې
قصی زما شوی ماشومانو ته هم سپينې
راسو شوی يمه يارى تکی سپينې
دود شوم سپيلنی شوم تاويدم ورځينې
په داشانی مجنونان وی چيرى ځينې
راغلې خواته تاترى لارې کړلی کينې
لاپيداشوی درقيب په زړه کې کينې
په نخا اوپه خندا شوى لونګينې
مانارى کړى چې شينوارې لونګينې

(c) ketabton.com: The Digital Library

## محمد حکیم بشارت

محمد حکیم بشارت ۱۳۵۴ل ل کې د میدان وردګو ولایت د نرخ ولسوالۍ د شنې او رنګینې درې د کریمدادو په کلي کې زوکړی دی.

بشارت، د ښوونځي لومړنی دوره د نرخ ولسوالۍ په شهید صابریار، منځۍ دوره یې همدې ولسوالۍ د خالد بن ولید او د لیسې دوره یې د سیدجمال الدین افغان په لیسه کې پای ته رسولې ده.

نوموړی، ۱۳۷۹ل ل کې د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو له پوهنځي فارغ شوی دی.

بشارت لکه د نورو ډېری لیکوالانو په څیر، لومړی په شعر ویلو پیل وکړ، څو کاله یې د یوه شاعر په توګه ژوند وکړ، خوله ۱۳۸۲ل ل راهیسې یې لنډو کیسو او نورو لیکنو ته مخه وکړه.

د بشارت، ماشومتوب او ځواني لکه د نورو ځوانانو په څیر په جګړیز چاپریال کې تېره شوې او لا روانه ده.

دغه لیکوال، د لوړو زده کړو له پای ته رسولو سره سم، رسمي دندې پیل کړې او د تصحیح د څانګې د مشر په توګه کار کوي.

بشارت، د رسمي بوختیاوو تر څنګ وخت نا وخته د هېواد په تودو حالاتو مقالې لیکي او کله نا کله هنري لیکنې هم کوي.

د بشارت د لنډو کیسو یوه ټولګه(یوه لپه اوبه)مخکې چاپ شوې او د ګل کونډې په نامه د هند یونلیك یې دویم چاپي اثر دي.

بشارت، (په پښتو شفاهي ادبیاتو کې د ښځو ونډه) تر سرلیك لاندې یو بل اثر هم لري، چې چاپ ته سترګې په لاره دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژورناليستكي بوختياوو د بشارت هوډ له هنري ليكنو نه دى اړولى او هيله كيږي، چې دغه ليكوال به په راتلونكي كې هم خپلو ورته ادبي هڅو ته دوام ور كړي، تر څو د خپلو مينه والو ادبي تنده خړوبه كړي.

دلته به د بشارت له شعرونو او نثري ليكنو څخه د بېلګې په توګه ځينې شعرونه او ليكنې د مشت نمونه خروار په ډول وړاندې شي.

**غزل**

لــه زخمــي شــونډو مــې ســو خــال پرېــوتى
پـــه تمـــه ســـتا نـــن د وصـــال پرېـــوتى
لــه ســترګو پرېــوتې پــه غــم كــې اوښــكې
ژونـــدون مـــې غبـــرږ كـــې د زوالـــ پرېـــوتى
آبشـــار د وينـــو كـــړي مســـتي مـــې زړه كـــې
خيالـــ كـــې مـــې ســـتا د زلفـــو ټالـــ پرېـــوتى
نـــازكې دې زيـــړ اننګـــي ســـره شـــي كلـــه
پـــه مازديـــګر د شفـــق كـــال پرېـــوتى
تـــلا شـــوه ســـره غـــوټۍ د عشـــق پـــه بـــاغ كـــې
پـــه شـــنه ســـپرلـــي د خـــزان جالـــ پرېـــوتى

## احمدالله تكل

احمدالله تكل د ارواښاد قاضي امان الله زوى، د امين الله لمسى، په كال **۱۳۴۳**لمريز د ميدان وردګو ولايت د نرخ ولسوالۍ د صدمردې په كلي كې زيږېدلى دى، لومړنۍ زده كړې يې د كابل د حياتي او شېرشاه سوري په ښوونځيو او ثانوي زده كړې يې د غازي امان الله خان په لېسه كې ترسره كړې دي. د ښوونځي د زده كړو له بشپړېدو وروسته په ۱۳۶۱ل كال كې د كابل پوهنتون د هنرونو پوهنځي ته بريالى شو. په ۱۳۶۵ل كال كې د نوموړي پوهنځي له تياتر څانګې نه فارغ شو، تر فراغت وروسته يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لیکوالانو د انجمن د دارالانشاء د رییس په توګه دنده تر سره کړه، د خپل منځی جګړو له پیلېدو سره سم ګاونډي هېواد پاکستان ته کډوال شو، هلته د بي بي سي راډیو د ماشوم مجلې د مشر په توګه وګومارل شو او د مهاجرت په دوره کې سربېره پردې د ژورنالیزم څانګړي کورسونه هم ولوستل. کله چې په هیوادکې د طالبانو د واکمنی له پای ته رسېدو وروسته بېرته هېواد ته راستون شو، نو د ازادۍ راډیو د مشر په توګه وټاکل شو، چې دوه کاله پر همدې دنده پاتې شو، وروسته بیا د نوموړې راډیو د مرکزي څانګې چې په چک جمهوریت پراګ ښار کې موقعیت لري، د چیف اډیتور په توګه وټاکل شو او تراوسه لا د نوموړې راډیو یو فعال خوږ ژبی ویاند پاتې شوی دی.

د احمدالله تکل چاپ شوي اثار:

۱ـ کرونده (منظومه شعري ټولګه)

۲ـ د ښکلا یوه شېبه (شعري ټولګه)

۳ـ د پنجرې شاته (شعري ټولګه)

## غــــزل

خــــپه کېږمـــــه کـه ګـــورې لېـونی یــم
د ناپایــه میـــــنی اور کــــــې سـپېلنی یــم
د جنـون غوغـــا مـې نـه بـه شـي زایلـــــه
چـې بـې واکـه روهیلـی یـم، غرڅنـــی یــم
دادورنــو نــاوې څېـری زمـــا غــــیږ کـــې
د اوریــن بــــدن لمــــنه اورنــی یـــــــم
د هــوس میـــنا مـې ډکـه شــوه ژړیــــــږي
راتــه بریښــي نــه چــې زه هــم مرګنــی یــم
کـه مـې سـر یـار پـه درکـې نـه کوزیــــږي
عشـقه معـاف مـې کـړه پـه ختـه غرنـی یـم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ارمـان ډنـډر مـې مـات نـه کـړې ژېـړ لمـره
د ویـالې پـه غـــــاړه مـــړاوې بیـالنی یـم

## حنیف بکتاش

ښاغلی بکتاش د ځنګله دانځوریزو سترګو، مینه ناک شاعر دی چې تصویرساز تخیل یې د تغزل په مرسته د بنګړیو په څېر شرنګیږي. د ده په شعر کې د ښکلا مینه هم شته، خو له انسان او انسانیت سره مینه او درناوی د ده د شعر لومړنی توکی او آر دی. د ده په اوچتو آزادو شعرونو کې د هېواد د روان دوه لسیزو ناورین انځور په خورا اوچته پیمانه ځلیږي او په لیدو یې موږ ته دا ډاډ پیدا کیږي چې زموږ د اوسني دوران شعري بهیر هم له چا کم نه دی او ښه په بري سره خپل هنري یون پرمخ بېولای شي. بکتاش د آزاد شعر په لړ کې د ښه استعداد خاوند دی، خو داسې ښکاري چې کله کله ده خپل شعري ذوق له سیاسی غوښتنو ځار کړی او د شعر انځورونه یې په ذهن کې همداسې پرې ایښي ده، دا څرک سربېره پردې چې د ده له بوخت ژوندانه نه سرې ډېر ښه لګولی شي، د ده د شعر له لړوالی نه هم لګېدای شي. نوموړي شاعر لږ شعرونه لیکلي، خو ډېر ښه یي لیکلي او د شعر لیکنې پر مهال په ټوله مانا پر یوه عاطفی لوړه ناست ښکاري، ځکه نو د ده له هر شعر څخه د لوستونکي پر ذهن د عاطفې او مینې یوه سوځنده وړمه خپریږي.

حنیف بکتاش د ۱۳۴۰لمریز کال د غویي د میاشتې پر شلمه نېټه د میدان وردګو ولایت په میدان ښار کې زیږېدلی دی، لومړنی زده کړې یې د میدان ښار په لومړنیو ښوونځیو کې تر سره او د دولسم ټولګې برې لیک یی له میدان لېسې نه پر ۱۳۵۸کال ترلاسه کړی دی.

بکتاش د زدکړو تر بشپړاوي وروسته د افغانستان د ځوانانو د دیموکراتیک سازمان د مرکزی کمیټې منشي شو، چې په ۱۳۶۶لمریز کال یی دا دنده پرېښوده او د افغانستان د خلکو د دیموکراتیک ګوند په مرکزي کمېټه کې پر غړیتوب وټاکل شو، پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳۷۱لمریز کال منځنۍ اسیا ته مهاجر شو او له هغه ځایه د بي بي سي راډیـو د پښـتو څانګې د ویاندۍ لپاره لندن ته لاړه، چې تر اوسه هلته د بي بي سي په پښـتو خپرونـه کې اوونیز پروګرامونه جوړوي او د هلمند په مستعار نوم یې د ویاندوۍ هـم د دی پـر غاړه وي.

دی له ۱۳۵۴لمریز کال راهیسې شعر لیکـي چـې ځینـې شـعرونه یـې د هېـواد پـه خپرونو کې خپاره شوي او ځانګړې شعري ټولګه یې (د ځنګله سترګو کـې) نـومېږي چې په ۱۳۶۷لمریز کال د چاپ او خپرونـو د دولـت کمېټـې لـه خـوا خپـره شـوې ده. سربېره پر دې د شعر او نثـر یـو دوه نـورې ناچاپـه ټـولګې هـم لـري، چـې پـه نـږدې راتلونکي کې یې د خپراوي هیلې شته.

د ښاغلي حنیف بکتاش د شعرونو له کنج څخه به دلته یو دوه شعرونه را واخلو او خپله شعري تنده به ورباندې ماته کړو. د نوموړي ازاد شعرونه دادي:

**زه مساپریم:**

زه مساپر یم خو لار ورکی نه یم

ما د رڼو کورونو لار لیدلې

زه هغه وریځې په سکرټو ولم

چې د ځنګله د کمیسو پولو ته

د سپینو شپو ترانې لولي

زه مساپر خو لار ورکی نه یم

ما د سپیدو په لوري پل ایښی دی

زه د ایمان او ازادۍ په ګوتو

د تورې شپې ګریوان ته لاس اچوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د انسان د آزادۍ کوترې

د شنه آسمان لوري ته آلوزوم

زه مساپر خو لار ورکی نه یم

په منډه منډه د لمر کلي ته ځم

هلته تودوخه او رڼا ډېره ده

زه په لمر بوځمه دیارکلی ته

چې یخ وهلې ځمکه وغوړیږي

او چمن وخاندي

او په سپیرو شونډوکې

د امېدونو موسکا ونخیږي

## عبدالله نیازمند

ښاغلی عبدالله نیازمند د عبدالواسع زوی، چې په خټه پیاروخېل دی او په لویه کې په ستانکزیو ګڼل کیږي. په ۱۳۲۶لمریز کال کې د میدان وردګو ولایت د نرخ ولسوالی د صدمردي په سیمه کې دې فانې نړۍ ته سترګې را غړولې. لومړۍ او منځنۍ زده کړې یې د نرخ او ابن سینا په لېسو کې ترسره کړې او مسلکي زده کړې یې د سیدجمال الدین د ښوونکي د روزنې په موسسه کې لوړې زده کړې د روښان په پیداګوژي انستیتیوت کې د تاریخ او جغرافیې په څانګه کې بشپړې کړې دي.

د ژوند په اوږدو کې یې ډېرې ستونزې او کړاوونه ګاللي دي. نوموړی په بېلا بېلو برخو کې لیکنې او اثار لري او په هم دې سربېره لیکوال شاعر او ژورنالیست هم دی، چې اثار شعرې ټوګه یې( وران کور)چاپ شوی دي او نثری لیکنو یو مجموعه ده ،چې تر اوسه ناچاپ پاتې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شعر نمونه دا ده:

**مور ته!**

چې دې بدیل نشته دی هاغسې هستی یې مورې
د خدای مثال یې ته له هر څه نه عالي یې مورې
ستا لوړ مقام دی چې تشریح او تعریف نه لري
ته هغه ستره دارایي او شتمني یې مورې
د کائناتو جمال ته یی جلال ته یې ګرانې
رښتیا چې ستره جمالي او جلالي یې مورې
تر کعبې نه معظمه ته تر عرشه لوړه
د نور چینه یې د رنګونو زیبایي یې مورې
ستا تر قدم لاندې پټ شوي جنتونه وینم
که څوک پوهیږی نو ته ستره خوشحالي یې مورې

**څلوریځه**

افغانه پوه شه چې په څه کې ارتقا پټه ده
د خزانې په څیرې دا ستر دنیا پټه ده
بس خو کمال غواړی د دغې خزانې را سپړل
په ډېر محنت کې د انسان د ژوند بقا پټه ده

## شرف الدين شرفيار

ښاغلی شرفیار د هېواد په سمسوره، ودانه او خپلواکه غېږ کې زیږېدلی دی، دی لا تنکی ځوانې ته رسېدلی و چې د هجرت او هجران کړاوونه یې مل شول او لا تر ننه یې اغېز د ده په څېره کې ښکاري، د هېواد وروستیو تاوجنو حالاتو دې دومره وځاپه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې اوس يې هم د ژوند لوری ګردجن ښکاري او د ژوند هره شېبه يې د زهرو غړپ دي، دی په دې اړه ليکي:

((ستونزو دومره اړ کړی وم چې له لمر څخه تيارو ته وتښتېدم او له خپلې ښايسته مينې څخه د ښامار په کومې پناه واخلو، د وړکتوب دوره دومره سخته وه، چې ورځې به مو په تورو سمڅو کې تېرولې او يوازې د ماښام راتګ د مور لپاره هوساينې مانا درلوده، دښمن ډېر لنډ راته پروت و، خو خدای (ج) شاهد دی، چې ډېر کړاوونه مو وګالل او په همدغه تياره کې مې مشر ورور د بم چاودنې په پېښه کې د سترګو ديد له لاسه ورکړ او تراوسه يې هغه تياره په سترګو کې ديره ده، خپلوان مې شهيدان او کلی مې وران شو، خو دا چې کورنۍ مو باتعليمه او علم پاله وه، پلار مې او مشر ورور مې عين الدين را سره مرسته وکړه او زما ژبه يې په الفبا جاري کړه، مشعل يې په لاس کې راکړ او د هغوی په مرسته مې خپل شاوخوا نړۍ وليده او ومې ليدل، چې په دنيا کې يواځې بدرنګي، نه بلکې ښکلاوې هم پرېمانه دی....))

شرف الدين شرفيار ستانکزی پر ۱۳۴۹لمريز کال د ميدان وردګو ولايت د نرخ ولسوالۍ د توکرک د ملاجلال په کلي کې زېږېدلی دی.

لومړنۍ زده کړې يې د ميدان ولايت په لومړنيو ښوونځيو کې تر سره کړې او نورې زده کړې يې په ځانګړې ډول ترسره کړې دي. نوموړی شاعر ښکلی او ډېر په زړه پورې غږ هم لري، چې کله کله د راډيو له څپو نه زمزمه کيږي، همدارنګه د شعر رنګينې دنياګی ته يې په شل کلنۍ کې مخه کړې او په شعر او ليکنو يې پيل کړی او په دې لړۍ کې يې د پښتو ښه شاعر احمد تکل د لارښود استاد حيثيت لرلی دی، د شعرونو دوه تيارې ټولګې لري چې لاخپرې شوې نه دي.

ښاغلی شرفيار ستانکزی وخت ته په درنه سترګه ګوري او تللی وخت بېرته نه را سپمېدونکی بولي، ځکه په خپلو شعرونو کې له جنګ جګړې څخه سرټکوي او د يوه سوکاله، پرمختللي هېواد غوښتونکی دی.

اوس به د ده له شعرونو څخه يو شعر د بېلګې په توګه راواخلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

ختلــــی لمـــــر پـــه پرېواتـــــه ولويـــــده
پرلـــه پســــې ســــتوري خاتـــه ولويـــده
د موســــــمونو رنګارنـــــــګ ګلونـــــــه
د ســـر پـــه ســـترګو مـــې کاتـــه وليـــده
دطـــــاقتورې ځــــوانۍ مســــت پهلـــــوان
دجنـــګ ميـــدان تـــه ځـــو راتـــه ولويـــده
دکســـرا لـــوړ د زيـــب زينـــت برجونـــه
زمـــانې ځوړنـــد کـــړه پراتـــه ولويـــده
دژونـــد خـــوږې مـــې لاځکلـــې نـــه وې
چـې مـې لـه ژامـې غـاښ وراسـته ولويـده
تـه والـه عمـره نـور نـو سـتړی ښـکاری
نـرګس پـه اوښـکو کـې خيشـته ولويـده
لـــه ورخـــه تللـــې اوبـــه نـــه راګرځـــي
ځـــو مـــې ګـــوهرکې ځـــان ســـاته وليـــده
دنيـــا ټوکمــــاره ده کـــانې يـــې وکـــړې
د شـــــرفيار ســـــر نـــــه ويښـــــته ولويـــــده

## عبدالله شېرزی

عبدالله شېرزی د خدای نور شېرزي زوی په ۱۳۵۸کال هجری لمریـز کال کـې د میدان وردګو ولایت د نرخ ولسوالۍ په حیات کلي کې زیږېدلی دی، په ۱۳۷۸هجـری لمریز کال په پېښور کې د میوند له عالي لېسې څخـه فـارغ او وروسـته يـې پـه اداره او

(c) ketabton.com: The Digital Library

منجمنټ کې هم زده کړې وکړې، درې کاله کيږي چې په ليکنو يې پيل کړی دی او يو شمېر ليکنې يې په هېواد ورځپاڼې، افغان ملت جريده او ډيوه مجلې، وحدت اوونيزې، ټول افغان وېبپاڼې او دريځ مياشتنۍ مجله کې خپاره شوي دي، کوم چاپ شوی اثر نه لري، خو ګڼې ليکنې لري، چې د موضوع د ورته والي له مخې د کتاب ګوټي بڼه خپلولی شي.

د ښاغلي عبدالله شېرزي د ليکنې بېلګه د خپلواکۍ د ورځې په ياد:

د افغـــــان د ګـــــلو بڼه خوشبويي دې مبارک شه
له انګريزو نه دې ګټلې خپلواکي دې مبارک شه
ستامنزل وو په تيارو کې دتيارولارې وي ګرانې
چې يې لمر ته را ووتلې رڼايي دې مبارک شـــــه

## هـمت الله اميـن زی

همت الله امين زی د پوهنوال اسدالله امين زي زوی په ۱۳۶۵المريز کال کې د ميدان وردګو ولايت د نرخ ولسوالۍ د توکرک نومې سيمې په يوه ديندار درنه او روڼ اندې کورنۍ کې زيږېدلی دی. لومړنۍ او منځنۍ زده کړې يې په نومـوړې سيمه کې د شهيد قاضي ګل محمد په منځنۍ ښوونځي او د محمد موسی شهيد په متوسطه کې ترسره کړي او د کابل ښار د نادريې له عالي لېسې څخه په اعلی درجه فارغ او د کانکور د آزموينې تر ګټلو وروسته د کابل پوليتخنيک پوهنتون ته بريالی شو، چې د دې پوهنتون د ساختماني پوهنځي نه فارغ شوی دی.

ښاغلی امين زی د افغانستان د ژورنالېستانو او خبريالانو د ملي ټولنې د بهرنيو اړيکو مرستيال او د ټولنې وياند، همدا شان د ژورناليست اونېزې، څارنوال اونيزې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

میدان ځوانان مجلې، تجارت او معاملات مجلې، سباوون مجلې، سحرګاهان مجلې او د ښځو د ځانګړې مجلې د کتنې هیئت غړی، د افغانستان د ملي راډیو تلویزیون ویاند، د خپرونو د کمېسیون غړی او په ځینو نور ادارو لکه د میدان وردګو ولایت د اطلاعات او کلتور ریاست کې همکار پاتې شوی دی.

همت الله امین زی همدا اوس مهال د دې ترڅنګ چې د انسیټوت استاد دی، په میدان وردګو ولایت کې د افغانستان د آزادو ژورنالیستانو د ټولنې استازی، د میدان ځوانانو ټولنیزې، ادبي او کلتوري ټولنې مشر، د مېنې مجلې مسوول چلوونکی، د تعلیمي او تربیتي او همدا شان د غزنه غږ اونیزې مرستیال چلوونکی دی.

که څه هم چې د همت الله امین زي په ځانګړې توګه کوم اثر نه دی خپور شوی، خو له مطبوعاتو سره خورا مینه لري، چې په زیاتو مجلو، جریدو، ورځپاڼو، راډیو او تلوېزیون او ځینو وېبپاڼو له لارې یې شعرونه او نورې لیکنې خپروې شوې دي. مینه ترسرلیک لاندې ټولنیز ادبي (دا خو نو بیا ستا د خولې خبرې دي) وېبلاګ لري، چې اکثرا خپلې لیکنې په کې خپروي، چې ځانګړي لوستونکي او مینه وال لري او د امین زی ټکی کام وېبپاڼې چلوونکی هم دی.

ښاغلی امین زی له شعر او لیکوالی سره خورا مینه لري، چې ډېرې لیکنې یې کړې دي، په خپله مسلکي برخه انجنیري، ډېرې اسلامي لیکنې، د ورځې سیاسي لیکنې، سیمه ییز کلتور، ادبیات، ځوانان، ښځې د ټولنې یو برخه، مطبوعاتو په بېلابېلو برخو خبر لیکنې ، سرلیکنه، چاپي خپرونې، ویاندویي یا نطاقي، راډیویي تعلیمي پروګرامونه، د مطبوعاتو په برخه کې د مجلو پیدایښت، د سیمې د تاریخ او مخورو په  هکله او په ډېرو نورو برخو کې یې په پښتو او دري ژبو ډېرې لیکنې کړې دي.

د همت الله امین زي د شعر بېلګه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

## غزل

دا د ښــکلو کــوم منظــر دی پــه مــا شـــوی
یــا د غــره څینــې کــوم کــانړی غلــط شــوی
راشــه وګــوره د ټــول عمــر محصــول مــې
ورتــه ګــورم پــه دریــاب کــې لاهــو شــوی
ماتــــه مــــه ښــــیه کـــــار او د ښــــو لاره
جوړ هر کار مې په یوه نظر د بل چا شوی
د ځـــواني دوران دی ډیـــره بـــې غـــوري دی
یار مې نه وایـي چې ښـار کې دی تـم شـوی
امــین زی وایـــي حیــران یمــه خپــل یــار تــه
چې دا را سره مخ دی او که یار مې بـدل شو

## فـهیم الله امین زی

فهیم الله امین زی په کال ۱۳۶۶لمریز کې د میدان وردګو ولایت د نرخ ولسوالی د توکرک نومې درې د حاجي مصلي بابا په کلي کې زیږېدلی دی.

لومړنۍ او منځنۍ زده کړې د شهیدقاضي ګـل محمـد او د محمدموسـی شـهید پـه متوسطه کې ترسره کړي او په ۱۳۸۳لمریز کال کې د کابل ښار د نادریې لـه عـالي لیسې څخه په اعلی درجه فارغ او د کانکور د آزموینې تـر ګـډون وروسـته د کابـل ښوونې او روزنې پوهنتون ته بریالی او پـه ۱۳۸۷لمریـز کـال کـې د همـدې پوهنتـون د ادبیاتو پوهنځي له انګلیسي څانګې څخه فارغ شوی دی.

په moc.golb.yaznimameeh.www دغه ویبلاګ کې د ښاغلي فهـیم الله امین زي شعرونه، لنډې کیسې او نورې لیکنې خپرېږي، چې د پښتو ادب مینه والـو تـه یې د لوستلو بلنه ورکوو. دا هم د هغه د شعر بېلګه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**ماویل ته یې**

د سپوږمۍ خوا کې رڼا وه ما ویل ته یې
ټوله مینه وه ښکلا وه ما ویل ته یې
رانه تلله مخ په وړاندې نه دریدله
لرې، لرې یې نخاوه ما ویل ته یې
تورپېکی یې چې په سپین رخسار راخور کړ
د سور شونډو چې موسکا وه ما ویل ته یې
مکیزونه او نازونه یې وه هومره
چې له خیاله دې خندا وه ما ویل ته یې
د لیمو لاندې یې ما پلو را کتلو
چې کتلې مې همدا وه ما ویل ته یې
وه د پېغلو په کتار ګودر پر غاړه
دا له مخ ډله یې تر شاه وه ما ویل ته یې
پښتانه له ځای درانه یې (امین زیه)
شال کې پټه له حیا وه ما ویل ته یې
د سپوږمۍ خوا کې رڼا وه ماویل ته یې
ټوله مینه وه ښکلا وه ما ویل ته یې
رانه تلله مخ په وړاندې نه دربدله
لرې، لرې یې نخاوه ما ویل ته یې
تورپېکی یې چې په سپین رخسار راخور کړ
د سرو شونډو چې موسکا وه ما ویل ته یې

## محمداجمل هوډمن

محمداجمل هوډمن د الحاج محمدرفیق زوی په کال ۱۳۵۷هجری لمریز د وری د میاشتې په اوومه نیټه د میدن وردګو ولایت د مرکز میدان ښار د امرخېلو سیمې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نايبانو په کلي کې سترګې نړۍ ته پرانيستې دي، لومړنی او منځنۍ زده کړې يې په کابل ښار د علاوالدين په تجربوي ښوونځي اوحبيبې په عالي لیسه کې سرته رسولې دي او په کال ۱۳۷۸لمريز کال کې ميدان وردګو ولايت د حضرت خالدبن وليد له عالي لیسې نه فارغ شوی دی، د کانکور په ازموينه کې تر ګډون وروسته د کابل پوهنتون د حقوقو او سياسی علومو پوهنځي ته بريالی شوی او په ۱۳۸۳ل کال کې يې د نوموړي پوهنځی د اداري او ديپلوماسی له څانګې څخه په درېيمه نومره بری ليک ترلاسه کړ، اوس د حقوقو په نړيواله ټولنه کې د حقوقی مرستندوی (مدافع وکيل) په توګه دنده تر سره کوي.

هوډمن ښوونځي کې وه، چې د شعر او نثر په ليکنه يی پيل کړی و، خو د بيان د آزادۍ په وړاندې پرتو ستونزو د قلم خوځولو مخه يې ډب کړې وه، خو کله چې د افغاني ادب په ډګر باندې د آزادۍ پلوشې وغوړېدې، د نورو ليکوالو په څېر يې قلم ته زور ورکړ او په بېلابېلو برخو کې يې ګڼې ليکنې وکړې، چې د افغان غږ، ډيوې، مشعل ديموکراسي، ګوربت، خانواده، اراده او نورو خپرونو کې خپرې شوې دي او له پوهنځي څخه تر فارغېدو وړاندې د افغان غږ اونيزې د ليکوالې ډلې غړی و، چې کلتوري او ټولنيزه خپرونه ده، د مسول مدير په توګه يې دنده تر سره کوله او د ليکنو شمېر يې نږدې دوه سوو ته رسېږي، چې د نثرونو په پرتله يې شعرونه لږ دي، چې ځينې يی په خپرونو کې چاپ شوي هم دي، دلته به يې د شعرونو له ځولۍ څخه يو غزل راواخلو:

## بې وفا دردونه

خوبونه بې وفا شول، خيالونه بې وفا شول
داغونه ستا د مينې پرهرونه بې وفا شول
نن مې راستون شوی زما د زړه په چمنونو
پسرلی بې وفا شو سره ګلونه بې وفا شول
تا سترګې تورولې زما زړګی وه پرې روښانه
د سترګو به څه وايم کجلونه بې وفا شول

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمـا د بخـت همـا آلـوتې دې بـې پايـه هسـک تياروتـه
مخ دې پټ کړ په حجاب کې ديدنونه بې وفا شول

غمونـه دې ر اسـر شـول زيـروبم يـې رانـه ورک شـول
سـازونه دې پـه غـم کـې ربابونـه بـې وفـا شـول

داغونـه د زړګـی مـې مسـيدلي سـتا پـه هجـر
خـواږه دا سـتا د مينـې زمـا دردونـه بـې وفـا شـول

ما د عشق په تصـويرو کـې د بـوډۍ ټالـ وو جـوړ کـړی
دا د بخـت يـاری بـه څـه کـړم بارانونـه بـی وفـا شـول

د شـيرينې تصـوير کـې پـه فرهـاد پسـې روان شـوم
د دې لارې لاروی تـه تـور تـور غرونـه بـې وفـا شـول

احساس مې غلی شوی څکه ستا هيلې شوې ګرانې
شـعرونه بـې وفـا شـول غزلونـه بـې وفـا شـول

د فلـک سـاقي جامونـه سـتا د مينـې را نـه تـش کـړه
هوډمنـه سـتاو تنـدې تـه خمونـه بـې وفـا شـول

**څلوريځه**

سپين رخسار سره دې لبان نـازک نازک
کاږه باڼه، تور دې چشمان نازک نازک
نرۍ وريځې د لړم غونـدې کږې دي
تور ويښته دې ښاماران نازک نـازک

(c) ketabton.com: The Digital Library

## احمدفـواد الیاس زی

ښاغلی احمدفواد الیاس زی د محمدالیاس زوی، په ۱۳۶۵هجری لمریز کال کـې د میدان وردګو ولایت د نرخ ولسوالۍ د صدمردې په سیمه کې زیږېدلی دی. ده لومړنۍ زده کړې د میدان وردګو ولایت د نرخ ولسوالۍ د صدمردې د موسی شـهید پـه عـالي لېسه کې ترسره کړې او بیا د نورو زده کړو د پوره کولو لپـاره پـه ۱۳۸۴لمریـز کـال د کابل د نادرېې په عالي لېسه کې شامل او په همدې کال یې ورڅخه د دولسـم ټـولګي د فراغت بری لیـک پـه اعلـی درجـه ترلاسـه کـړ، د کـانکور تـر آزمـوینې وروسـته د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي ته بریالی شو، چـې د دنیـا د نـه ختمېـدونکو ستونزو له کبله یې ونه شوای کولای چې خپلې زده کړې په مخ بوځي. الیـاس زی لـه کوچنیوالی څخه د ښه استعداد خاوند او خپلو استادانو ته به ویښ ماشوم په نظر ورتـه. نوموړی په لسم ټولګی کې و چې د شعر ښاپیرۍ یې ورته خپل وزرونه ورپول او د ده د شعرونو زانګې په شنو سر درو کې لاهو شـوی، الیـاس زی اوس شـاعر دی او ښایسـته ډېره خواري یې کړې ده، ښکلي او په زړه پورې شعرونه لري، چې ځینې یې پـه ځینـو جریدو کې چاپ شوي دي، د نوموړي لومړی شعر د زمزمې په اوونیزه کې چاپ شو، احمدفواد الیاس زي په ۱۳۸۸لمریز کال د هېواد په خورا مشهوره مشاعره یعنـی د مینې ګل په مشاعره کې ګډون وکړ، چې د شعر په ویلو سره یـې د ناسـتو ګـډونوالو پـام د خپـل ځانتـه راواړاوه او د اورېـدونکو او ګـډون کوونکـو لـه خـوا ښـه وسـتایل شـو. احمدفواد الیاس زی اوس مهال د دعوت پوهنتون د حقوقو او سیاسی علومو د پوهنځي د ډیپلوماسۍ او اداري په برخه کې خپلې زده کړې په مخ بیـایي، اوس هـم شـعر سـره پوره لېوالتیا لري او خپله د زړه خبره د قلم په نوکه په سپینو پاڼو کوي. نومـوړی خپلـه شعري تنده هره جمعه په افغان ادبي بهیر کې ماتوي او همدارنګه د افغان ادبي بهیـر لـه ګډونوالو سره خپل شعرونه شریکوي، اوس نو ستاسې د انتظار شېبې را لنډوو او د هغه د شعرونو له ځولۍ څخه به یو راکوز کړو او ستاسې شعري تنده به پرې خړوبه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**څلوریځه**

که یو پښتون خپلې پښتو نه تېر شي
لکه کافر له جنتو نه تېر شي
چې مورنۍ ژبه یې خوله کې نه وي
هغه انسان د مور شیدو نه تېر شي

د خیر پسرلی

سبرکال د خیر پسرلی کې خدایه
هر یو غلیم مو خندنی کې خدایه
چې د ښایست نظرې وچ کړمه
د غره هر بوټی سپېلنی کې خدایه
زمونږ غریب زمونږ بې پلاره ماشوم
د تعلیم برخه کې لومړی کې خدایه
د وطن هر یو افغاني زلمی
جمال الدین په خپر غمی کې خدایه
چې انتحار رالېږي دې خاورې ته
هغه دښمن ته لېونی کې خدایه
چې صلحه صلحه امنیت غواړي
د دوی مرام ته بریالی کې خدایه
د ادب بڼ د شعر ډګر کې ربه
یو ځل کامیاب ته الیاسزی کې خدایه

**څلوریزه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر سندرغاړي زمونږ ډانسونه کوي

تاجکستان ته ځي عيشونه کوي

د يو افغان او مسلمان په نامه

اوس د غربيانو تقليدونه کوي

## محمدالدين همدرد

محمد الدين همدرد د غوث الدين خان زوی، په ۱۳۶۵هجري لمريز کال د ميدان وردګو ولايت د نرخ ولسوالی د دادل د سميې د جوقول کلي کې دنيا ته سترګې وغړولې، تر څلورم ټولګي پورې يې لومړنۍ زده کړې په خپل کور او د کلي مسجد کې ترسره کړې، وروسته يې بيا له څلورم ټولګي څخه تر شپږم ټولګي پورې د شهيد صابريار په منځني ښوونځي کې سرته ورسولې، چې په نوموړي دوره کې يې لومړۍ درجه خپله کړې وه، تر هغه وروسته يې منځنۍ زده کړې د خالدبن وليد په عالي لېسه کې او پاتې نورې زده کړې يې بيا د سلمان فارس په عالي لېسه کي سرته ورسولې. په ۱۳۸۳ل کال له لېسې څخه فارغ او په کانکور کې تر ګډون وروسته د کابل د ښوونې او روزنې پوهنتون د کمپيوټر ساينس پوهنځي ته بريالی شو، چې بيا په ۱۳۸۷کال کې له نوموړي پوهنځي څخه فارغ او له يوه خصوصي شرکت سره يې د شبکي او انټرنټ د انجنير په توګه دنده پيل کړه، چې تر اوسه هم ور سره فعاليت لري. همدا راز يې د کابل ښار په يو زيات شمېر کورسونو کې د ساينسي مضامينو، لکه د کانکور تياری، ابتدايي او عالي رياضياتو، کمپيوټر، قران کريم، فزيک، هندسي مختلفو ټولګيو کې تدريس کړي، همدا ډول يې له اجتماعي او ادبي غونډو سربېره په يو زيات شمېر کلتوري او فرهنګي غونډو کې هم ګډون کړی، له لسم ټولګي څخه يې له شعر او شاعري سره علاقه پيدا شوې، چې له هماغه وخت يې د ګوډ مات شعر په ليکلو پيل کړی دی او تر اوسه پورې هم يو نيم شعر ليکي. زياتره شعرونه يې د وطن په درد ليکلي او د حالاتو او ستونزو يادونه يې په کې کړې ده، معمولاً نظمونو او غزلو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

مينه لري او ليکي يې، تر اوسه کومه چاپ شوي شعري ټولګه نه لري، مګر چاپ ته چمتو دوه شعري ټولګې او د رياضي د بنسټ په نوم دري کتاب په لاس کې لري، چې انشاءالله که بخت ياري وکړه، ډېر ژر به يې چاپ او د مينه والو په واک کې کيږدي. همدارنګه د کمپيوټر د هارډوير او شبکې يو کتاب د ليکلو کار يې هم پيل کړی دی، هڅه کوي چې دا کتابونه هم ژر تر ژره پوره او د خپلو هېوادوالو په واک کې ورکړي. له غزل سره مينه لري او د ټولو شاعرانو خو په ځانګړي ډول د سميع الله ترون، ځواب، کاروان صاحب، انورالحق يرغل، نبيله غزل، رحمان بابا، خاطر، غني خان شعرونه زيات لولي. دا چې څنګه يې خپله شعر ليکلو ته مخه وکړه، دا د دوی د ښوونځي د دوري د پښتو مضمون د يوه ښوونکي نجيب الله خان، چې په لسم ټولګي کې يې دوی ته د پښتو مضمون درس ورکاوه، هغه تشويق و، چې په همدې کال کې يې د ښوونکي ورځې لپاره دا لاندې غزل ليکلی و او ښوونځي کې يې د ښوونکي په ورځ ولوست، چې بيا وروسته دی نوموړي ښوونکي شعر ليکلو ته وهڅاوه. د ده لومړنی شعر هم دا و، چې بيا وروسته نورو دوستانو او ملګرو هم شعر ليکلو ته هڅولی. په همدې توګه له نږدې شپږو کلونو څخه راپدېخوا د ميدان ځوانانو د ادبي او کلتوري ټولنې د تعليمي چارو مسوول او خبريال په توګه دنده سرته رسوي، چې اوس هم د هغه ترځنګ د ډاکټر عبدالوکيل د علمي او کلتوري يون د رييسه هيئت د غړي په توګه هم خپل فعاليت ته دوام ورکوي. د پيام عدالت او جبران اونيزو د خبريال په توګه يې هم کار کړی او د درې مياشتو لپاره يې د افغان ادبي بهير سټېج هم چلولی دی. په دې ډول يې يو شمېر مرکې او مصاحبې هم چمتو کړې دي، چې تر اوسه پورې يې په ادبي برخه کي تر خپله وسه خپل دردېدلي ولس ته پوره کار کړی او لا هم خپل خدمت ته دوام ورکوي. په يو شمېر مجلو او ويبپاڼو کې يې هم ځينې ليکنې خپرې شوې دي. له دريو کلونو را په دېخوا د افغانستان د خبريالانو او ژورناليستانو د اتحاديې غړيتوب يې هم تر لاسه کړی او خپل فعاليت ته دوام ورکوي.

اوس د خپلې اصلي دندې ترځنګ د لمر صنعتي مطبعې د بازار موندنې چارې هم مخ ته وړي، همدارنګه له تېر يو کال را وروسته يې د ځينو سياسي ليکنو ليکلو ته هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخه کړې ده . د ولس درد ته يې چارواکي متوجه کړي، چې د بېنوا او ټول افغان وېيپانو له لارې نشر شوې دي.

دا يې هم د شعر يوه نمونه:

غزل

مينـــــه کليوالــــــه لـــــبره ســــــخته وي
ګټـــــه بـــې جنجالــــه لــــبره ســـخته وي
کلـــه کلـــه دا ديـــــدن تـــــه نـــــه راځـــي
کلـــه بيـــا پـــــر مـــا لــــبره ناوختـــه وي
وخـــــت د ديــــدنونو اشـــــنا کلـــي کـــې
يـــا وي مـــــازديګر يـــا ســـهار وختـــه وي
ځـوک چـې مينـه نـه زړه کـې نفـرت سـاتي
دا بــــه انســـــانانو کــــې بدبختـــــه وي
دومـــره شـــي پـــه مـــلا ماتـــه کـــبره وړه
تـــه بـــه وايـــې دا د ســـپرلي لښـــته وي
زمـا د جانـان داسـې ځـای کـې کلـي دی
چېرتـه چـې يـو ګـل وي نـوره دښـته وي

## نـفـيـسه نـصـيب

اغلې نفيسه د محمد حسن لور د ميدان وردګو ولايت د کمرک په سيمه او بهسود مرکز ولسوالۍ د قول دره په کلي کې په ۱۳۶۰لمريز کال نړۍ ته سترګې پرانيستې دي. هغې تر دولسم ټولګي پورې زده کړې د قلعه شاده په لېسه کې سرته رسولې دي او لوړې زده کړې يې د کابل پوهنتون د ژبو ادبياتو پوهنځي په دري څانګه کې سرته رسولې دي. د يادې سيمې له اوسنيو ځوانو نثر ليکونکو څخه ده او ډېر زيات نثری ټوټې او مقالې يې په مجلو او خپرونو کې خپرې شوې دي. نوموړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر دې دمه يو چاپ شوی اثار [بازکن پنجره را] لري، خو په راتلونکي کې د نثر او نظم په برخه کې ترې د زيات کار تمه کېدای شي.

دشعر نمونی دا دی

بازکن

ای گریزه ی دور

هاله ی گرد تن رویا

باز می یابم ترا

این چه دریایی ست

از آتش

جاری تا آن سوی این دنیا

سه سبد لبخند

می کشد این جا

مظهر آزادیی کوه طلوع

مشعر شکرانه ی دشت غروب

اتن باغچه ی کاشانه ی من

حلقه ی پر شود

می آید

این چنین گام بلند

این همه فصل بزرگ

بازکن

(c) ketabton.com: The Digital Library

بازکن

سلسله ی بخیه ی لب های پر از آواز

که فرو ریزد

طلسم بند دست و پای

آدم ها

تابه هر سوگواره ی نیرنگ

بستیزد

که فرو پاشد

طلسم گوش این پهنا

تا سرود آشنا

آید

از غرور هم دیگر خواهی

هیات قایم انسان ها

## انور وفا سمندر

انور وفا دا واوره او زده کړه د لړۍ د «غبر ستوری» او «پر ماشومانو باندې کار کول» په نوم د ډرامو لیکونکی دی. نوموړی همداراز د «خیال جونګړه» په ادبي اونیزه کې بوخت دی د انور وفا سمندر ګڼ شمیر کتابونه چاپ شوي دي.

«غبر ستوري» راډیويي ډرامه د شپاړس کلنې ماین معیوبې کړې «مریمې» ژوند انځوروي. مریم غواړي سندرغاړې شي. مور د مریمې په سندریز غبر مینه ده. پلار د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلي او تربور د شرم تر نامه لاندې هغه له آواز ویلو منع کوي. خو مریمه چې ښه آواز الهي نعمت ګڼي، د خپل تره، «وحید ربابي» په مرسته د دې جوګه کیږي، چې د سندرو په سیالۍ کې د «کابل ستورې» شي.

خو د لیکوال خپل ژوند تر دې مهاله په څه ډول تېر شوی؟ په دې اړه انور وفا داسې څرګندونې لري:

پلار ویل: «هلکه! غنم لو کې دنیا ته راغلې»؛ خو مور به ویل: «نه، ته مې په مني- طلایي موسم- کې دنیا ته راوړې!» خو زه چې څه د ځان په اړه خپل واک ګڼم، د تلې میاشتې وروستۍ نیمه شپه وه او زه په دنیا کې را زیات شوم.

له خیاله چې د ذهن دنیا ته راواوړم، نو په پېژندپاڼه کې یې راته ۱۳۴۱ لمریز (۱۹۶۲) زیږدیز کال د زیږون کال لیکلی دی.

آه، اوس نه ماشومتوب شته او نه زه غواړم ماشوم شم؛ ځکه ماشومتوب تللې زمانه ده او تللې مړه ده؛ او یوه «اوس» ژوندۍ! تېره د تاریخ په پاڼو کې ښخه ده. او هلته ګورم چې پلار په کال ۱۹۶۹ کې د میدان درې مرکزي لیسې لومړي ټولګي کې معلم ته په لاس ورکړم چې اصلاح مې کړي! په ۱۹۸۰ کال له دې ماشین نه غټ پټ راووتم. د کابل پوهنتون د ژورنالیزم څانګې ته ورولوېدم او په ۱۹۸۴ کال ترې ژوندی راووتم. په مرکزي راډیو ټلویزیون کې نوکرۍ ته ورولوېدم. دلته و چې قلم زما زده شو. دلته و چې خبریال او بیا لیکوال راووتم. دا لا څېرې! اووه اته کاله کېدل چې زه د لیکوالۍ له تومنې ډک ګرځېدم.

کال ۱۹۷۶ و. زه د میدان د چاریکې د خزاندار عیسی خان د برجورې کلا پیتاوي کې له «شریف» او «داود» او... سره په توشلو او «شتهو» وم، چې د «محمد عزیز» بنجاره له جړنګانو، بنګړیو، زرتارو او نکروزو ډک خر مخ په کلي را تاو شو.

نور یاد ته نه راځي. زما لاس کې د «آدمخان او درخانۍ» وړوکی کتابګوټی و. زه تر وچ لمر لاندې، په سپېرو خاورو کې تر هغو ناست او پروت وم، چې چا را غږ کړ: «انوره! ژر شه چې «آبا» دې راغی!»

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې پسې بله پېښه وشوه، بله وشوه...ما «دختر یتیم»، «دختر همسایه»، «جنایت بشر»...فارسي ناولونه په خپله ماته ګوډه فارسو لوستل او لا نور له محمد عزیز بنجاره تر لاسه کول. زما مخه مکتب ته شوې وه، خو دا ورمه مې تازه تجربه کوله، چې د ولس بدلولو لپاره سره او شنه او تور اورلن انقلابونه له لارې را ورسېدل. نو زه چې تازه د حروفو په هندسه کې لارې ته شوی وم، د ایډیالوژۍ وبا ووهلم. لس دولس کلونه وشول چې ما ځان په دې دوزخ کې پردی وپېژاند او را ووتم، چې د کلام په سمندر کې یو سپین غسل وکړم. خو لاره او آواره او د غره څوکې دومره د «بل» بدلولو «اصلاح کولو» فکر پرسولې او رنګ کړې وې، چې ښایسته وخت تېر شو، ترڅو اوسنی «زه» مې زوکړه وکړي.

سمندر د لمر لوېدو پر مهال زه همدغه یم. د «دوه زره نوي یم کال» له کیسه ییزو طنزونو سره د لیکوالانو په لیکه پسې راشین شوم. «زرګره او زر لاسی کوډګر»، «بنیادمان»، «په کور یو لېونی» دري پښتو ناولونه او «غږ چینه» ادبي- عرفاني نثرونو ټولګه هم زه وم، چې خپل اصیل «زه» مې لټاوه. تازه مې فارسي ناول «دوازده بال» هم چاپ شوی؛ خو زه تازه خپل د زیږون «ختیځ» ته رسېدلی یم. خدای خبر څومره کاغذونه به کمیس او پرتوګ پر ځان زاړه کړم، ترڅو خپل اصیل برخلیك وځلوم.

خو که محمد عزیز بنجاره نه وای، زه به دغه پوړۍ هم نه وم. یاد یې دومره را په کې شین پاتې دی، چې د لیکنې پیل مې پر هغه و. ۱۹۸۲ کال و. د پوهنتون له زده کړو سره مې یوه د سلو پاڼو کتابچه د محمد عزیز په باب ناول ته بېله کړه. کتابچه ډکه شوه، خو نه چاپ شوې او نه له ما سره شته!

زه او زما نسل چې د «بل» بدلولو انقلابي جنګ پیل شو، نو داسې مو شپه په پردي کور شوه. زه پېښور کې پروت، له بي بي سي راډیو سره د ماشومانو لپاره په ډرامه لیکلو او پروګرام جوړولو شوم. د تخت سرې چې بدل را بدل شول، زه هم د کلیو پراختیا وزارت او څو نورو ادارو سره د رسنیز سلاکار او ویندوی په توګه په کار شوم، تر څو سیمه‌ییزو اورګانونو اداري ته را ولوېدم؛ دمګړۍ د فرهنګ، ټولنیزو او...

(c) ketabton.com: The Digital Library

چارو کارپوه! په توګه ساه باسم او لګیا یم چې په کتاب لیکلو سره ټول ځان ننداريې ته وړاندې کړم.

«پرماشومانو کار کول» ډرامه د «حسن» په نوم یو د یوه ماشوم هلک ژوند انځوروي، چې پلار یې له ښوونځي راګرځولی او بازار کې ورباندې اخبارونه، پرتوګاښونه او پلاستکي کڅوړې پلوري. حسن ټوله ورځ بازار کې ناريې وهي او د ښوونځي له خوا ورکړل شوی کورنی کار نشي سرته رسولای. پای کې د حسن پلار ښوونځي کې په چوکېدارۍ نیول کیږي، له دې وروسته حسن هره ورځ خپل ښوونځي ته ځي.

## محمدعارف (ننګیار نااشنا)

محمدعارف (ننګیار نااشنا) د فضل الرحیم زوی، د میدان وردګو ولایت د نرخ ولسوالۍ د کریمدادو سیمې اوسېدونکی دی. د ۱۳۳۸لمریز کال د وري د میاشتې په لومړۍ نېټه زیږېدلی دی، په ۱۳٤٦ل کال د نرخ عالي لېسې په لومړي ټولګي کې شامل شوی او تر دوولسم ټولګي پورې په لومړۍ او دوهمه نومره بریالی شوی دی. په ۱۳۵۹ل کال پاکستان ته په هجرت مجبور شو، په ۱۳٦۵ل کال په پېښور کې دآزادۍ جریدې د پښتو برخې د مسوول په حیث په فرهنګي کار یې پیل کړی دی، چې بیا یې په ۱۳٦۸ل کال د شهادت ورځپاڼې د لیکوالو د شورا د غړي په حیث او ۱۳۷۱ل کال کې د شهادت ورځپاڼې د استازي په حیث په کابل کې کار کړی دی، بیا یې د طالبانو په دورې کې د میدان وردګ مرکز ته نږدې د خالد بن ولید په عالي لېسه کې د تاریخ مضمون د استاد په حیث درې نیم کاله دنده تر سره کړې ده، چې په ۲۰۰۲ م کال د آزادۍ راډیو د «ګوړې اچار» د خپرونې د لیکوال او پروډیوسر په حیث کار ته دوام ورکړی دی، د دې کارونو تر څنګ یې د طنزونو دوه ټولګې چې «هو صیب! نه صیب!» او «تخنوم دې» په نومونو چاپ شوي، د مختلفو اخبارونو او مجلو سره لیکنې همکاري هم کړې ده، لکه: شفق مجله ،آزادي ورځپاڼه، شهادت ورځپاڼه، النور

(c) ketabton.com: The Digital Library

جریده، هیله مجله، ګوربت مجله، زنبیل غم مجله، ښاخئ مجله، صبا مجله، مړونـد مجله سره یې کار کړی دی. د ښوونځي له نهم ټولګي څخه یې په لیکلو او شعر ویلو پیل کړی دی، چې تراوسه یې بې شمېره سیاسي مقالې، د اخبارونو سرمقالې او نبـوي لنډې کیسې، ادبي ټوټې، طنزونه او شعرونه د مختلفو مجلو او ورځپاڼو لـه لارې څخـه نشر شوې دي.

د راډیویي ژورنالیزم په ډګر کې یې څه بانـدې ۱۱ کاله کـار کـړی دی، چـې لـه هغې جملې نه د یوه طنزیه خپرونې د لیکوال او پروډیوسر، د یوه راډیویي ډوله سریال (د شمسو کیسې) چې ۲۴۰ برخې یې له آزادئ راډیو څخه نشر شوي دي.

د لیکوال د طنز بېلګه:

## کرایي کور

لومړنی سړی و چې په دومره لږو او اسانه شرطونو یې په مناسبه کرایه کـور راکـړ. په څلور زره افغانیو په دوهم پوړ کې درې داسې کـوټې چـې کړکیـو یـې ښیښـې نـه درلودې او په دېوالونو یې د بارانونو راڅڅېدلو اوبو لـه چتـه تـر غـولي پـورې روښـانه لارې جوړې کړې وې او په زړو دستکو کې یې د غومبسو یواځې دولـس ځـالې وې، د کورونو په اوسنۍ ګرانۍ کې ډېر ارزانه کور و. ځکه د بـامونو کـاګلول، د دېوالونـو سپینول او کړکیو ته د ښیښو ایښودل په هغو شرطونوکې، چې د کور له خاوند سره مې منلي وو، نو په دې حساب یې داسې وګڼه چې نه یې بامونه څڅېدل، نـه یـې د کړکیـو ښیښې ماتې وې او نه یې په دېوالونو د باران اوبه راغلې وې، د غومبسو ځالې خـو زمـا ماشـومانو پـه هماغـه لـومړنۍ ورځ د سـاعتیري لپـاره پـه بوټونـو وویشـتلې او راویـې غورځولې.

د کور خاوند چې خپل شرطونه په یوه کا غـذ کـې لیکلـي وو، رابانـدې لاسلیک کړل، د شرطونو دغه لیست ډېر اوږد نه وو، خو د هر شرط جزونو لست اوږد کړی و، مثلا یو شرط یې دا و چې ډېر مېلمانه به کور ته نه بیـایم، خـو دغـه شـرط جزونـه ډېـر درلودل چې یو شمېر یې په دې ډول وو: د شپې له خوا به هېڅ ډول مېلمه کـور تـه نـه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیایم، ښځینه مېلمنې په هغه صورت کې کور ته بوولی شم چې ځوانې وي، ځکه زړې ښځې ډېرې غرېږي او زیاتره یې د ټوخي ناروغي لري، که مې چېرې خپل کور ته بووه، باید یوه ورځ مخکې د کور له خاوند نه اجازه واخلم، د کور د خاوند مېلمانه باید زه هم مېلمانه کړم، ترڅو د کور خاوند خپلو مېلمنو ته کم رانشي، په مېلمستیا کې باید داسې خواړه پاخه نه کړم چې بوی یې لاندني پوړ ته ولاړ شي او د کور د خاوند د ماشومانو زړه ورته وشي، که داسې وشول، نو باید برخه یې هرومرو ورولېږم. مېلمه باید نصواري، چلمي او سګریټي نه او په دې ډول څو نور جزونه هم وو.

دا چې په ټول ښار کې په دومره اسانه شرطونو او کمه کرایه بل کور نه پیدا کېده، نو مجبور وم چې په ډېره خوشحالۍ کده راوړم او په کور کې ځای په ځای شم.

د لومړي شرط په بنسټ مې په لومړۍ ورځ کړکیو ته ښیښې راوړې او وروامې چولې، په دوهمه ورځ مې بامونه کاګل کړل او په درېیمه ورځ مې د کوټو دېوالونه سپین کړل. په لست کې لیکل شوي شرطونه او د هغوی جزونه مې هره ورځ څو کرته په مېرمن او ماشومانو ګردانول، ترڅو په ناپوهۍ کې د شرطونو خلاف کوم کار ونه کړي او له دغه خدای (ج) راکړي نعمت نه مو محروم نه کړي، همدا ډول مې د لست یوه، یوه کاپي هم په کوټو کې راځوړنده کړه.

اووه ورځې مو په خوشحالۍ سره تېرې کړې، خو په اتمه ورځ چې له دفتره کور ته راغلم، په انګړ کې د کور خاوند راوګرځولم او په غوسه یې راته وویل: په رښتیا چې بې کوره خلك د کور په قدر نه پوهېږي او کرایي کور ته د کنډوالې په نظر ګوري. ما یې چې په ډېره عاجزۍ د علت پوښتنه وکړه، نو د کور خاوند شرطونو لست راته ونیوه او ویې ویل: ته دغه د څلورم شرط اتم جز ولوله، د څلورم شرط په اتم جز کې داسې لیکل شوي وو: د کالیو د ځوړندولو لپاره به په دېوال کې له دوه اینچه غټ میخ نه ټکوهم.

د شرط په لوستلو سره هغه نور هم ببر شو او ویې وویل او تا د نرځوی په دېوالونو کې څلور اینچه مېخونه ټکوهلي دي، تا ته دما کور د مړي مال ښکارېده که څنګه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

او بیا یې زیاته کړه، څه ورشه! ښځه او ماشومان دې له کډې سره د سړک په غاړه درته انتظار دي، کالي، کیڅړي مې په ښه احتیاط ورسره راوویستل، تاسې په سړیتوب نه پوهیږئ.

## لینا شریفي

اغلې لینا شریفي د جګړن محمدشریف خان لور، د میدان وردګو ولایت د مرکز میدان ښار د نایبانو د کلي اوسېدونکې ده، خو دا په خپله کابل کې زیږېدلې ده.

لومړنۍ او منځنۍ زده کړې یې په ترتیب د کابل د پاینده محمد شهید او د طالبانو تر واکمنۍ وروسته په الفتح لېسه کې ترسره کړي، د لېسې دوره یې د پېښور په خدیجة الکبری ښوونځي کې بشپړه کړې ده.

په ۱۳۸۳ کال کې له خپلې خوښې سره سم د کانکور د ازموینې له لارې د کابل پوهنتون د ژورنالیزم پوهنځي ته بریالۍ شوه او د دغه پوهنځي د مطبوعاتو له څانګې فارغه شوه.

لینا شریفي د لوړو زده کړو له هماغه پیله د ازادې اروپا، ازادۍ راډیو د کابل په دفتر کې د ویاندې، خبریالې او پروډیوسرې په توګه کار کړی او تراوسه هم همدې راډیو ته کار کوي.

دا د ځوانانو او ښځو د خپرونې جوړوونکې پاتې شوې ده.

لینا شریفي کله ناکله ځینې ادبي لیکنې، لنډې کیسې او مقالې هم لیکي، خو ځان لیکواله نه بولي او تر ډېره غواړي چې خلک یې د خبریالې په توګه وپېژني.

**د لیکنې بېلګه**

**د نوامبر شلمه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مور په غېږ له درانه خوبه راپاڅېد، په ځای کېناست، سترګې يې چې له خوبه بېرته سره ورتلې، په دواړو موټو ومښلې، زړه يې غوښتل لږ نور هم ويده شي، خوله يې وازه وازه کېده، لاسونه يې چت ته جګ کړل، خپله شخي يې ووېسته. سترګې يې د بړستنې درې نورو خواوو ته په خپلو خوينـدو، ورونـو ولګېـدې چې وران وران د ماشومتوب په خواږه خوب ويده وو، زړه يې نه کېده چې پښې له بړستنې راوباسي او پاڅيږي، خو د مور بېګانۍ خبره ورپه ياد شوه چې ورته ويلي يې وو:

سهار ته ډوډۍ نده پاتې، ماشومان به څه خوري؟

اوچته راپاڅېد، د اورسۍ مخې ته ودرېد او د ښيښو پر ځای اورسۍ ته له کلک شوي پلاستيک نه يې د بهر کتو هڅه وکړه، څه ورته ښکاره نه شول، يوازې د پلاستيک له کړپ و کړوپ نه پوه شو چې بهر باد لګيږي. بدن يې ورپېږدېد، ساړه يې وشول، خو چاره نه وه، بايد خپل کار پسې تللی وای.

د وره پرڅای پرته درنده پيوندي پرده يې بېرته کړه، دهلېز ته ووت، خپلو پلاستيکي څپلکو ته يې پام شو چې دواړه سره شلېدلې وې، ان پرون لا په سختۍ په کې ګرځېده، زړه کې يې دا پوښتنه تېره شوه چې:

نن به مې په کې تېره شي؟

څپلکه يې شاوخوا ښه وکته، پښې ته يې کړه او له ځان سره يې وويل:

څه نن مې په کې تېرېږي، که بيا وشلېده، يو پلاستيک ملاستيک به ترې راتاو کړم...

د نورو ورځو پر خلاف د اسمان مخ تورو ورېځو پوښلی و، د دوی د جونګړې تر څنګ د دوه پوړيز کور له دودکشه د راوتونکي دود بوی، باد د ده تر سږمو رارساوه او ده ته يې د هغو کيسو د شهزاده ګانو او شهزادګيومانۍ ورپه زړه کولې، چې پلار به يې هغه وخت چې ژوندی و، هره شپه د خوب پر مهال ورته کولې...

(c) ketabton.com: The Digital Library

اورسی ته د کلک شوي پلاستيک پړ کېدو، دی د شهزاده ګانو او شهزادګيو له ماڼيو بېرته خپلې کنډوالې ته راووست. د اورسۍ مخې ته يې پرته زړه ټوټه چې يو وخت يې د مور کميس و، راپورته کړه، له يوې څنډې يې اوږده ريښکۍ ووېسته او د ښۍ پښې غټه ګوته يې چې پرون يې له چاودې وينې راوتلې وې، پرې وتړله، نوره يې تر لاس تاو کړه او د ښار په مقصد رهي شو.

×××××

لمر د تورو ورېځو تر شا ايسار و، اټکل يې نه شو کولی چې څو بجې به وي، خو په نس کې يې د لوږې اور، بل و، پوه شو چې د غرمې شاوخوا به وي. له سهاره يې څو سرکونه ګز و پل کړي وو، د ډېرو کروزينونو، لنډکروزرو، کرولاوو او ټکسي موټرو په ښيښو يې صافي تېره کړې وه، خو چا څه نه وو ورکړي، د موټرو د بندو ښيښو تر شا ناستو سورليو ان د ده غږ نه وو اورېدلی چې د خپلو وږو خويندو ورونو د لوږې شکايت يې ورته کاوه.

ده سهار له خپلې مور سره، کله چې د سوال لپاره يې خپله سولېدلې، سورۍ سورۍ چادري په سر کوله او وته، ژمنه کړې وه چې تر غرمې به د څو وچو ډوډيو پيسې ګټي او د خپلو خويندو ورونو ګېډې به مړوي، خو تراوسه يې څه لاس ته نه وو راغلي.

د سرکه ترخوا ودرېد، لاسونه يې د تودېدو په هيله خپلو ډنګرو تخرګو کې ومنډل، وچې شونډې يې له سړو ريږدلې، د پزې اوبه يې ژر ژر پورته کشولې، په نااميده ماشومو سترګو کې يې ډوډۍ ته د څلورو په تمه څېرو، څېرې غړېدې، چې په بې صبرۍ د ده د راتلو لارې څاري... له خپلې بې وسۍ نه يې په سترګو کې اوښکې راډنډ شوې او څاڅکي څاڅکي يې کرختو پښو ته تيتې شوې.

×××××

بيا سرک ته شو، د څو موټرو ښيښې يې ومښلې، په ژړغوني غږ او زاريو يې د ښيښې تر شا له موټر چلوونکو څخه د مرستې غوښتنه وکړه، خو يوازې د نه په مانا له

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر ښورولو سره مخ شو. یو ځل بیا نهیلی شو، نور یې خپله ژړا په واک کې نه وه، لوړې له یوې خوا او له خوینډو ورونو سره د ډوډۍ د راوړلو ژمنې له بلې خوا ځوراوه، په سترګو یې ورو ورو تیاره راخپرېده، له ځانه یې بیا بې ځوابه پوښتنې پیل کړې:

اوس به د وړو څه حال وي؟

بېګا ته به مې مور ته څه ځواب وایم؟

له سړو کرخت د پیاده رو په لور روان شو، د تلو وس یې په پښو کې نه و پاتې، نور نه پوهېده چې په ځمکه روان دی که په هوا، نور یې په خپلو چاودو چلمو لاسو د مخ او پزې اوبه نه شوای پاکولی، ورو یې په پیاده رو کې یوې اوچتې پایې ته چې یوه ټوټه ترې راځړېده، ډډه ووهله او کېناست.

سترګو یې نور په سرک د موټرو توپیر نه شو کولی، یوازې یو کتار ورته ښکارېده....

×××××

څو شېبې وروسته په پیاده رو کې، د پایې تر څنګ دولس دیارلس کلن ماشوم چې لاېې خپله صافي کلکه په موټي کې نیولې وه او سر یې په سرک د موټرو خوا ته کوږ کړی و، لکه چې دومره ښکلو او ګران بیه موټرو ته په حیرت تللی وي، غونج منج پروت وو او پر سر یې د مني مازدیګرني سوړ باد له پایې راځړېدلې هغه سپینه ټوټه لکه د شهید توغ رپوله چې په سره رنګ پرې لیکل شوي وو:

«د نوامبر شلمه له ماشومانو سره د تاوتریخوالي د مخنیوي نړیواله ورځ»

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د موضوع په اړه لنډه مناقشه

په تحقیقي مسایلو کې هره موضوع د سپړلو او څېړنو بېلابېل اصول لـري، فرهنګـي مسایل هم له هغو څخه یـوه موضوع ده، چـې د څېړنـې ځـانګړې او مشخصې لارې چارې لري.

د میدان فرهنګي حوزه، چې زما د تېزس موضـوع ده، تـر دې د مخه پـه تحقیقـي ډول نه ده څېړل شوې، له ډېرو هڅو سره سـره، هـېڅ ډول تحقیقـی اثـر پـه دی اړه پـه لاس نه دی راغلی، ځکه نو دغه موضوع هم نوې او بکره ده، خو له ډېرو ستونزو سـره مله وه، یو له دغو ستونزو څخه د ادبي او فرهنګی فعالینو په هېواد کې دننـه او بهـر تـه کډه کېدل دي، چې له خپلې سیمې او ټولنې څخه د بېلابېلو حالاتو له امله تللـي او ان ځیني یې له خپل فرهنګ او ټولنې څخه سره د اړیکو پرېکېـدو پـه درشـل کـې دي او که دغه لړلی دوام وکړي، نو ډېر ژر به له خپل فرهنګ، دود او دستور سره خـدای پـه اماني وکړي. نو ځکه یې بیا ژوندي کولو کـې تـه نـه دولـت او نـه هـم ملـي سـوداګر پاملرنه نه کوي، نه له دغې چارو سره خپله علاقه ښیي، زموږ چارواکی دغه موضوع ته په هېڅ ډول پاملرنه  نه کوي، همدا سبب شوی، چې لیکوالان هم دغـه موضـوع څخـه خپله اوږه خالي کوي، چې لامل یې هغه اثر چې لیکل شوی، لیکوال خپـل ټـول ژونـد ورته وقف کړی، څوک یې چاپولو ته پام نه کوي، ځکه خو په دې هکله هـر څـه پـه هیڅ حساب دي، کوم څه چې موږ دلته را ټول کړي، کېدای شـي ډېـرې نیمګړتیـاوې به ولري، خـو لـه ټولـو هغـو د قلـم خاونـدانو، لیکوالانـو او څېړنکـو څخـه چې دغـو موضوعاتو سره مینه لري، عملی ګام اوچت کړی او هغه څه چې له منځ تللـو پـه حالـ کې دي، بیا را ژوندی کـړي، دغـه فرهنګـي حـوزې تـه پاملرنـه کـول بـه د هغـه سـتر فرهنګي یرغل مخه ونیسي، کوم چې د ګاونډیو هېوادونو له خوا دغې سیمې تـه د یـوه ستر ګواښ په ډول مخامخ دي. هیله ده چې زما دغه څېړنه په دغې برخه کې دلیکوالو پاملرنه دا شان موضوعګانو ته را وګرځوی. خو د یـوې خبـرې یادونـه ضـروري ګـڼم،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه دا چې په دغې برخه کې د پوهنتون محصلینو هم ځینې لومړني ګامونه اوچت کړي او د اوسنی دورې ځینې شاعران یې په لنډو کې یاد کړي دي، چې باید له پام او یاده ونه غورځول شي.

په پاي کې باید ووایم چې فرهنګ خورا ستره او پراخه موضوع ده او څېړنه یې خورا ستونزمن کار دی، چې ډېر وخت او دقت غواړي، که له ما څخه څه سهوه یا تېروتنه شوې وي، بخښنه غواړم او اړونـد وړاندیزونه به په پام کې ونیسم چې په راتلونکی متن کې به یې ځای پر ځای کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پایله

د  میدان فرهنګي حوزې په نوم دغه کتاب مې د ماسټرۍ پروګرام د بشپړولو په موخه د تېزس په توګه د خپل لارښود استاد پوهنوال ښاغلي محمد رفیق له لارښوونې سره سم ولیکه.

د میدان د فرهنګي حوزې اړونده دغه موضوع مې په سرخبرو، سریزې او اووه برخو کې راغونډه کړې ده. سریزه له موضوع سره تړلې او د کتاب یوه برخه ده، میدان وردګو ولایت جغرافیاوي موقعیت، د میدان په سیمه کې د پخوانیو او وروستیو علمي، فرهنګي، کلتوري، دودویزو او ادبي خوځښتونو او پرمختګونو په اړه د معلوماتو لنډیز په کې وړاندې شوی دی. په سریزه کې همداراز ویل شوي چې کوم لامل د دغه اثر کښلو ته وهڅولم او یا د کومې اړتیا له مخې مې دغه کار ته ملا وتړله او هم دا چې د علم او فرهنګ په بڼاینه کې یې ونډه څه ده.

له سریزې وروسته د کتاب لومړۍ برخه د یادې سیمې جغرافیاوي څرنګوالی، کلتور، دود او د تاریخي پس منظر ته ځانګړې شوې ده. په دغې برخه کې د میدان وردګو ولایت په هکله په لنډ ډول جغرافیاوي موقعیت، مهم کرنیز محصولات، کانې ډبرې او تاریخي سیمې پېژندل شوې دي. په دویمه برخه کې د میدان سیمې د کلتور، دود، رواجونو او یو لړ نورو خواوو په هکله په تاریخي توګه خبرې شوې دي.

همدارنګه د کتاب په دریمه برخه کې د میدان وردګو ولایت شتو علمي، فرهنګي او ادبي ټولنو په هکله معلومات وړاندې شوي دي. په دغې برخه کې په دې اړه خبرې شوي چې دغه ټولنې په یاده سیمه کې څه وخت رامنځته، د چا له خوا یې د مشرۍ او نورې چارې پر مخ وړل کیږي، څومره کسان په کې ونډه اخلي او یا د کار ساحه یې څه ده او همداراز د یادې سیمې د علمي او فرهنګي برخو لوړتیا ته څه ګټه لري. همداراز د لومړنیو ادبي او فرهنګي ټولنو په رامنځته کېدو او یو لړ نورو خواوو په تاریخي توګه خبرې شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورمه برخه د میدان په سیمه کې د مطبوعاتو او فرهنګي ادبي کارونو د لومړنیو چاپي خپرونې په اړه معلومات لري او د رامنځته شوو او موجودو ټلویزون، راډیوګانو او چاپي رسنیو په اړه بحثونه لري او د هغوی د بېلا بېلو اړخونو په اړه اړین معلومات وړاندې کوي. په دغې برخه کې د یادو رسنیو پر کمیت، څرنګوالي، د هغوی پر مسوولینو او نورو خواوو لنډې خبرې شوې دي.

د پنځمې برخې موضوع دغې سیمې کې د منې ګل تر نامه لاندې مشاعرې جوړېدل دي، چې د یو زیات شمېر فرهنګپالو پاملرنه یې دغه ولایت ته رااړولې ده. د مشاعرې د تاریخي پس منظر لنډ جاج هم اخیستل شوی دی.

د شپږمې برخې موضوع د دغې سیمې چاپي اثار دي، په دې برخه کې ډېری هغه علمي، فرهنګي او ادبي اثار معرفي کیږي، چې په وروستۍ لسیزه کې یوازې د میدان وردګو مېشتو لیکوالو، شاعرانو او فرهنګي فعالینو څخه سربېره د هېواد د نورو لیکوالو له خوا لیکل شوي، د میدان وردګو ولایت د فرهنګي کمېټې او د منې مشاعرې په ویاړ په اړونده سیمه کې چاپ او خپاره شوي، چې د دغسې کتابونو شمېر له څلوېښتو ټوکو څخه لوړ دی.

په دغو اثارو کې بېلا بېل منظوم او منثور ادبي او فرهنګي اثار موجود دي، چې دلته یې په اړه لنډ او کافي معلومات وړاندې شوي دي.

د دغه کتاب اوومه یا وروستۍ برخه د نورو برخو پر خلاف یوه لویه ساحه راچاپېروي او د میدان د سیمې د لیکوالو، شاعرانو، هېوادپالونکو او فرهنګي فعالینو پېژندنې ته ځانګړې شوې او د د غو کسانو په اړه لنډ او کافي معلومات وړاندې شوي دي. په دغې برخه کې د یوه لیکوال او شاعر له پېژندنې سربېره د ډېری شاعرانو شعري بېلګې هم راوړل شوې دي.

لکه څنګه چې د دغه کتاب په وړاندینیو برخو کې یادونه وشوه، چې دغه کتاب مې د ماسټرۍ پروګرام د بشپړولو په موخه د تېزس په توګه د خپل لارښود استاد پوهنوال ښاغلي محمدرفیق رفیق له لارښوونې سره سم ولیکه، تر اوسه په دې اړه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې یوه کتاب له چاپه نه یو خبر شوي، چې په میدان سیمې کې د پخوانیو او وروستیو ادبي او فرهنګي پدیدو او حالاتو په اړه داسې په یو ځایي توګه معلومات په کې وړاندې شوي وي. د میدان سیمې فرهنګي حوزه د افغانستان د ګوتو په شمار او هغو مهمو فرهنګي حوزو څخه شمېرل کیږي، چې د دغه هېواد د نورو سیمو په پرتله په کې په لنډه موده کې زیات فرهنګي او ادبي خوځښتونه تر سترګو کیږي، نو پر همدې اساس که څوک وغواړي چې په افغانستان کې د پخوانیو او وروستیو ادبي او فرهنګي حالاتو په اړه څېړنه وکړي، نو د میدان سیمې ادبي او فرهنګي حوزه یې د کار مهمه برخه جوړوي، چې دغه کتاب ورسره په دې برخه کې ښه مرسته کولای او د هغه کار اسانولی شي. دا هم منم چې دغه کتابګوټی به هم له کمي او کیفي پلوه له یو څه نیمګړتیاوو خالي نه وي، خو هیله مې دا ده، چې له دغو تشو سره سره زمونږ دغه کار د پښتني او افغاني فرهنګ په بډاینه او پر مختیا کې له موږ سره مرسته وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پای پایله

دمیدان فرهنګي حوزې په نوم دغه کتاب مې د ماسټرۍ پروګرام د بشپړولو په موخه د تیزس په توګه د خپل لارښود استاد پوهنوال ښاغلي محمد رفیق له لارښوونې سره سم ولیکه.

ما دخپلې څېړنې په بهیر کې هڅه کړې چې موضوع د منل شویو معیارونو او څېړندودونو په رڼا کې وڅېړم. ددې څېړنې له بشپړولو څخه چې کومه پای پایله تر لاسه شوې دلته به په لنډیز سره یادونه وشي.

دمیدان ښار فرهنګی حوزه چې دهلو ځلو، کوښښونو او په نسبي توګه د ارزښتمنو لاس ته راوړنو نتیجه ده دلته دبحث وړ موضوع ده.

دمیدان ښار فرهنګی حوزه چې تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې بېلابېلو پوهانو په کې ژوند کړی او خپلې ټولنې په فرهنګی،ټولیزو او اقتصادی برخو بېلا بېلې لیکنې کړی دي او انسانونو لپاره د خدمت جوګه شوې دي او سوکاله ژوند لپاره یې ډیر زیات اسبابونه له ځان سره راوړی تر څو چې دغه ټولنه له نورو سره سیالې وکړی.چې له ډلې څخه زه دلته مرحوم داکتر عبدالوکیل او غلام محمد فرهاد نومونه بسنه کوم چې هر یوه خپل ځای کې دغې ټولنې سترو سترو خدمتونو جوګه شوې دي. زما ددغې لیکنې د بحث محوري موضوع ددغې سیمې فرهنګی وضیعت او حالت دي .

په دې اثر کې ددې سیمې کلتوری او فرهنګی پیاوړتیا باندې څه نا څه بحث شوی دی او همدا شان زیار ایستل شوی دی تر څو ددغې فرهنګی حوزی ښه پېژندنه وشي، یعنې ده خپلې ژبې خپل فرهنګ او خپلو ادبی شخصیتونو او څیرو سره تر یوه حد اشنای پیدا کړو او همدا رنګه کوم کوم اثار او ټولنې چې په دغه کړکیچنو حالاتو کې رامنځ ته شوی لړو ډېر په تفصیل سره توضیحات راغلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سر خبرې څخه پیل ورپسی د موضوع ګانو لړ لیک د څیړنی میتود سریزه د موضوع شالید د ولایت اداری شالید او بیا موضوع په اتو(۸) برخو کې تر بحث لاندې نیول شوی ده.

لومړۍ برخه کې د یاد سیمی جغرافیاوی ، مساحت، **کانونه،** تاریخي پس منظر ، میدان وردګو ولایت کی د فرهنګی هڅو تاریخی شالید (پس منظر)، د میدان وردګو ولایت اداري شالید ته لنډه کتنه او په بېلا بېلو دورو کې د دې ولایت والیان په هکله معلومات را غونډ شوی دی. په دویمه برخه کې تاریخی ځایونه او د الغتا لرغونې نښې په هکله لنډه توګه یادونه شوی ده. ورپسې په دریمه برخه کې د میدان سیمې د کلتور ، دود او روجونو لکه جرګه، مرکه، ننواتی، تیزی کیښودل، پلو غوټه کول او ټولنزو دودنو په هکله معلومات ورکړل شوی وي.

په څلورمه برخه د میدان سیمې کې شتو علمی، فرهنګی او ادبی ټولنو په هکله معلومات وړاندې شوی دی. په پنځمه برخه کې د میدان په سیمه کې د مطبوعاتو او فرهنګې ادبی کارونو د لومړنیو چاپی په اړه معلومات یو اړه لنډه معلومات را غونډ شوی دی.

شپږمه برخې موضوع مشاعرې لنډه تاریخچه او منې ګل مشاعرې او هغې ښې پایلی په دغې سیمی باندې څېړل شوی دی. په اوومه برخې موضوع ددغې سیمی چاپی اثار چې زیاتر ادبی اثار دی، د مطالعی لپاره تر ډیره حد زمینه برابر کړلی ده په ډېر لنډ ډول در پېژندل شوې دي. ددغه کتاب اتمه برخه چې د نورو برخو په پرتله یوه لویه برخه را چاپیروی، ددغې سیمی د فرهنګی، ادبې، اجتماعې او پېژندل شوې څېرو ژوند لیک ادبی فعالیتونو، ادبی اثار ، د هر لیکوال او شاعر د اشعارو یوه یوه بیلګه را ولاړل شوی ده او په پای کې هغو شخصیتونو چې لوړو غوره او نه هېرودونکې خدمتونه خپل هېواد، اولس او ټولنې ته کړی دي او د نورو له خوا ددوې نېکو صفات او ښه اخلاق ستایل شوې دي په لنډو ټکو یادونه شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغه څېړنيز اثر ساحوی او تشريحي بڼه لري او هغې اړتيا له مخې چې محسوسېده د مشرانو او پوهانو دپرېکړې له مخې ليکنې بڼه تر لاسه کړه او هيله من يم چې ددغې سيمې د فرهنګ په غوړېدو کې نسبتاً جامع مأخذ په توګه ثابت شي او دنورو د استفادې لپاره ګټور واقع شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# وړاندیزونه

په دغه کتاب کې د میدان د سیمې پر جغرافیاوي، کلتوري، مطبوعاتو، ادبي او فرهنګي ټولنو، مشاعرو، شاعرانو ، لیکوالو او همدا راز په دغې سیمه کې پر چاپ شوو اثارو خبرې شوې او په بېلا بېلو برخو کې یې د دغې سیمې د پخواني او وروستي فرهنګي حالت په اړه معلومات راغونډ شوي دي.

موخه مو دا ده، چې زموږ دغه کار او زیار د پښتني او افغاني فرهنګ په لا غوړېدا او پراختیا کې ګټور تمام شي. موږ د دغه کتاب له لوستنې سره د میدان د سیمې د پخواني او اوسمهالي ادبي او فرهنګي حالت په اړه یو څه معلومات ترلاسه کولای شو او پوهېږو، چې د افغانستان دغه مرکزي سیمه د ادبي او فرهنګي لوړتیا له پلوه تر بل هر وخت مخ په بره روانه او په دې برخه کې د کار او زیار لېوالتیا زیاته شوې او ګڼ شمېر لیکوال او شاعران لري، خو دا په دې مانا نه ده، چې زموږ د فرهنګ، ژبې او ادب په برخه کې دغه کار کافي دی او ټولو هغو ننګونو ته دې ځواب ووایي، چې پښتني او افغاني ټولنه ورسره مخامخ ده. موږ یوازې په خپله سیمه کې د خپلې ژبې او فرهنګ د پراختیا او غوړېدا کار پیل کړی دی، چې هغه هم په ډېرو برخو کې له نیمګړتیاوو او کمي خالي نه دی، خو د نورو هېوادونو، ژبو او فرهنګونو فعالین هڅه کوي، چې د خپل ملي مالي لګښت پر مټو په نورو هېوادونو، ولسونو او فرهنګونو کې د خپل فرهنګ د ودې او پراختیا زمینې برابرې کړي.

سره له دې چې د یوې ټولنې علمي او فرهنګي پرمختیا د همغې ټولنې د فکري زیار محصول ده، خو دا خبره هم پر ځای نه ده، چې د یوې ټولنې فرهنګي، ادبي او ټولنیزه وده دې د همغې ټولنې د اقتصادي، سیاسي او ټولنیزو شرایطو له اغېز څخه په امن وي. پر همدې اساس په کار ده، چې د میدان د سیمې اوسنی ادبي او فرهنګي بهیر له غوره و نه ایستل شي او د دغه خوځښت د لا پراختیا لپاره تودې هڅې وشي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه خنډونه په ګوته شي، چې ددغه بهیر د کمزورتیا او ټکني کېدو لامل کېدای شي. د یادې موخې لپاره یو څو وړاندیزونه په لاندې ټکو کې رانغاړو:

**۱– دولتي پاملرنه:** د میدان سیمې د فرهنګي حوزې په لا ښه‌داینه کې تر ټولو دمخه دولتي پاملرنه اړینه ګڼم، هغه دا چې تر دې دمه د دولت له خوا لکه څنګه چې لازمه ده، توجه نه ده شوې، که دا لړۍ همداسې دوام وکړي، نو د روښانفکرو فکري مایه به تر ډېره د ژوند تر وروستیو پورې د دوی په سرونو کې واوسي او د دې لړۍ د کمزورتیا او ټکني کېدو لامل به شي. د بېلګې په توګه یو لیکوال فکر کوي چا چې څه لیکلي هم دي، د چاپ زمینه نه ده ورته برابره شوې، چې زه به یې له کومه کړم، پایله دا چې بالاخره خپل هغه وخت چې د اثر په لیکلو تیرېږي، په کوم بل کار تېر کړي.

همداراز دولت کولای شي په یاده سیمه کې د اثارو پر چاپ او خپاروي سربېره هغه توکي او اثار چې د میدان مېشتو لیکوالو اړتیا وي، د دوی په واک کې ورکړي. له بلې خوا دولت باید د دغو فرهنګي فعالینو لپاره په اړونده سیمه کې د کلیو سترو مشاعرو، د سترو او مخورو لیکوالو او شخصیتونو د نمانځغونډو، ګڼورو او سمون راوړونکو ورکشاپونو او نورو فرهنګي ناستو لپاره زمینه برابره کړي او لګښتونه یې د دولت له ملي بودیجې څخه ورکړل شي. په لنډه ویلی شو، چې د دولت له اړخه به په دې او دې ته ورته نورو برخو کې پاملرنه دغه بهیر نور هم چټک او ګرم کړي او د کار ساحه به یې هم ښه والی او پراختیا پیدا کړي.

**۲– د رسنیو د کار شېوه:** د میدان ولایت شتو رسنیو کاري شېوه هم په دې برخه کې لویه ونډه لرلی شي، هغه دا چې که د دغې سیمې بېلابېلې تصویري، غږیزې او لیکنیزې رسنۍ په دې اړه په زړه پورې او ګڼور پروګرامونه ترتیب او وړاندې کړي، نو په پایله کې یې اړین څه تر لاسه کېدای شي. د یادولو ده، چې د میدان ښار رسنیو په دې برخه کې او د دغه اوسني بهیر په وده کې تر بل هر څه پر ځای او وړ رول لوبولی دی، خو بیا هم په کار ده چې کافي یې ونه ګڼو او د نوښتونو پر بنسټ داسې پروګرامونه ترتیب او وړاندې کړي، چې له ځوان ادبي او فرهنګي نسل سره د نوښتون

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پېژندنه، د کار په سمون، د بهرنیو او نورو ژبو د ادبي پدیدو په ورښودنه او د لیکوالو په هڅونه کې تر دې هم زیاتې لاسته راوړنې ولري.

**۳- د علمي او فرهنګي موسسو ونډه:** هغه علمي او فرهنګي موسسې چې د میدان په سیمه کې شتون او فعالیت لري، باید له محصلینو او زده کوونکو سره په میدان ښار کې د پخوانیو او وروستیو ادبي او فرهنګي حالاتو، اثارو او اشخاصو په اړه معلومات شریک کړي او له هغوی څخه وغواړي، څو د یادې موضوع په بېلابېلو برخو کې خپل مونوګرافونه او کورني کارونه ترتیب او ولیکي. دا ځکه چې د افغانستان د پوهنتونونو او علمي فرهنګي موسسو په درسي نصابونو کې تاریخي پېښو په اړه کره معلومات نه وړاندې کیږي. څرنګه چې په میدان سیمې کې روان ادبي او فرهنګي فعالیتونه د وروستۍ لسیزې محصول دي. نو که یوازې به نصابي پروګرام تکیه وشي، زده کوونکي به د میدان سیمې د ادبي حوزې په اړه له معلوماتو بې برخې پاتې وي.

**۴- پر شعر سربېره د نثر او ژباړې اړتیا:** په دغې سیمه کې که څه هم لیکوال یوازې د شعر تر بریده محدود نه دي پاتې شوي او ډېری دغه لیکوالان هم شعر لیکي هم نثر **او** هم په ژورنالستیکو چارو کې لاس لري، خو بیا هم د شعر برخه تر نورو هغو ډېره درنه ده، په کار ده چې په نورو ادبي او نثري ژانرونو کې هم د ځوانانو ونډه زیاته شي. ځکه یوازې شعر نه دی، چې په فرهنګي ډګر کې دې پرې حساب وشي، بلکې د ادب په برخه کې اوس مهال په نړۍ کې ځینې نثري ادبي ډولونو او ژانرونو ته پاملرنه زیاته ده، چې له دغې ډلې څخه یې لنډه کیسه، ناول او نور یادولی شو. موږ اړ یو چې د سالمې فرهنګي او ادبي ودې په موخه دغه توازن په پام کې ونیسو. پردې سربېره له نورو فرهنګونو څخه ژباړې ته زیاته اړتیا لیدل کیږي، که موږ خپلو ګاونډیو ژبو او فرهنګونو ته ځیر شو، د ژباړې په برکت یې په بېلابېلو برخو کې خپله ساحه پراخه کړې ده او د پخوانیو عنعنوي پوهنو پرځای یې اوسنیو نوو علمي اصولو او لارو چارو ته لاسرسی موندلی دی. په لنډه توګه ویلی شو، چې په ادبي او فرهنګي پر مختګ کې د کمزوري تخلیق پر ځای قوي ژباړه زیاته ونډه لرلی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**۵- د فرهنګي کارونو سمون:** د میدان په سیمه کې روان فرهنګي کار او زیار یو لړ سمونونو ته اړتیا لري، دې اړتیا ته په پام سره باید کره کتنې او ارزونې ته زیاته توجه وشي. په کار ده د دغې سیمې رسنۍ، ادبي او فرهنګي ټولنې او اشخاص د اوسنیو نوو تیوریو او اصولو په رڼا کې د لیکوالو او رامنځته کونکو فرهنګي او ادبي تخلیقات او تولیدات و ارزوي، ښې او کمزورې خواوې یې په ګوته شي او دغه دود ته په اړونده سیمه کې نوره هم پراختیا ورکړل شي، څو د دغه روان کار او زیار څخه هغه ګټه ترلاسه کړو چې موږ یې هیله لرو. همداراز په کار ده د کره کتنې او ارزونې کار هم له افراطه خالي او د نړیوالو نوو اصولو په چوکاټ کې ترسره شي. معنا دا چې دغه کار په داسې یوه شېوه ترسره شي، چې نه مو کمزوري او نوي شاعران او لیکوالان بیخي زړه توري او له پښو غورځولي وي او نه داسې چې د ښه او ناښه اثر په ارزونه او پېژندنه کې له پوهې بې برخې وو. په لنډه توګه ویلی شو چې د اثر له لیکوال سره دې هغه ته د نیمګړتیاوو پر ورښودنه کې د ماشوم په څېر له احتیاطه ډک چلند وشي، کټ مټ داسې لکه یوه ماشوم ته چې د هغه د ناروغۍ د له منځه وړنې په موخه په خوږه مربح کې ترخه دوا ورکول شي، چې هم جوړ شي او هم یې د خولې له تریخوالي څخه مخنیوی شوی وي. موخه دا چې لیکوال ته د کمزورتیاوو تر څنګ د هغه د اثر د ښو او پیاوړو برخو ستاینه او یادونه هم وشي، چې تر یوه څه ځایه یې د زړه تکیه پرې جوړه وي.

**۶- له ادبي او فرهنګي فعالینو سره د مالدارو او سوداګرو همکاري:** که د میدان د سیمې هغه مالدار او سوداګر، چې له ښه اقتصادي حالت څخه برخمن دي، ژبه، ادب او فرهنګ د ټولو شریک ګڼي او پرمختیا یې پر ځای او غوره کار بولي، نو د یادې سیمې له فرهنګي کړیو سره د د مرستو دود ته ارزښت ورکړي، څو په ځینو برخو کې یې مالي لاسنیوی شوی وي. که د دغې سیمې بډایه کسان په خپله د ادبي او فرهنګي تخلیقاتو د رامنځته کونې وړتیا یا وخت نه لري، له نورو سره د مرستې له لارې د ادبي او فرهنګي ننګې ویاړ ترلاسه کولای شي. مالي اړتیا د میدان سیمې د فرهنګیانو تر ټولو مهمه او مرکزي اړتیا ده، چې د دوی پرکار او زیار نېغې اغېزې لرلی شي. زما په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اند د دې پر ځای چې ځوک د خپلو تکراري او کمزورو شعرونو یو جونګ ولیکي، دا غوره ده، چې د بل شاعر د پیاوړو او ارزښتمنو شعرونو د ټولګې د چاپ لګښت ورکړي، نو فرهنګ او ژبې ته به یې تر خپل تخلیق ډېر ارزښتمن څه ورکړي وي.

که په نوموړې سیمه کې دغه دود پراختیا پیدا کړي، مالدار او سوداګر یې ژبنی او فرهنګي په شاتګ یوه ګڼه ننګونه وګني او په دې برخه کې خپل احساس پیاوړی کړي، لرې نه ده، چې دغه روان بهیر به ډېر ژر یوه نوي پړاو ته لاره ومومي.

**۷- د میدان مېشتو لیکوالو تر منځ د اړیکو او چلند شېوه:** په یاده سیمه کې د اړیکو چلند او شېوه هم د فرهنګي او ادبي بهیر اغېزمنولی شي. لیکوالو او فرهنګیانو ته په کار ده، چې د فرهنګ د لاغوړېدا په موخه تر خپل منځ له ناسالمو رقابتونو او سیالیو څخه ډډه وکړي. دا هغه بدبختي ده، چې په پایله کې یې سره زر په خاورو او خاورې په سرو زرو ناحقه بدلیږي.

سره له دې چې د میدان سیمې د لیکوالو او فرهنګي فعالینو ترمنځ به دا ډول ستونزې او بدبینۍ په دومره کچه نه وي، چې دلته یې د یوه وړاندیز په توګه یادونه وکړو، خو بیا هم دغه ټکي ته زیاته پاملرنه په کار ده، څو په ادبي او علمي ساحه کې خپلو شخصي او کلیوالي تربګلویو او قومي توپیرونو ته ځای ور نه کړل شي.

په یوه ټولنه کې سالم رقابت او سیالي پر ځای کار دی او د لیکوالو د وړتیاوو د زیاتېدو لامل کېدای شي. د بېلګې په توګه یو لیکوال دې د ځان لپاره ننګونه وګڼي، چې پلاني یو ښایسته ناول لیکلی او زه هم باید په ځان کې دغه وړتیا پیداکړم، خو نه دا چې هغه و نه کولی شي، نو د بل لیکوال په ناول پسې یې ناحقه راواخلي او کار او زیار یې بې ګټې او د وخت ضایع کول وبولي، څو له هغه سره یې د کړي ادبي کار کچه برابره شي.

**۸- د میدان سیمې د فرهنګي حوزې د بېلابېلو برخو ځانګړې څېړنه:** په دغه رساله کې د میدان سیمې د فرهنګي حوزې په اړه په څو جلا برخو کې خبرې او بحثونه ځای شوي، خو د هرې برخې د څرنګوالي په اړه وړ څېړنه نه ده ترسره شوې، لامل

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې ده دی، که دلته د يو چا پر ليکل شوي اثر  يا چاپي خپرونې او يا يوې ادبي ټولنې ژورې څېړنې ته ځای ورکړو او په ټولو خواوو يې وغږيږو، نو بل اثر، خپرونه او يا شخص به د لنډو معلوماتو له وړاندې کولو څخه هم پاتې شي. هيله کيږي زموږ د نورو ځوانو ادبي او فرهنګي فعالينو له خوا د ميدان وردګو د فرهنګي حوزې د موضوع په هره جلا برخه کې ځانګړي او ژور څېړنيز اثار وليکل شي، څو هغو نيمګړتياوو او تشو ته هم ځواب وويل شي چې په دغه اثر کې شتون لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اخځلیکونه

١-اباسین، مطیع الله: لرغوني مېنه، دافغانستان دطلاعاتو او فرهنګ وزارت بیهقی د کتاب خپرولو موسسه،١٣٨٨ل،ل.

٢- احمدزي ،حقیار،دفطرت زنګینه تابلو،دریمه ګڼه،ننګرهار،١٣٨٥ ل ل

٣- احمدي وردګ،ګل اغا،منې ګل مشاعره،نهمه کلیزه،صمیم ادبي ټولنه کابل ١٣٨٩ل ل

٤-ارشاد،اورنګزیب، د افغانستان د ولایتونو جغرافیه، خپرندویه ټولنه: د اریک د ګرځنده کتابتونونو اداره، کال١٣٧٩ه ل

٥-ارشاد،اورنګزیب،افغانستان پیژندنه،دانش خپرندویه ټولنه،کابل،١٣٩٠ل ل.

٦-امرخیل،عبدالقدیر: نرخ ولسوالی،د میدان وردګو عالی دارالمعلمین مونوګراف ١٣٩٠ل،ل.

٧-باوري پوهنوال رسول ،دوردګوولایت کې دلرغوني برم یوه بېلګه،وردګ جریده نهمه ګڼه ،غبرګولي ١٣٨٤ل ل.

٨-بختانی،عبدالله: دلیکوال او د ثیری،افغانستان د علومو اکادمی دولتی مطبعه١٣٦٥ل،ل.

٩-بېنوا، عبدالروف؛ اوسني لیکوال، دمطیع الله روهیال ترتیب او زیاتونې،بشپړ متن،علامه رشاد خپروندویه ټولنه، کندهار، ١٣٨٨ل کال.

١٠-تکل،احمد: کرونده شعري ټولګه، کابل دولتی مطبعه، ١٣٦٩ل،ل.

١١-جمال، اوږی دپښتو په معاصر ادب کې د روهي دریځ، دعلومو اکاډمی د خپرونو ریاست، شعیب مطبعه کابل، ١٣٨٨لمریز کال.

١٢-حبیبی،پوهاند عبدالحی،جغرافیای تاریخی افغانستان،دولتی مطبعه،١٣٦٧ل ل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۳-حلیمی، محمد حامد: وردګ(قوم، سیمه او کلتور)،بهیر چاپخونه کابل، ۱۳۸۷ل،ل.

۱۴-حقپال،محمدشفیق: د هیلو غوټۍ، خپرندویه ټولنه جیحون مطبعه،۱۳۸۳ل،ل.

۱۵-خپلواک، حسیب الله: د میدان ښار ځوان شاعران، د کابل ښوونی او روزنی پو هنتون مونوګراف، ۱۳۹۰ل،ل.

۱۶-څرګند، احمدزی: د احمدتکل، شاعري او فن، د کابل ښوونی او روزنی پوهنتون،مونوګراف، ۱۳۹۰ل،ل.

۱۷-دریځ، امین الله، افغانستان درقرن بیستم ، ، محل چاپ کتابخانه دانش ، پیښور ۱۳۷۹ سال هجری.

۱۸-د ښکارندوی غوری پر قصیده مشاعره، ټولوونکی ګل پاچا الفت، مدون او مرتب نصرالله ناصر، د چاپ ځای، دولتی مطبعه، ۱۳۶۲ه ش کال.

۱۹-د میدان وردګو ولایت او ولسوالیو پنځه کلن پرمختیایي پلان،د مشورو پایلي،د سیمه ایزو ارګانونو خپلواک اداری،د پالیسی ریاست،۱۳۹۰ل ل.

۲۰-رشاد،علامه اکاډیمیسن پوهاند عبدالشکور،جغرافیایي یاداښتونه،کندهار ولایت د اطلاعات او کلتور ریاست،۱۳۸۹ل ل.

۲۱-روهي، محمد صدیق: د پښتو ادبیاتو تاریخ دوهم ټوک، دانش خپرندویه ټولنه، پیښور،۱۳۸۴ ل ل.

۲۲-سپیڅلي،سهیلا،د میدان وردګو ولایت دود دستور، میوند مجله۱۳۸۷ل ل.

۲۳-سیدي، سید نظیم: لس کلن زیری(د زیری جریده الفبایی فهرست) د ختیزې سیمې لیکوالو او ژورنالیستانو خپلواکه ټولنه، ۱۳۹۱ل،ل.

۲۴-ضمیري، ګل آغا:د میدان وردګو ولایت ادبی بهیر، میوند خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۸ل،ل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۵-عارض پوهاندغلام جيلاني ،جغرافيايي ولايات افغانستان،پېښور، ۱۳۷۹ل ل.

۲۶-غبار،مير غلان محمد، د افغانستان تاريخي زمکپېژندنه، د مېوند نشراتي مرکز، صبا کتابتون-پېښور ښار، ۱۳۷۷ل ل.

۲۷-ګندهارا مجله، د ننګرهار فرهنګي ټولنې دوه مياشتنۍ خپرونه، دريالسمه او څوارلسمه ګڼې تله،ورغومی، ۱۳۷۹ل، ل.

۲۸- فروزي ،احمدفريد،(دکابل،لوګر،غزنی،پروان او وردګو)دشاعرانو او ليکوالانو تذکرې،حسيب مطبعه ،۱۳۸۵ه ل.

۲۹-مجاهد ،سرمحقق سيد امين ( (يادښتونه اوراټول کړاي شوي مالومات))،دميدان ځوانان خپرونه ۱۳۸٤ ،دوهمه ګڼه .

۳۰-مظلوميار، راز محمد: ستړی ژوند(خاطرې) ، ميوند خپرندويه ټولنې مطبعه، ۱۳۸۹ل،ل.

۳۱-ناصر، څيړنپوه نصر الله: د پښتو قاموس ليکنې تاريخچه، ميرويس خپرندوی مرکز پيښور، ۱۳۹۰ل، ل.

۳۲-نيازمند، عبدالله: وران کور شعري ټولګه، دانش خپرندوې ټولنې تخنيکي څانګه، ۱۳۸۱ل،ل.

۳۳-همت، اسد الله: د ميدان ولايت اقتصادی او اجتماعی اوضاع، مونوګراف د کابل پوهنتون اقتصاد پوهنځی، کتابخانی شميره F E C – ۱۲۸۴۴۶، ۱۳۵۳ل،ل.

۳۴-وفا، محمد داوود،د ادب په اسمان کې،دانش خپرندويه ټولنه، پيښور،۱۳۷۹ل ل.

۳۵-وفا، محمدداوود،ستوري دادب په لمن کي ،دانش خپرندويه ټولنه،پيښور، ۱۳۷۹ ه ل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۶-یـاد طـالبي،محقق ډاکټـر عبداللطیف،پښـتني قبیلې(شـجرې)،دانش خپرندویـه ټولنه،کابل۱۳۸۸ل ل.

**سرچینې:**


- **Layers Thematic & Afghanistan Geographic**
- **بـــــدلون،د میـــــدان وردګـــــو ولایـــــت د مقـــــام ،چـــــاپی او انترنیتی،اونیزه www.badlon.com,**
- **بېنوا،ویبپاڼه،ادبی معلومات، www.benwa.com**
- **ټول افغان، وېبپاڼه، ادبی معلومات، www. tolafghan.com**
- **د میـــدان وردګـــو ولایـــت ځـــانګړې ویبپاڼـــه،ادبی معلومـــات، www.mwardag.gov.afghanistan**
- **لرو او بر، پښتانه، ویبپاڼه، ادبی معلومات،www.Larawbar.com**
- د افغان ملت د ګوند وېبپاڼه – www.afghanmellat.org

(c) ketabton.com: The Digital Library

د میدان فرهنگي حوزه

محمد ایمل ابراهیم خیل

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۷۲

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**